د افغانستان اسلامي جمهوريت
د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا لوی رياست

# ټولنيز لوستونه

## اووم ټولګی

د ديني مدارسو لپاره





ټولنيز لوستونه- اووم ټولګی

١٣٩٨ هـ.ش

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پېرودل
او پلورل يې منع دي.
curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# ټولنیز لوستونه

## اووم ټولګی

(د دیني مدارسو لپاره)

۱۳۹۸ هـ.ش.

## مؤلفين:

مؤلف حسين احمدزی (د تاریخ برخه)

د مؤلف مرستیال ذبیح الله دشتي (د تاریخ برخه)

د مؤلف مرستیاله ذکیه امیري (د تاریخ برخه)

پوهاند غلام جیلاني عارض (د جغرافیې برخه)

سرمؤلف نجیب الله امین افغان (د جغرافیې برخه)

سرمؤلف محمد افضل حضرتي (د مدني زده کړو برخه)

سرمؤلف میر عبید الله فاضل (د مدني زده کړو برخه)

مؤلف محمد انور مشفق (د مدني زده کړو برخه)

## علمي او مسلکي ایډیټ:

پوهاند غلام جیلاني عارض

پوهنمل زلمي هوتک

پوهنیار محمد فاروق عمرخیل

## د ژبې ایډیټ:

شکیلا دوست

سهراب دیدار

میرویس ځدراڼ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحيم



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی        دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې        هر بچی يې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی        د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو        د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي        پاميريان، نورستانيان
براهوي دي، قزلباش دي        هم ايماق، هم پشه يان
دا هېواد به تل ځلېږي        لکه لمر پر شنه آسمان
په سينه کې د آسيا به        لکه زړه وي جاويدان
نوم د حق مو دی رهبر        وايو الله اکبر وايو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحيم

## د پوهنې د وزير پيغام

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على رسوله محمد و على آله و أصحابه أجمعين، أما بعد:

د پوهنې تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هېواد د اوسنيو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختيا کې بنسټيز او ارزښتمن رول لري.

تعليمي نصاب بايد د وخت په تېرېدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتياوو سره سم، هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې، بدلون او پراختيا ومومي.

د تعليمي نصاب په ډګر کې يو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی چې بيا کتنې او ودې ته يې جدي اړتيا ليدل کېده؛ ځکه له يوې خوا بايد د ديني مدرسو فارغان د ټولنې د معنوي مخکښانو په توګه د معارف د هڅو د پوره پام وړ وګرځي او له بلې خوا د ديني مدرسو په نصاب کې د اسلام د سپېڅلي دين عقايد، احکام او لارښوونې راغلې دي چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پيغام په توګه د قيامت تر ورځې پورې، د بشريت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاريخ په اوږدو کې د اسلامي معارف او د اسلامي تعليماتو د سيستم په رامنځته کولو، پراختيا او بډاينه، په تېره بيا د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او مؤسسو د تعليمي نصاب په تدريجي وده کې، خپله دنده سرته رسولې ده.

د اسلامي علومو تاريخ ته کره کتنه، دا څرګندوي چې د ديني مدرسو او علمي مرکزونو نصاب تل د اسلام د تلپاتې او ثابتو احکامو پر بنسټ، د ټولنې له اړتياوو سره سم، هر وخت او هر ځای پراختيا موندلې ده.

زموږ ګران هېواد افغانستان د علمي ځلانده تاريخ په درلودلو سره د علم او پوهې زانګو او د وخت لوی علمي مرکز و چې د اسلامي ستر تمدن په جوړښت کې يې مهم رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ډګرونو، په ځانګړې توګه د عقايدو، تفسير، حديث، فقهې او د فقهې د اصولو په څېر په شرعي علومو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون، زموږ ددې وينا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ويښتابه له پراختيا سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي زده کړو د څومره والي او څرنګوالي له مخې زيات بدلون موندلی او د هېواد کوچنيان او ځوانان په ډېره مينه او ليوالتيا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کوي.

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزارت د خپل مسؤوليت او دندې له مخې د هېواد له اساسي قانون سره سم د اسلامي زده کړو د کيفي او کمي پراختيا او په هغې کې د اسلامي زده کړو د نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

په دې لړ کې د پوهنې وزارت، د هېواد د ډاډ وړ تجربه لرونکو عالمانو، استادانو او متخصصانو څخه په بلنه د ديني مدرسو د تعليمي نصاب، د لا ښه کولو لپاره، مروج کتابونه، د متنونو د شرحې او توضيح او د فعاليتونو، ارزونو او تمرينونو په ورزياتولو د درسي کتابونو له نويو معيارونو سره سم چمتو کړل.

هيله من يم، د پوهنې وزارت د عالمانو او متخصصانو د ستاينې وړ دا هڅې، په افغانستان کې د اسلامي زده کړو د لا پراختيا او بډاينې او د لوی خدای جل جلاله د رضا د تر لاسه کولو لامل شي.

وبالله توفيق

دکتور محمد ميرويس بلخي

د پوهنې وزير

## مقدمه

### قدرمنو ښوونکو او ګرانو زده کوونکو!

د ديني مدارسو د اجتماعياتو درسي کتاب د افغاني ټولنې د اړتياوو، د معارف د محترم وزارت د پاليسي د نصاب د ليکنې فن او معاصرو ميعيارونو او درسي مفرداتو د افقي او عمودي تسلسل په پام کې نيولو سره ليکل شوي دي.

د ديني مدارسو د اجتماعياتو په مضمون کې پر تاريخي مطالبو سربېره د جغرافيې او مدني معلوماتو مفاهيم شتون لري، د تاريخ په برخه کې هڅه شوې چې د ديني مدرسو زده کوونکي د زده کړې په وخت د افغانستان او نړۍ د لرغوني تاريخ، منځنيو پېړيو، نوې پېړۍ او معاصرو پېښو سره پېژندګلوي او معلومات تر لاسه کړي او هم پدې پوه شي چې انسانانو په ټوله نړۍ په ځانګړې توګه په افغانستان کې کوم تاريخي پړاوونه تېر کړي دي او په راتلونکې کې ښايي څرنګه چلن وکړي.

د جغرافيې په برخه کې د علمي اړتياوو په پام کې نيولو سره علمي مطالب داسې توضيح شوي چې زده کوونکي د موقعيتونو، طول البلد، عرض البلد، غرونو، سيندونو، جهيلونو، بحرونو، کرنې، څارويو، معادنو، ځمکنې، بحري او فضايي ترانسپورت، اوبو او هوا، نژاد، ژبو، مذهب، لويو وچو او هيوادونو په اړه معلومات تر لاسه کړي چې د ژوند په سمون کې له هغه څخه ګټه پورته کړي.

د مدني معلوماتو په برخه کې د بشري ټولنو، ارزښتونو، مقرراتو او قوانينو، اعتقاداتو، اقتصاد، سازمانونو، ټولنو، جوړښتونو او د مادي او معنوي اړتياوو په اړه لازمي او اړين مطالب توضيح شوي چې زده کوونکي په ورځنيز ژوند کې ورڅخه ګټه پورته کولای شي.

د اجتماعياتو د مضمون د يوې بشپړې دورې (له اوم څخه تر دولسم ټولګي پورې) له زدکړې وروسته تمه کېږي چې د ديني مدرسو زده کوونکي د ټولنيزو علومو په مبادیو او اساساتو باندې پوه شي، د دې علم له مهمو اصطلاحاتو سره اشنايي تر لاسه کړي، د هيواد او نړۍ د ورځنيو پېښو په خبرونو وپوهېږي، سياسي اقتصادي او ټولنيزې پيښې تجزيه او تحليل کړای شي او نتيجه ورڅخه واخيستلای شي، او په دې توګه په ټولنه کې فعال غړي شي او د ديني او اجتماعي علومو په يو ځای کولو سره د خدای(ج) د دين ريښتيني او اغيزمن مبلغين ورڅخه جوړ شي.

هيله کېږي چې د دې مضمون محتويات د ديني مدرسو د استادانو لپاره په زړه پورې او زده کوونکو ته يې د ټولنيزو معلوماتو يوه ګټوره منبع وګرځي.

و الله ولي التوفيق

# د مطالبو لړلیک


| سرليکونه | مخونه |
| --- | --- |
| **د تاريخ برخه** | |
| لومړی څپرکی | ۱ |
| د لومړي څپرکي موخې | ۲ |
| د تاريخ علم اودهغه اهميت | ۳ |
| ماقبل تاريخ اوتاريخي دورې | ۵ |
| د سنوبدلول | ۷ |
| د افغانستان تاريخي نومونه | ۹ |
| **دويم څپرکی** | ۱۱ |
| د دويم څپرکي موخې | ۱۲ |
| لومړنی ټولنې اودهغودژوندانه حالت | ۱۳ |
| د اريايانولومړنی ټاټوبی | ۱۵ |
| د اريايانودژوندانه څرنګوالی | ۱۷ |
| د اريايانومهاجرت | ۱۹ |
| لوېديځ اوختيځ لورته مهاجرت | ۲۱ |
| د اريايانو مدنيتونه | ۲۳ |
| اوستايي مدنيت | ۲۵ |
| هخامنشيان | ۲۷ |
| پر افغانستان د مقدوني سکندريرغل | ۲۹ |
| موريايان | ۳۱ |
| ساکان | ۳۳ |
| د يونان-باختري خپلواک دولتونه | ۳۵ |
| د يونان-باختري د پېرهنري اوفرهنګي ځانګړتياوې | ۳۷ |
| د کوشانيانو امپراتوری | ۳۹ |
| د يفتليانوامپراتوری | ۴۱ |
| **د جغرافيې برخه** | |
| د جغرافيې مبادي | ۴۳ |
| جغرافيايي مفاهيم او اصطلاحات | ۴۳ |
| د استوا کرښه او اقليمي سيمې | ۴۵ |
| شمالي اوجنوبي قطب-عرض البلداوطول البلد | ۴۷ |
| د ځمکې وضعي او انتقالي حرکتونه | ۴۹ |
| **دويم څپرکی**:د افغانستان جغرافيه | ۵۱ |
| د افغانستان موقعيت او ځلور خواوې | ۵۱ |
| د افغانستان د اقليم په اړه څه پوهېږئ؟ | ۵۳ |
| د افغانستان مهم غرونه | ۵۵ |
| د افغانستان سيندونه | ۵۷ |
| د افغانستان د جهيلونو په اړه څه پوهېږئ؟ | ۵۹ |

| سرليکونه | مخونه |
| --- | --- |
| بشري جغرافيه | ۶۱ |
| د افغانستان اقتصادي جغرافيه | ۶۳ |
| طبي او صنعتي نباتات | ۶۵ |
| د افغانستان د مالداری څرځايونو او ځنګلونو | ۶۷ |
| د افغانستان د سون کاني مواد | ۶۹ |
| د افغانستان کانونه | ۷۱ |
| مواصلاتي جغرافيه | ۷۳ |
| په افغانستان کې صنايع او سوداګري | ۷۵ |
| دريم څپرکی- د آسيا لويه وچه | ۷۷ |
| د آسيا د لوېې وچې، موقعيت او ځلور خواوې | ۷۷ |
| د آسيا د لوېې وچې جهيلونه، سمندرګي او خليجونه | ۷۹ |
| د آسيا د لوېې وچې اقليم | ۸۱ |
| د آسيا د لوېې وچې د هېوادونو لست | ۸۳ |
| **د مدني زده کړې برخه** | |
| **لومړی څپرکی** | |
| اړتياوې څه شی دي؟ | ۸۷ |
| معنوي اړتياوې | ۸۹ |
| پېژندنې ته اړتيا | ۹۱ |
| ځان پېژندنه | ۹۳ |
| د طبيعت پېژندنه | ۹۵ |
| د خدای (ج) پېژندنه | ۹۷ |
| ټولنيزو اړيکو او مناسباتو ته اړتيا | ۹۹ |
| ولې درناوي ته اړتيا لرو؟ | ۱۰۱ |
| **دويم څپرکی** | |
| د کورنۍ پيدايښت | ۱۰۵ |
| کورنۍ ته ولې اړتيا لرو؟ | ۱۰۷ |
| په کورنۍ کې د مسؤوليت احساس | ۱۰۹ |
| په کورنۍ کې مرسته | ۱۱۱ |
| سلا مشوره | ۱۱۳ |
| په کورنۍ کې نظم | ۱۱۵ |
| په کورنۍ کې يو بل ته درناوی | ۱۱۷ |
| په کورنۍ کې ځان تېرېدنه | ۱۱۹ |
| د څپرکي لنډيز | ۱۲۰ |

# لومړی برخه تاریخ

## لومړی څپرکی

دا څپرکی لاندې لوستونه لري:

۱- د تاریخ علم او د هغه اهمیت.

۲- ماقبل التاریخ او تاریخي دورې.

۳- د سنو بدلول.

۴- د افغانستان تاریخي نومونه.

# د لومړي څپرکي موخې

۱- زده کوونکي به د تاريخ په تعريف، د تاريخ اهميت، ماقبل التاريخ او تاريخي په دورو وپوهېږي.
۲- زده کوونکي به د سنو د بدلولو وړتيا تر لاسه کړي.
۳- زده کوونکي به د افغانستان له تاريخي نومونو سره بلدشي.
٤- زده کوونکي به د افغانستان تاريخي نقشې رسم کړای شي.
٥- وکولای شي چې د نقشې پر مخ سيمې او ځايونه ښکاره کړي.

# د تاریخ علم او د هغه اهمیت



په دغه لوست کې به زده کوونکي د تاریخ له تعریف او د تاریخ د علم له ارزښت سره بلدېږي.

## د تاریخ پېژندنه

تاریخ هغه علم دی چې تېرې پېښې د وخت او ځای په قید کې څرګندوی. د تېرو پېښو په اړه وخت او ځای ته پام کول، تاریخ له کیسو څخه بېلوي. هره پېښه چې په ټاکلي وخت او مشخص ځای کې پېښه شوې وي، یوه تاریخي پېښه ده، د بېلګې په توګه: د بدر غزا چې د هجرت په دویم کال د روژې په مبارکه میاشت کې د مدینې په ۱۵۰ کیلو مترۍ کې پېښه شوه، یوه تاریخي پېښه ده. دا د تاریخ د علم دنده ده چې د دغې پېښې په اړه موږ ته معلومات راکړي.

پوهېږو چې انسانانو او بشري ټولنو بېلا بېل پړاوونه تېر کړي، لوړې او ژورې یې تر شا پرېښې او نننی حالت ته رسېدلي دي. دغه ټول پړاوونه او پېښې چې د وخت په اوږدو کې په بېلابېلو سیمو کې پېښې شوي، د مورخینو له لورې لیکل شوي دي. د مورخینو دغو لیکنو ته تاریخ وایي.

## د تاریخ اهمیت

۱- تاریخ موږ، له تېرو پېښو څخه که ښې وي او که بدې، خبروي چې له هغو څخه د ژوند د ښه والي لپاره ښه پند واخلو.

۲- تاریخ موږ د بشري ټولنو د پرمختګ له لاملونو څخه خبروي ،

۳- د دولتونو د له منځه تللو لاملونه را پېژني،

۴- تاریخ د راتلونکو نسلونو د ذهنونو روښانوونکی دی،

۵- تاریخ د غوره ژوند لپاره لارښوود دی.

۶- تاریخ موږ له تېرو پېښو څخه خبروي.

۷- تاریخ له ټولو تمدنونو او ملتونو سره د پېژندګلوۍ وسیله ده.

۸- تاریخ د انسانانو پېژندنه ده،

۹- تاریخ د کلتوري میراثونو د ساتنې له څرنګوالې سره بلدتیا ده.

۱۰- تاریخ د مشرانو او پوهانو پېژندګلوي ده.

زده کوونکي دې په هره کړۍ کې د خپلې سیمې د پېښو تاریخ په پنسل سره ولیکي.



### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې تاریخ تعریف او دویمه ډله دې د تاریخ اهمیت څرګند کړي.

### پوښتنې

۱- تاریخ څه ته وایي؟

۲- تاریخ پوه کومه دنده تر سره کوي؟

۳- د تاریخ اهمیت څه دی؟

### له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د تاریخ د تعریف په اړه له مشرانو او پوهانو څخه معلومات تر لاسه کړي او په ټولګي کې دې ولولي.

# ماقبل التاریخ او تاریخي دورې




په دې لوست کې به زده کوونکي د ماقبل التاریخ او تاریخي دورو او د نوموړو دورو د ځانګړتیاوو په اړه معلومات تر لاسه کړي.

مؤرخین د انسانانو د ژوندانه تاریخ په دوو دورو وېشي، له تاریخ څخه وړاندې دوره او تاریخي دوره. له تاریخ څخه وړاندې دوره د انسانانو او بشري ټولنو د پیدایښت له مهاله پیل او د لومړنیو مدنیتونو او په ځانګړې توګه د خط او کتابت تر دود کېدو پورې دوام پیدا کوي. تاریخي دوره د خط او کتابت له رامنځته کېدو څخه پیل شوې او تر دې مهاله ادامه لري.

د ځمکې پر مخ د انسانانو له ژوندانه څخه ډېر کلونه تېر شول. تر هغه چې د خط او لومړنیو مدنیتونو په رامنځته کېدو بریالي شول. د انسانانو او انساني ټولنو دغه اوږد عمر پېژندنې ته اړتیا لري. د لرغونپوهنې پوهان کولای شي چې د انسانانو د ژوندانه د دې اوږدې دورې په روښانولو کې له موږ سره مرسته وکړي.

پوهانو دغه اوږده دوره په نورو دورو وېشلې. د انسانانو د ژوندانه تر ټولو پخوانۍ دوره یې د ډبرو د دورې (Stone age) تر سر لیک لاندې یاده کړې. په دې اوږده دوره کې چې زرګونو کلونو ته رسېږي، انسانانو له ډبرینو وسایلو او توکو څخه ګټه اخیستله او په سمڅو کې یې ژوند کاوه. د ځارویو له پوستکو څخه یې جامې جوړولې، ښکار یې کاوه او میوې یې را غونډولې.

دویمه دوره یې د برونزو د دورې(Bronz age) په نامه یاده کړې. برونز د مسو او قلعي یو ترکیبي فلز دی. انسانانو په دې دوره کې د لومړي ځل لپاره په کار کې له فلز څخه ګټه واخیستله. د دغه مهال انساني ټولنو د

ښاروېو د روزنې تر څنگ د نباتاتو له کرنې د بوټو د اېښودلو او د میوه لرونکو ونو د ساتنې له لارو چارو سره هم بلدتیا درلوده. د اوسېدو لپاره یې دایمي استوگنځایونه جوړول او په نومورې دوره کې صنعت هم ډېر ارزښت درلود. له تاریخ څخه د وړاندې دورې درېمه دوره یې د اوسپنې د دورې ( Iron age ) په نامه یاده کړې. انساني ټولنې له اوسپنې څخه گټې اخیستنې د مدنیت پړاوته ورسولې. له اوسپنیزو وسایلو څخه په بېلابېلو برخوکې گټه اخیستل کېده. د کار وسایل، زینتي توکي او د تفریح وسایل یې له اوسپنې څخه جوړول. د دغه مهال انساني ټولنو د ښاروېو پر ساتنې، کرنې او بڼوالۍ(باغدارۍ) سر ببره، صنعت ته هم د یوې بېلې دندې په توگه وده ورکړې وه. په دې دوره کې اداري او سیاسي نظامونه منځته راغلل او د امپراتوریو د جوړېدو لپاره لار هواره شوه.

تاریخ پوهانو هم د لرغونپوهانو په څېر تاریخي دوره د لومړنیو پېړیو، منځنیو پېړیو، نوو پېړیو او معاصرو پېړیو تر سر لیکونو لاندې وېشلې ده.

**لومړنۍ پېړۍ**: دغه دوره د لیک له رامنځته کېدو څخه چې شا او خوا له میلاد څخه ۳۰۰۰ کاله وړاندې رامنځته شو، پیل او تر پنځمې میلادي پېړۍ پورې دوام کوي.

**منځنۍ پېړۍ**: منځنۍ پېړۍ له پنځمې میلادي پېړۍ څخه پیل او تر پنځلسمې میلادي پېړۍ پورې دوام کوي.

**نوې پېړۍ**: نوې پېړۍ له پنځلسمې میلادي پېړۍ څخه پیل او تر اتلسمې میلادي پېړۍ پورې دوام کوي.

**معاصرې پېړۍ**: معاصره پېړۍ له اتلسمې میلادي پېړۍ ( د فرانسې لوی انقلاب) څخه پیل او تر دې مهاله دوام لري.

د یادونې وړ ده چې دغه وېش د تقسیماتو یوه بېلگه ده چې د مورخینو له لورې وړاندې شوې. په دغه وېش کې تر ډېره د اروپایي هېوادونو پېښې په پام کې نیول شوې دي.

## په ټولگي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې له تاریخ څخه د وړاندې مهال د دورو نومونه واخلي او دویمه ډله دې د دغو دورو ځانگړتیاوې په ټولگي کې څرگندې کړي

## پوښتنې

۱- د ډبرو په عصر کې انسانانو د کار وسایل له کومو موادو څخه جوړول؟

۲- د برونزو فلز څه شی دی، څرگند یې کړئ؟

۳- د اوسپنې د عصر انسانانو کومې دندې درلودې؟ روښانه یې کړئ.

۴- تاریخي دورې کومې دي؟ نومونه یې واخلئ.

## له ټولگي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې په خپلو کورونو کې د اوسپنې، برونزو او ډبرو وسایل لست او په ټولگي کې دې څرگند کړي.

# د سنو بدلول

په دغه لوست کې به زده کوونکي د سنو د ډولونو او په یو بل باندې د بدلولو د څرنګوالي په اړه معلومات تر لاسه کړي.

سنې او کلیزې، پر وخت د پوهېدو او د وخت د وېش لپاره غوره لاره ګڼل کېږي. په افغانستان کې درې ډوله سنې دود دي چې د هجري شمسي، هجري قمري او میلادي سنو په نومونو یادېږي. د شمسي او قمري سنو پیلامه (مبداء) د حضرت محمد(ﷺ) هجرت او د میلادي سنې پیلامه د حضرت عیسی(علیه السلام) زېږېدنه ده. د افغانستان په رسمي او دولتي چارو کې له هجري شمسي سنې څخه ګټه اخیستل کېږي. په ځینو مهمو مذهبي مناسباتو کې، لکه: د روژې میاشت، اخترونو، او ځینو نورو ورځو کې له هجري قمري سنې څخه کار اخیستل کېږي.

یو هجري شمسي کال دوولس میاشتې او ۳۶۵ ورځې دی. هجري قمري کال هم دوولس میاشتې دی، خو د ورځو شمېر یې ۳۵۴ ته رسېږي. د شمسي او قمري سنو تر منځ توپیر یوولس ورځې دي، په دې اساس په قمري سنه کې هر ۳۳ کاله وروسته یو کال اضافه کېږي.

## د سنو بدلول

که وغواړو چې شمسي سنه پر قمري بدله کړو، شمسي سنه پر ۳۳ وېشو او حاصل یې له شمسي سنې سره جمع کوو چې په پایله کې قمري سنه لاس ته راځي.

د شمسي او میلادي سنو تر منځ توپیر ۶۲۱ کاله دی، خو د یادونې وړ ده چې د کال په وروستیو دریو میاشتو کې د دغو سنو تر منځ توپیر ۶۲۲ کاله وي.

که وغواړو چې شمسي سنه په میلادي سنې بدله کړو، ۶۲۱ له شمسي سنې سره جمع کوو. په دې ډول میلادي سنه لاسته راځي او که وغواړو چې میلادي سنه په شمسي بدله کړو، ۶۲۱ له میلادي سنې څخه منفي کوو چې په پایله کې شمسي سنه په لاس راځي.

د بیلګې په توګه: د احمد د زیږېدنې کال ۱۳۵۵ هجري شمسي دی. دا تاریخ په لاندې ډول په قمري او میلادي سنو اړوو.

۱- د احمد د زیږېدنې کال ۱۳۵۵ هـ ش
په هجري قمري سنې د اړولو لاره.

۱۳۵۵ هجري شمسي
+ ۴۱
۱۳۹۶ هجري قمري

| | |
|---|---|
| ۱۳۵۵ | ۳۳ |
| ۱۳۲ | ۴۱ |
| ۰۰۳۵ | |
| ۳۳ | |
| ۲ | |

۲- په میلادي سنې د اړولو لاره.

۱۳۵۵هجري شمسي
+ ۶۲۱
۱۹۷۶میلادي

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې واك ته د احمد شاه بابا د رسېدو تاریخ (۱۷۴۷م) په هجري شمسي او قمري سنو او دویمه ډله دې د افغانستان د خپلواکۍ تاریخ (۱۲۹۸هـ. ش) په قمري او میلادي سنو واړوي.

## پوښتنې

۱- په افغانستان کې څو ډوله سنې دود دي، نومونه يې واخلئ.؟
۲- اوس مهال د شمسي او قمري سنو تر منځ توپير څو کاله دی؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د خپلې زیږېدنې نېټه په قمري او میلادي سنو واړوي او د هغو پایله دې په ټولګي کې ولولي.

# دافغانستان تاريخي نومونه




په دغه لوست کې زده کوونکي د افغانستان له تاريخي نومونو سره آشنايي پيدا کوي.

## اريانا

زموږ د هېواد تر ټولو پخوانی نوم آريانا و چې شا او خوا له ميلاد څخه (۲۵۰۰ سال ق. م) کاله وړاندې دغې سيمې ته د اريايانو له راتګ سره پرې نومول شوی او د نجيب، شريف، مېلمه پا ل، کروندګر، د ښې روېې درلودونکي او د اريايانو د اوسېدو د ځای په معنا ياد شوی.

اريايان هغه وګړي وو چې له ميلاد څخه (۲۵۰۰ ق . م) کاله وړاندې د امو سيند له ها خوا څخه د نفوس د ډېروالي او د ځای او څر ځايونو د کمښت له امله افغانستان ته راوکوچېدل. د هندوکش په دواړو غاړو کې مېشته شول او په دغه هېواد کې يې د دولت بنسټ کېښود. اريانا د اوستا له دورې (۱۰۰۰ ق. م) څخه تر پنځمې ميلادي پېړۍ د هېواد نوم و.

## خراسان

د خراسان کلمه له دوو نومونو څخه جوړه شوې چې خور د (لمر) په معنا او سان د (راختلو) په معنا دی، يعنی هغه ځای چې لمر يکې راپورته کېږي. همدارنګه د ختيځې سيمې په نامه هم ياده شوې.

د خراسان نوم په پنځمه ميلادي پېړۍ کې د يفتليانو له خوا دغه هېواد ته ورکړل شو او تر اتلسمې ميلادي

پېړۍ پورې، يعنې د احمد شاه بابا له خوا د افغانستان د نوي دولت تر رامنځته کېدو پورې يې دوام وکړ. دغه نوم يونيم زره کاله د هېواد نوم و.

## افغانستان

څرنگه چې مخکې يادونه وشوه، زموږ هېواد د تاريخ په اوږدو کې په مختلفو نومونو ياد شوی دی. د افغانستان نوم په اتلسمه ميلادي پېړۍ کې د احمد شاه بابا له خوا دغه هېواد ته ورکړل شو.

### په ټولگي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دريو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د اريانا، دويمه ډله دې د خراسان او درېمه ډله دې د افغانستان د نوم په اړه معلومات وړاندې کړي.

### پوښتنې

۱ - افغانستان د تاريخ په اوږدو کې په کومو نومونو ياد شوی دی؟
۲ - د آريانا کلمه څه معنا لري؟
۳ - د يو هېواد نوم څه مفهوم ورکوي؟

### له ټولگي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د خپلې سيمې د تاريخي نومونو په اړه له مشرانو او پوهانو څخه پوښتنې وکړي او خپل معلومات دې په ټولگي کې وړاندې کړي.

# دویم څپرکی

دا څپرکی لاندې لوستونه لري:

١- لومړنۍ ټولنې او د هغو د ژوندانه حالت.

٢- د اریایانو لومړنی ټاټوبی.

٣- د اریایانو د ژوندانه څرنګوالی.

٤- د اریایانو مهاجرتونه.

٥- د ختیځ او لویدیځ په لور مهاجرت

٦- ویدي مدنیت.

٧- اوستایي مدنیت.

٨- هخامنشیان.

٩- پر افغانستان د مقدوني سکندر یرغل.

١٠- موریایان.

١١- ساکان.

١٢- یونان - باختري خپلواک دولت.

١٣- دیونان - باختري دورې کلتوري ځانګړتیاوې.

١٤- دکوشانیانو امپراطوري.

١٥- دیفتلیانو امپراطوري.



# د دويم څپرکي موخې

۱- زده کوونکي به د لومړنيو ټولنو، آريايانو او د هغو له مدنيتونو سره بلد شي.

۲- زده کوونکي به په افغانستان کې د پرديو د ولکې په اړه معلومات تر لاسه کړي.

۳- زده کونکي به د يونان - باختري دولت د رامنځته کېدو څرنګوالی او د هغو کلتوري لاسته راوړنې څرګندې کړای شي.

٤- زده کوونکي به د کوشانيانو او يفتليانو له امپراطوريو سره پېژندګلوي پيدا کړي.

٥- زده کوونکي دې د هخامنشيانو د مهال پيښې تحليل، پر افغانستان باندې د مقدوني سکندر د سوقياتو په لاملونو باندې پوه او د موريايانو د پېر له ځانګړتياوو سره بلد شي.



# لومړنۍ ټولنې او د هغو د ژوندانه څرنګوالی

په دغه لوست کې زده کوونکي د لومړنیو ټولنو له څانګړتیاوو، د ژوندانه د حالت د څرنګوالي او د لومړنیو ټولنو د عقایدو او افکارو په اړه معلومات تر لاسه کړي.

د انساني ټولنې د رامنځ ته کېدو سره، بشري ټولنې ډېر ساده ژوند درلود. هغه مهال چې مهم اختراعات نه وو رامنځته شوی، د طبیعت په اړه د انسانانو پوهه ډېره لږه وه. انسانانو په طبیعت کې ډېر سخت ژوند تېر کړی دی.سمڅو ته په پناه وړلو او د پایښت لپاره د هلو ځلو په کولو سره انسانانو وکولای شول چې ځانونه له نویو شرایطو سره عیار او خپل ژوند ته ادامه ورکړي.

په پیل کې انسانانو له ژوو(حیواناتو) ښکار او ځنګلي میوو څخه په ګټې اخیستنې سره خپل ژوند ته دوام ورکاوه. د ښکار یو له پوستکو څخه یې د خپل بدن د پوښلو په موخه کار اخیست او د غرونو په لمنو کې یې په شته سمڅو او غارونو کې ژوند کاوه چې د سړو او وحشي ژوو له ګواښ څخه په امن کې و اوسي. له ځان څخه د دفاع او د ښکار لپاره به یې له ډبرو څخه ګټه اخیستله. د وخت په تېرېدو سره انسانانو ډول ډول او یو څه پر مختللي توکي او لوښي جوړ کړل. د ډبرو په توږلو سره یې بېلابېل توکي لکه: نیزه ، تبر او تر څخ جوړول. پر ډبرو سر بېره یې د ښکار یو له هډوکو او د ونو له لرګیو څخه هم د بېلابېلو توکو د جوړولو لپاره کار اخیست.

د اور کشف د انسانانو له لومړنیو او مهمو اختراعاتو څخه و چې د انسانانو په ژوند کې یې بدلون راوست او یخنۍ یې په تودوخه او تیاره یې په رڼا بدله کړه، چې په پایله کې د انسان وېره له وحشي او ناپېژندل شوي طبیعت څخه لږه شوه. دکرنې دود د لومړنیو انسانانو په ژوند کې تر ټولو مهم بدلون و، ځکه چې ګډ ژوند د خواړو د زېرمې، د کار د وېش او د منظمو ټولنو د رامنځته کېدو لپاره لاره هواره کړه. د انسانانو ګډ ژوند دکور جوړولو د ډول ډول لوښو، ټوټو او خاورینو لوښو د جوړولو، د پراختیا لامل وګرځېد او په وروستیو دورو کې یې د سترو تمدنونو د رامنځته کېدو لپاره لاره هواره کړه.

په پیل کې انسانانو د یو خدای(ج) عبادت کاوه، خو څه مهال وروسته یې ځینې له سمې لارې کاږه او مشرک شول. څېړونکي له تاریخ څخه په وړاندې دوره کې د بتانو د عبادت او د کوډو له دود څخه هم کیسه کوي.

د لومړنیو ټولنو وګړي له عقیدتي پلوه دیندار او په خپلو دیني احکامو ولاړ وو. که څه هم د دوی عقاید یوازې خرافات وو، خو له مړینې وروسته یې په ژوندي کېدلو یعنې په بلې نړۍ باور درلود. له همدې امله یې د مړو د ښخولو پر مهال له هغو سره په قبر کې خوراک او اړین وسایل ایښودل. هغوی اور ته هم ډېر درناوی درلود او هغه یې سپېڅلی باله .

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د لومړنیو انسانانو د ژوندانه د څرنګوالي په اړه او دویمه ډله دې د هغو د عقایدو او افکارو په اړه په ټولګي کې معلومات وړاندې کړي.

## پوښتنې

۱ - لومړنیو انسانانو له څه شي څخه د خوراک لپاره ګټه اخیستله؟

۲ - دلومړنیو ټولنو انسانانو چېرته ژوند کاوه؟

۳ - لومړنیو انسانانو د کومو وسایلو په مرستې سره خپلې اړتیاوې پوره کولې؟

۴ - د لومړنیو انسانانو دین او مفکورې څنګه وې؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د پخوانیو انسانانو د ژوند په اړه له پوهانو او کتابونو څخه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د آریایانو لومړنی ټاټوبی



دلرغونی بلخ ( ام البلاد )دپاتې ودانیوانځور

په دې لوست کې به د آریایانو د لومړني ټاټوبي سره په لنډه توګه پېژندګلوي ترلاسه کړو.

آریایي قومونه له سپین نژاد څخه دي او د سپین پوستو قومونو یوه لویه برخه جوړوي.

پوهانو د اریایانو د اصلي ټاټوبي په اړه بېلابېل نظریات وړاندې کړي، یو شمېر یې لومړنی استوګنځی د بالتیک سمندرګی او څېنې یې چیني، ترکستان او پامیر بولي. د پوهانو یوه بله ډله د دغو قومونو اصلي او لومړنی ټاټوبی د اورال د غرونو لمنې ګڼي. د سایبریا سوېل او د ځینو په اند د سیحون او جیحون سیمې د آریایي قومونو لومړنی استوګنځی دی. د آریایي قومونو د اصلي ټاټوبي په اړه کره معلومات نشته، خو هغه څه چې روښانه دي هغه دا دي چې لرغوني افغانستان ته آریایان د امو سیند او سیر سیند له هغې غاړې څخه رالېږدیدلي دي. وروسته له هغه چې آریایان له خپل اصلي ځای (آریانه ویجو) څخه د هوا د سړښت او ځینو نورو لاملونو له امله کډه شول، ورو ورو د سغد او مروې له لارې باختر (بلخ یا بخدي) ته راغلل.

د آریایانو د پېژندنې لپاره ویدي سرودونه تر ټولو لومړنی او مهمې سر چینې دي. په ویدي سرودونو کې

د آريايي قبايلو په اړه ډېر معلومات شته. آريايانو خپل استوګنځی (اريانه ويجه) يا (آريانا ورشه) نوماوه. په ويدي سرودونو کې د الينا په نامه د يوې قبيلې يادونه شوې چې د لغمان د نني الينګار اوسيدونکي دي. همدا رنګه د بولان اوسېدونکي يې د (بهالانه) په نامه يادکړي دي. په ويدي سرودونوکې د اريايانو تر واک لاندې سيمې هم يادې شوي چې د بېلګې په توګه هريوا (هرات)، هراوتی (دهراوت) او بلهيکه (بلخ) يادولی شو.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د آريايانو د لومړني ټاټوبي په اړه د پوهانو د نظرياتو او دويمه ډله دې د آريايانو اړوند د ويدي سرودونو په اړه په ټولګي کې معلومات وړاندې کړي.

## پوښتنې

۱- د آريايانو لومړنی استوګنځی چېرته و؟
۲- بلخ ته د اريايانو د کوم کېدو لامل څه و؟
۳- آريايان څرنګه بلخ ته راغلل، څرګند يې کړئ؟
۴- آريايانو خپل استوګنځی په کومو نومونو يادولو، ويې ليکئ؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د آريايانو د لومړني ټاټوبي په اړه معلومات وليکي او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د اریایانو د ژوندانه څرنګوالی



د آریایانو د ژوندانه د څرنګوالي انځور

**په دغه لوست کې زده کوونکي د آریایانو د لومړني ټاټوبي، نژاد او افغانستان ته دهغوی د راتګ په اړه معلومات تر لاسه کړي.**

آریایان په پیل کې پووندہ ژوند درلود. په بلخ کې له مېشت کېدو وروسته یې ښاري ژوند ته مخه کړه. هغوی کورنی نظام درلود او کورنی ته یې (کولا ) ویل. له څو کولاوو څخه یوه قبیله او له څو قبیلو څخه یو قوم جوړېده چې مشر ته یې (ویس پاتي) ویلې. څو ویس پاتي د پاچا په واسطه چې هغه ته یې راجا ویل، اداره کېدل. د خپلې استوګنې ځای ته یې (پور) ویلې. آریایانو په بلخ یا بخدي کې د لومړني مدنیت بنسټ کېښود. د بلخ ښار یې خپل مرکز وټاکه او لوړ کورونه یې ودان کړل. له ښار څخه د دفاع په موخه یې پلن دیوالونه اوګڼ شمېر برجونه جوړ کړل چې نښې نښانې یې تر دې مهاله تر سترګو کېږي.

آریایانو د څارویو په روزنې او ساتنې، کرنې او بڼوالی (باغداری) پیل وکړ. ډول ډول ګلان یې روزل او د میوو ونې یې کېنولې. د کال لومړۍ ورځ یې لمانځله چې د نوروز په نامه یادېږي.

د آریایانو له مشهورو جشنونو څخه یو هم د (سامانه) په نامه یادېږي.په دې جشن کې به ځوانان په اسونو سپرېدل. د نیزې وهنې لوبه او نڅا به یې کوله.په ویدي عصر کې به بېلابېلو ارباب الانواعو باور درلود. سره له دې چې د بېلابېلو خدایانو عبادت یې کاوه، خو په یو خدای یې هم عقیده درلوده.

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د آریایانو د جشنونو په اړه او دویمه ډله دې د آریایانو د کورنۍ د نظام په اړه معلومات وړاندې کړي.

### پوښتنې

۱- آریایانو خپل د اوسېدو ځای په کوم نامه یاداوه؟
۲- آریایانو په کوم ښار کې د لومړني مدنیت بنسټ کېښود؟
۳- د آریایانو د ټولنیزې وضعې په اړه معلومات وړاندې کړئ؟

### له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د آریایانو د ژوندانه د څرنګوالي په اړه له کتابونو څخه معلومات تر لاسه کړي او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د آریایانو مهاجرت



د اریایي مهاجرتونو انځور

په دغه لوست کې د نړۍ بېلابېلو سیمو ته د آریایانو د مهاجرت د لاملونو په اړه معلومات تر لاسه کوئ.

لکه چې څرګنده ده. آریایانو ډېره موده د هندوکش په شمال کې د بلخ په ولایت کې ژوند کاوه. هغوی په خپل ټولنیز ژوند کې ډېر پرمختګ کړی وو. په ښارونو کې ګڼه ګوڼه ډېره وه. د څارویو لپاره کافي څړ ځایونه، نه وو، له دې امله د باختر آریایانو په مهاجرت پیل وکړ. شاوخوا له میلاده ۲۰۰۰ کاله وړاندې اریایي کورنۍ او قبیلې ډلې ډلې د لوېدیځ، سوېل او ختیځ په لورو وکوچېدلې.

د اریایانو یوې ډلې د لوېدیځ لور ته حرکت وکړ. لومړی ایران، وروسته ترکیې او په پای کې اروپایي هېوادونو ته ورسېدل. بلې ډلې د سویل ختیځ لور ته مخه کړه. لومړی شمالي هند او بیا د هند مرکزي سیمو ته ورسېدل. هغه آریایان چې د هندوکش په دواړه غاړو کې پاتې شول، په ترتیب سره یې په لرغوني افغانستان کې (ویدي او اوستایي) مدنیتونه یو پر بل پسې رامنځته کړل.

## د آریانا په داخل کې مهاجرت

د وګړو د شمېر د ډېروالي له امله د باختر اریایي قبایل د هندوکش له غره تېر شول او د نوموړي غره په سوېلي برخو کې دهېواد په ختیځو دروکې مېشت شول. دغه کډوال کله چې له هندوکش څخه تېر شول،

دکاپیسا حوزې ته ننوتل او د کابل، تګاب، لغمان او کونړ له لارې تر سند پورې استوګن شول. همدارنګه یو شمېر اریایانو له باختر څخه د لوېدیځ په لور حرکت وکړ او د هېواد په لوېدیځو او سوېلي ولایتونو کې ځای پر ځای شول. بله ډله له کابل څخه د سپین غره او کورمې، ګومل او ځینو نورو سیمو په لورې لاړل او یوه ډله یې په ارغنداب کې ځای پر ځای شوه.

له باختر څخه د اریایانو نورې ډلې، چې د لوېدیځ په لور یې حرکت کړی و، په میمنې، اندخوی او د هریرود په دښته کې سره بېلې او د ارغنداب او هلمند په دښتو کې استوګن شول. دغه ټول کورني مهاجرتونه له میلاد وړاندې تر (۱۹۰۰ – ۱۴۰۰ق.م) کلونو پورې تر سره شوي دي.

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د نړۍ بېلابېلو برخو ته د آریایانو د مهاجرت په اړه او دویمه ډله دې د آریانا په داخل کې د اریایانو د مهاجرت په اړه په ټولګي کې معلومات وړاندې کړي.

### پوښتنې

۱- د آریایانو کورني مهاجرتونه په کومو کلونو کې تر سره شوي دي؟
۲- د آریایانو د مهاجرت لامل ولیکئ؟
۳- لوېدیځ لور ته د آریایانو د مهاجرت په اړه معلومات ولیکئ؟

### له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د آریایانو د مهاجرت په اړه له کتابونو څخه معلومات تر لاسه کړي او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# لوېدیځ او ختیځ لور ته مهاجرت

په دغه لوست کې ختیځ او لوېدیځ لور ته د آریایانو دمهاجرت د څرنګوالي په اړه معلومات ورانديږ کېږي.

**الف- ختیځ لور ته مهاجرت**: له میلاده شاو خوا (۱۵۰۰ ق. م) کاله وړاندې د آریایي قبایلو یوې ډلې باختر پرېښود او له خپلو رمو سره یې له غرونو او درو څخه د څړځایونو په لټه کډوال شول. هغوی ورو ورو ننني کابل ته ورسېدل. د کابل سیند له لارې ګندهارا ته او بیا له هغه ځایه شمالي هند ته ننوتل او ددغه هېواد اصلي وګړي یې تر خپلې ولکې لاندې راوستل. آریایانو په هند کې د واکمنۍ واحد سیستم رامنځته نه کړ، بلکې هرې قبیلې یوه کوچنۍ سیمه د ځان لپاره غوره کړه. کله چې په هند کې د بومي(پخوانیو) اوسېدونکو سره مخ شول، هغوی یې د (داسیو) په نامه ونومول. د هند وګړو هغوی پردي ګڼل او کرکه یې تري کوله. له دې امله یې له هغو سره سختې جګړې وکړې او د سوېل لور ته یې پرشا کړل. د دغو قبیلو تر ټولو مشهوره د بهاراته قبیله وه چې وروسته مهابهاراته یعنې ستر بهاراتیان ونومول شول. اریایانو خپل نوی هېواد بهاراتا ورشه ونوماوه یعنې د بهاراتیانو ځړ ځای چې دا دهند لومړنی ملي نوم دی. له دغو آریایانو څخه د (ویدا) په نامه یو کتاب هم پاتې دی چې د آریایانو په اړه موږ ته معلومات راکوي. هند ته د آریایانو د کډوالۍ بهیر تر (۱۵۰۰ ق. م) کاله دوام درلود. آریایانو له۱۵۰۰ تر ۱۲۰۰ ق. م کالو پورې په هند کې ډېرې واکمنۍ رامنځته کړې دي.

**ب- لوېدیځ لورته د آریایانو مهاجرت**: د هند لورته د آریایانو د مهاجرت هم مهاله د آریایانو یوه ډله د هلمند او هرات له لارې د فارس هېواد ته ننوتل. له دغووګړو څخه یو شمېر د فارس په شمال لوېدیځ کې استوګن شول چې د (ماد هاوو) په نامه یاد شول او یو شمېر یې د فارس له سوېل لوېدیځ څخه د فارس خلیج ختیځ ته مهاجر شول چې د (فارسیانو) په نامه یاد شول. له همدې امله تر وروستیو کلونو پورې د ایران واکمنې د فارس په نامه یادېده.

د آریایي مهاجرینو دا دواړې ډلې چې له خپل اصلي ټاټوبي څخه بېلې شولې او د لوېدیځ او ختیځ

لور ته لاړې له پردیو عناصرو سره یې دایمې اړیکې پیدا کړې او له هغو سره ګډ او منحل شول. تر یو مهاله د ماد او فارس قبیلو په ایران کې له یو بل څخه جلا د خپلو آریایي مشرانو تر مشرۍ لاندې ژوند کاوه. له دې امله چې هغوی څه موده د اشوریانو تر سیاسي اغېز لاندې وو، نو له سامي نژاد سره یې ډېر ورته والی پیدا کړ.

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې ختیځ لور ته د آریایانو د مهاجرت په اړه او دویمه ډله دې لوېدیځ لور ته د آریایانو د مهاجرت په اړه معلومات ولیکي او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

### پوښتنې

۱- آریایانو په کومو کلونو کې مهاجرت پیل کړ او په ختیځ کې یې خپلې سیمې په کوم نوم یادې کړې؟
۲- آریایان فارس ته په مهاجرت کې له کومو لارو تېر شول؟

### له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې ختیځ او لوېدیځ لور ته د آریایانو د مهاجرت په اړه معلومات تر لاسه کړي او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# دآريايانومدنيتونه



د لرغوني بلخ د ښار ودانۍ (بخدي)

زده کوونکي به په دغه لوست کې د ويدي مدنيت او هم په دې دوره کې د کلتوري، اقتصادي او ټولنيزې وضعې د څرنګوالي په اړه معلومات تر لاسه کړي.

## ويدي مدنيت

د آريايانو په اړه مو لازم معلومات لاسته راوړل. اوس د اريايانو له مدنيت سره بلدېږو. د لرغوني افغانستان لومړنی مدنيت د ويدي په نوم يادېږي. د دغه مدنيت نوم له ويدي کتابونو څخه اخيستل شوی دی. دغه مدنيت تر ميلاد ۱۸۰۰ کاله پخوا پيل او تر ۱۲۰۰ ق، م. يې دوام درلود. د دغه مدنيت په اړه له هغو څلورو کتابونو څخه معلومات لاسته راغلي چې په ويدي کتابونو مشهور دي. دا کتابونه سر بېره پر دې چې بشپړ سياسي، اقتصادي او ټولنيز معلومات لري، د آريايانو د هغه مها ل د اخلاقو او عقيدو او د هغې زمانې د کلتور په اړه هم پکې اړين معلومات شته. لکه څنګه چې مخکې مو ولوستل، آريايانو ځانګړی ټولنيز نظام درلود. په آريايي ډلو کې شاهي نظام واکمن و، ټولنه په ځانګړي تدبير اداره کېدله. د کورنۍ په سر کې پلار (پاتي) موجود و. له څو کورنيو يو خيل يازی جوړېده چې د هغې په سر کې کوترا پاتي و. له څو خيلونو يازيو څخه يوه قبيله جوړيده چې په سر کې يې ګراماپاتي ځای درلود. د څو قبيلو رييس ته يې ويس پاتي ويل، څو ويس پاتي به د ټولواک له خوا چې راجا نوميده، اداره کېدل. د آريايانو د ټولنيزو اوضاع په اړه هم ويدي سرودونه روښانه معلومات لري. د بېلګې په توګه: د ښځې مقام ته په ويدي مدنيت کې درناوی کېده. سره له دې چې د هلک زېږېدنه يې نيکمرغي ګڼله، خو د ويدي عصر ښځو ځانګړی ځای درلود، لکه څنګه چې په ريګويدا کې د ډېرو ښځو شعرونه د ځانګړي هنري لطافت او صنعت

په درلودلو سره ثبت شوي دي له دغو ډلو څخه يوه ښځينه شاعره د (خانم ګوشاه ) په نوم شهرت لري چې د هغې اشعار د ريګويدا په لومړي ټوک کې ثبت دي. بله ښځينه شاعره ( لوپامودرا) نومېږي چې د هغې اشعار هم د ريګويدا په لومړي ټوک کې راغلي دي. په ويدي مدنيت کې ځانګړی اقتصادي نظام و. د ويدي مدنيت انساني ډلو د خپل ژوند اساسي اړتياوې د ښپنې او کرنې له لارې پوره کولې. د اريايانو شتمني د څارويو، لکه: پسونو، وزو، غويانو او داسې نورو د شمېر له مخې اندازه کېدله.

آريايان د کرنې او ښپنې تر څنګ په سوداګرۍ هم بوخت وو. د تبادلې واحد او تجارتي متاع يې غواګانې وې چې هغه ته يې (پيسو) ويلې. د اوسنی پيسې کلمې نوم چې پولي واحد دی د اريايي دورې د ويدي عصر پيسو ته رسېږي. د ويدي مدنيت پر مهال به وګړو ټوکران اوبدل، د څارويو له وړيو به يې ډول ډول جامې ګنډلې، اوسپنيز وسايل به يې جوړول، له او سپنې به يې پر ظريفو زينتي وسايلو سربېره د توليدي چارو لپاره هم ډېر کلک وسايل جوړول. د ډول، ډول خاورينو او لرګينو لوښو جوړول هم دود و. د ځښلو لپاره ځانګړي لوښي وو، د ويدي مدنيت پر مهال ټولو کسبګرو، لکه کلالانو، پښانو، ترکاڼانو او نورو په ډېر قدر او حرمت سره ژوند کاوه. په ويدي زمانه کې انسانانو په بېلابېلو ارباب الانواعو عقيده درلوده چې له هغو څخه يوه هم د (اوشاس) الاهه وه چې د خلکو په باور هغه يوه ښځه وه او د سپيده دم يا د سهار د الاهې په نامه يادېدله. سره له دې چې د ډېرو الاهه و عبادت به يې کاوه، خو بيا هم په يو واحد خدای ﷻ يې عقيده لرله، لکه چې په ريګويدا کې راغلي دي. (په هر ثابت او هر حرکت کوونکي او هر څه چې پر لارې ځي او هر هغه څه چې مري پر دغو ټولو شيانو يوازې يو الله ﷻ واکمني لري).

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دريو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د ويدي مدنيت د سياسي اوضاع په اړه، دويمه ډله دې د اقتصادي وضعې په اړه او درېمه ډله دې د ويدي مدنيت د اعتقاداتو په اړه خپل معلومات وليکي او په ټولګي کې دې بيان کړي.

## پوښتنې

۱- په افغانستان کې لومړني مدنيت په کوم نوم يادېده؟ په لنډ ډول يې وواياست.

۲- ښځو د ويدي مدنيت پر مهال څه ډول مقام درلود؟ شرحه يې کړئ.

۳- د ويدي مدنيت وګړو د عقايدو په اړه څه پوهېږئ؟ خپل معلومات څرګند کړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د اسلام له سپيځلي دين څخه وړاندې د خلکو د عقيدو په اړه پوښتنې وکړي او خپل معلومات دې ټولګيوالو ته بيان کړي.

# اوستايي مدنيت



د بلخ اتشکده د اورتون انځور

زده کوونکي په دې لوست کې د اوستايي مدنيت او په دې دوره کې د کلتوري او ټولنيزې وضعې په اړه معلومات تر لاسه کوي.

اوستايي مدنيت د افغانستان په تاريخ کې دويم مدنيت دی. د دغه مدنيت نوم د اوستا له کتاب څخه اخيستل شوی چې د زردشتيانو لپاره سپېڅلی دی. اوستا د قانون، بنياد او دستور په معنا ياد شوی دی. دغه مدنيت له ميلاد څخه د مخه د ۱۲۰۰ کالو پر شاوخوا کې پيل شوی او تر ميلاد د مخه، تر ۷۰۰ کالو پورې يې دوام کړی. د اوستايي مدنيت بنسټ په بخدي کې کېښودل شو. په دې اړه د اوستا په کتاب کې راغلي دي، «يما د اهورامزدا په امر يوه سيمه جوړه کړه چې د هغې پلن والی او اوږدوالی د يو اسپرس (داس ځغلولو يو ميدان) په اندازه و چې په هغې کې يې ځينې حيوانات لکه پسونه، غويان، مرغان او ځينې ځناور لکه سپي او داسې نور ساتل او د اوبو ځای يې د يوه هانه (ميل) په اوږدوالي وکينده او په دغه سيمه کې يې، کوڅې او خونې جوړې کړې. خو دروغجنو، ليونيو او معيوبو او ضعيفو خلکو ته يې په کې ځای ور نه کړ.»

زردشت چې د سپينتمان په نوم هم يادېده، د زردشتيانو مشر لارښود، د اوستا پنځوونکی او د اوستايي مدنيت محرک و. نوموړي خپل ځانګړي نصيحتونه په سرودونو کې ويل. زردشت د سالم ژوند لپاره پر دريو اصلونو ټينګار کاوه. چې ښه فکر کول، ښه ويل او ښه کار کول دي.

د زردشت د شخصيت او ژوندانه په اړه په اوستا کې ډېرې څرگندونې شته. ويل کېږي چې نوموړی د پخواني بلخ(بخدي) د ښار په شاوخوا کې ژوند کاوه.
زردشت د هغې سيمې په يوې نجيبې کورنۍ پورې اړه درلوده. د همدغو سوابقو په درلودلو سره نوموړي د فکري اصلاحاتو لارښوونه پيل کړه. په همدې مهال يې د يوې نوې تگلارې پر بنسټ له يو شمېر وزيرانو او واکمنانو سره د خپلوۍ اړيکې ټينگې کړې.
ځينې مورخين زردشت د اسپه له مشهورې کورنۍ څخه گڼي. د زردشت د کورنۍ په ډېرو نومونو کې د اسپه کلمه په وار وار راغلې ده. د زردشت پلار پور اسپه او نيکه يې ميچت اسپه نومېده، چې د ميچيت اسپه نوم معنا يې د ( قوي اسونو د خاوند ) ده. د اوستا کتاب د زردشت له خوا وړاندې شوی دی. دغه کتاب په حقيقت کې د زردشتي دين د لارويانو لپاره د لارښوونې اصول دي. اوستا د پخوانيو کتابونو له ډلې څخه گڼل کېږي. په غالب گومان سره په دغه کتاب کې د ۱۲۰۰ تر ۶۰۰ کاله پخوا تر ميلاده پېښې راځي.
په ا وستايي مدنيت کې درې گونې ټولنيزې طبقې(روحانيون، پوځيان او بزگران) وو. خلکو کليوالي ژوند درلود، بزگري او بڼوالي د دوی اصلي دنده وه. د دې تر څنگ دوی په مالدارۍ هم بوخت وو. برونزي او اوسپنيز شيان به يې کارول. سربېره پر دې په اوستا کې د سياسي کورنيو او واکمنانو په اړه هم څرگندونې شوې دي. په اوستا کې له هغو نومونو يادونه شوې چې د افغانستان په اساطيري تاريخ کې لوړ ځای لري. لکه اسپه، کيانيان او پيشداديان.

## په ټولگي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د اوستا په اړه او دويمه ډله دې د زردشت او هغه د نصيحتونو په اړه خپل معلومات ټولگيوالو ته ووايي.

## پوښتنې

۱- د اوستايي مدنيت او د هغه د معنا په اړه څه پوهېږئ؟ ويې ليکئ.
۲- زردشت څوک و؟
۳- اوستايي مدنيت پر څو ټولنيزو برخو وېشل شوی و؟

## له ټولگي څخه بهر فعاليت

زده کونکي د نېک فکر کولو، نېک ويلو او نېک کار کولو څخه څه معنا اخلي، له خپلو دوستانو او خپلوانو څخه دې پوښتنې وکړي او خپل معلومات دې ټولگيوالو ته بيان کړي.

# هخامنشیان




د هخامنشیانو د واکمنۍ سیمې

په دې لوست کې په افغانستان کې د هخامنشیانو د حاکمیت د څرنګوالي او د یونانیانو په واسطه د هغوی د له منځه تللو په اړه معلومات تر لاسه کوئ.

هخامنشیان د فارس له قبیلو څخه دي چې واکمنۍ ته له رسېدو وړاندې په پخواني فارس کې اوسېدل. فارسیان لس قبیلې وو چې هخامنشیان له دغو لسو قبیلو څخه وو او آریایي دود یې درلود. هغه مهال په افغانستان کې مرکزي دولت نه و او په هره برخه کې سیمه ییز حکومتونه واکمن وو. د هخامنشیانو واکمنۍ د هخامنشي کوروش په واسطه له میلاد څخه مخکې په شپږمه پېړۍ کې جوړه شوه. په پخواني فارس پورې تړلو هخا منشیانو له خپلې امپراتورۍ څخه وتلې ختیځې او لوېدیځې سیمې هم لاس ته راوړې. له میلاد څخه مخکې په ۵۴۹ کا ل کې هخامنشي څواکونو د کوروش تر فرمان لاندې د افغانستان ځه برخې هم تر یو مهاله لاندې کړې. له کوروش څخه وروسته د ده زوی کمبوجیه واکمن شو، نوموړي د لرغوني فارس لوېدیځو برخوته پام واړاوه، د مصر له فرعون سره وجنګېده، هغه ته یې ماتې ورکړه او مصر یې ونیو. داریوش د هند د نیولو په خاطر د سند له سیند څخه واوښت، سند او پنجاب یې ونیول. داریوش خپله پراخه امپراتوري چې ۴۸ ډوله نژادونه، بېل بېل دینونه، ډول ډول دودونه، خوبونه او ژبې یې درلودې، په ځانګړي تدبیر سره اداره کوله.په هغو یو شمېر ډبر لیکونو کې چې له هخامنشي چارواکو پاتې دي، راغلي چې د هخامنشي حکمرانۍ لمن ختیځې خواته پراخه شوه. له دغو ډبر لیکونو څخه یو هم د بیستون ډبر لیک دی

چې د هخامنشیانو تر واکمنۍ لاندې له ۲۱ څخه زیاتې سیمې پکې شوول شوي دي. د هخامنشیانو له مشهورو حکمرانانو څخه لومړی داریوش، خشیارشاه، دویم داریوش، دویم اردشیر او یو شمېر نور واک ته ورسېدل. له هغو څخه ځینو ډېرې سیمې ونیولې، خو تر میلاد مخکې په ۳۳۳ کا ل د یونانیانو په واسطه د هخامنشیانو امپراتوري له منځه لاړه او ټولې لاس ته راوړې سیمې یې له یوناني امپراتورۍ سره یو ځای شوې.

## په ټولګی کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د هخامنشیانو مشهور واکمنان راوپېژني. دویمه ډله دې د بېستون د ډبر لیک په اړه خپل معلومات سره راغونډ او د خپلو استازو په واسطه دې نورو ته د ښوونکي په لارښوونه وړاندې کړي.

## پوښتنې

۱- د هخامنشیانو کوم واکمن د افغانستان دنیولو هڅې وکړې؟ معلومات ورکړئ.

۲- د هخا منشیانو امپراتوري څه وخت او د چا په واسطه جوړه شوه؟ معلومات ورکړئ.

۳- هخا منشي امپراتوري د چا له خوا له منځه لاړه؟ لنډ معلومات ورکړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د هخا منشیانو د امپراتورۍ په اړه معلومات را ټول او په ټولګي کې دې ولولي.

# پر افغانستان د مقدوني سکندر یرغل



مقدوني سکندر

په دې لوست کې پر افغانستان د مقدوني سکندر د یرغل او په افغانستان کې د سکندریو د رامنځته کېدو په اړه معلومات تر لاسه کوئ.

مقدوني سکندر د یونان د حاکم دویم فلیپ زوی و چې له میلاد وړاندې په ۳۳۱ کال کې د پلار له مړینې وروسته واک ته ورسېد. واک ته له رسېدو وروسته نوموړي د مصر، ایران، افغانستان او هندوستان لور ته خپل فتوحات پیل کړل. سکندر بریالی شو چې په ۱۲ کالو کې دخپل واک سیموته تر ډېره پراختیا ورکړي. له همدې امله دکبیر لقب ورکړل شو.

مقدوني سکندر د هخامنشیانو د امپراتورۍ له نیولو وروسته افغانستان ته متوجه او له میلاد وړاندې په ۳۳۰ کال کې یې پر افغانستان یرغل وکړ. سکندر د هرات له نیولو وروسته په دغه ځای کې د سکندریې په نامه د یو ښار بنسټ کېښود چې همدا د هرات اوسنی ښار ګڼل کېږي.

د هرات له نیولو وروسته د سکندر ځواکونو د فراه او ورڅېرمه سیمو په لور خپل یرغل پیل کړ. سیستان او همدارنګه د بلوچستان مرکز (زریاسپ) یې ونیوه. وروسته یې د اراکوزیا (کندهار) په لور حرکت وکړ. له میلاد وړاندې په۳۲۹ کال کې یې ارغنداب تر لاسه کړ او په همدغه کال یې کندهار ته نږدې د ځواکونو یوه اډه جوړه کړه. سره له دې چې تر هغه مهاله سکندر د افغانستان درې مهم ولایتونه لکه: هرات، بلوچستان

او کندهار نیولي وو، خو د هرات پخواني حاکم د هرات خپلواکي اعلان کړه. سکندر د هرات د پاڅون د ځپلو په موخه ډېر ځواکونه ور ولېږل او هرات یې یو ځل بیا په ولکه کې راوست.

د هرات، سیستان او کندهار له نیولو وروسته سکندر کابل ته متوجه شو. نوموړی له میلاد وړاندې په۳۲۹ ق.م کال کې کابل ته ورسېد. د دې سیمې له نیولو وروسته کاپیسا ته لاړ او په دغه ځای کې یې د خپلو ځواکونو لپاره د قفقاز سکندریه (ننني بگرام) جوړ او بیا یې د همدې کال په پسرلي کې د اندراب له لارې د هرات د پخواني والي، بسوس پر ځواکونو بریدونه پیل کړل.

بسوس د باختري ځواکونو په ملتیا پر یونانی ځواکونو خپلو بریدونو ته ادامه ورکړه. دغه حالت له میلاد وړاندې تر ۳۲۷ کال پورې دوام وکړ. په همدې حال کې سکندر یو باختري قومندان ته د خپلوي لاس ورکړ او د رخشانې په نوم یې له یوې نجلی سره واده وکړ. په دې ډول سکندر باختري سیمې په خپله ولکه کې وساتلې، سکندر د باختر له نیولو وروسته دکاپیسا له لارې کابل ته او له هغه ځایه د درونټې له لارې کونړ او اسمار ته ورسېد. په نوموړو سیمو کې ور سره یوسفزو سختې جگړې وکړې چې په پایله کې یې سکندر ټپي شو. له دې وروسته یې د باجوړ او چترال لورې ته مخه کړه او دا سیمې یې تر لاسه کړې.

سکندر خپلو بریاووته ادامه وکړه او له میلاد وړاندې په ۳۲۵ ق.م کال کې یې د کراچی په بندر کې یوه بله سکندریه جوړه کړه. له دغه ځایه یې د گدروزیا (بلوچستان) لور ته مخه کړه، خو کله چې د عراق د بابل ښار ته ورسېد، د ملاریا په ناروغی اخته شو چې په پایله کې د۳۲کالو په عمر مړ شو.

## په ټولگي کې فعالیت

زده کوونکي دې په نقشه کې د مقدوني سکندر د یرغل لوری وښیي.

## پوښتنې

۱- مقدوني سکندر په کوم کال د هخامنشیانو امپراتوري ړنگه کړه؟ خپل معلومات ولیکئ.
۲- په باختر کې مقدوني سکندر له چا سره واده وکړ؟
۳- مقدوني سکندر په کومو ولایتونو کې سکندر یې جوړې کړې؟ معلومات ورکړئ.

## له ټولگي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د سکندر په اړه له نورو کتابونو څخه معلومات تر لاسه کړي او په ټولگي کې دې وړاندې کړي.

# موریایان



دچندراګوپتا د دورې د سرو زرو سکه

په دې لوست کې د موریایانو د واکمنۍ او د دغه مهال د سیاسي وضعې په اړه معلومات تر لاسه کوئ.

د موریایانو لومړنی حاکم چندراګوپتا و چې له میلاد وړاندې په ۳۲۴ کال کې په هند کې واکمن شو. چندراګوپتا د افغانستان ځینې ختیځې سیمې چې د یوناني حکمرانانو په ولکه کې وې، ونیولې. په دغه مهال د یوناني سلیکوس ځواکونو لومړې باختر او وروسته کابل یو ځل بیا تر لاسه کړل او چندراګوپتا یې تر سند پورې شاتګ ته اړ کړ، خو تر لنډ مهاله بریاوو وروسته یو ځل بیا د چندراګوپتا تر بریدونو لاندې راغلل، تر هغه چې چندراګوپتا ته یې د خپلوۍ لاس ور اوږد کړ او خپله لور یې ورکړه. پر دې سر بېره یې ګندهارا (ننګرهار) اراکوزیا (کندهار) او ګدروزیه (بلوچستان) هم چندراګوپتا ته پرېښودل.

چندراګوپتا له میلاد وړاندې په ۳۰۰ کال مړ شو او زوی یې بندوسارا واک ته ورسېد. په دې مهال په یوناني امپراتورۍ کې بېلابېل مرکزونه منځته راغلل او د هغو تر منځ درنې جګړې پیل شوې. سره له دې چې د یوناني ځواکونو تر منځ جګړې رواني وې، خو د سلوکیدیانو او موریایانو ترمنځ ښو اړیکو ورځ په ورځ پراختیا مونده. د دوی تر منځ سوداګریزې اړیکې ټینګې شوې. دغه اړیکې د دې لامل شوې چې د یوناني او هندي کلتور د اختلاط لپاره لاره اواره شي.

له بندو سارا وروسته د ګوپتایی لړۍ مشهور واکمن (اشوکا) واک ته ورسېد. نوموړي د بودایي دین د خپرېدو په موخه افغانستان او د نړۍ بېلابېلو برخو ته ډېر مبلغان ولېږل. هغه په خپل قلمرو کې د ډېرو

پر مخ فرمانونه وليکل چې د بودايي دين استازيتوب يې کاوه. په کندهار، ننګرهار (درونټه) او ځينو نورو سيمو کې دا ډول فرمانونو شتون درلود.
د ايتوديم د واکمنۍ له پيل سره د اشوکا يووالي چې په ګندهارا او کابل يې واکمنۍ کوله، د ايتوديم د ځواکونو له لورې له ماتې سره مخ شو. په دې تر تيب د افغانستان پر ختيځو او سوېلي ولايتونو د موريايانو ولکه پای ته ورسېده. ايتوديم خپل يرغلونه د هندوکش تر سوېلي سيمو پورې ورسول او د افغانستان خپلواکي يې اعلان کړه.

### په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په خو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې په ترتيب سره د موريايانو د واکمنۍ پولې د نقشې پر مخ وښيي.

### پوښتنې

۱- د موريايانو د لومړني واکمن په اړه څه پوهېږئ؟ ويې ليکئ.
۲- چندراګوپتا په کوم کال مړ شو؟
۳- د اشوکا د دين په اړه څه پوهېږئ؟

### له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې په کتابتون کې د هغه کتاب نوم، مولف او د کتاب د چاپېدو د کا ل پلټنه وکړي چې د موريايانو د وکمنانو په اړه يې معلومات ليکل شوي وي.

# ساکان



د سیستان تاریخي پاتې شونې

په دغه لوست کې به د افغانستان په سوېلي سیمو لکه اراکوزیا (کندهار) او سګستان (سیستان) کې د ساکانو د واکمنی په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

د باختري یونان د پېر وروستنی واکمن هیلوکیلس و. نوموړی د باختري یونان د امپراتورۍ پر ټولو سیمو واکمن و. له هغه وروسته محلي واکمنان او حاکمان منځته راغلل، چې هغوی هر یوه پر وړه سیمه حکومت کاوه.

دې لړۍ له میلاد څخه وړاندې تر ۱۰۰ کال پورې دوام وموند، د افغانستان په سوېلي سیمو، لکه: اراکوزیا (کندهار) سکستان (سیستان) کې د ساکانو په نوم ځواکمن قوم د خپل حاکمیت بنسټ کېښود. د دغه قوم لومړنی واکمن د هرایوس په نوم پېژندل شوی چې هغه هم د باختري یونان د واکمنانو په شان په خپل نوم سکه جوړوله.

ساکانو په لنډه موده کې د خپلو متصرفاتو لمن تر ټاکسیلا، سند او د بلوچستان تر بولان پورې وغځوله، د باختري یونان د امپراتورۍ سوېل او سوېل ختیځې سیمې یې هم تر خپلې ولکې لاندې راوستې.

له هرایوس وروسته مایوس له میلاد وړاندې په(۷۲) کال کې واک ته ورسېد. هغه د خپلو سکو په مخ د شهنشاه لقب ولیکه، د هغه د واکمنی د مهال یو لیک د لرغون پوهانو لاس ته رسېدلې چې د یوې مسي ټوټې پر مخ لیکل شوی، په دغه لیک کې له میلاده ۷۸ کاله وړاندې له یوناني او خروشتي رسم الخط څخه ګټه اخیستل روښانه کېږي.

د مورخینو په اند د ساکانو د واکمنی د مهال داسې کلمې او نومونه پاتې دي چې تر اوسه هم په پښتنو کې

دود دي، د بېلګې په توګه اروپايي افغان پېژندونکی (سرا ولف کاميرو) باور لري چې (ساله که دمه) هغه کلمه ده چې د ساکانو په مسکوکاتو ليکل شوې ده چې(د پياوړي سرتېري) معنا ورکوي، او يا بله کلمه (سپاله هوره) د جګړه مار يا ځليدونکي سرتېري په معنا راغلې ده. د ساکانو واکمنۍ د کوشانيانو په لاس له منځه ولاړه.

### په ټولګي کې فعاليتونه

زده کوونکي دې د ساکانو په اړه په خپلو کې خبرې اترې وکړي او له يوبل څخه دې پوښتنې وکړي او ځوابونه دې دوی خپله وارزوي.

### پوښتنې

١- د ساکانو لومړنی مرکز چيرته و؟ معلومات وړاندې کړئ.
٢- د ساکانو لومړی واکمن څه نومېده؟ په لنډه ډول يې راوپېژنئ.
٣- مايوس په کوم کال واک ته ورسېد؟ وېې ليکئ.

### له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې له مشرانو وپوښتي چې ايا د ساکانو په نوم کلی پېژني؟ خپل معلومات دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

# د یونان – باختري خپلواک دولتونه




د ایوکراتید د مسکوکاتو بېلګه

په دې لوست کې به زده کوونکي د یونان - باختري خپلواکو دولتونو د جوړښت د څرنګوالي او په دې دوره کې د سیاسي وضعې په اړه معلومات تر لاسه کړي.

مخکې مو ولوستل چې د سکندر تر واکمنۍ لاندې سیمې د یوناني قوماندانانو تر منځ ووېشل شوې. یوناني سلوکیدیانو هم د سکندر د امپراتورۍ یوه برخه په واک کې لرله. هغوی شام او په هغه پورې تړلې سیمې اداره کولې. سلوکیدیانو یو تن یوناني افسر د لومړي دیودیتس په نوم د باختر د والي په توګه وګوماره. کله چې هغه باختر ته ورسېد، د باختر او سغدیانه خپلواکي یې اعلان کړه. د دیودیتس د واکمنۍ پېر د ۲۴۵– ۲۳۰ کاله پخوا تر میلاده پورې رسېږي. تر هغه وروسته دویم دیودیتس د باختر کنټرول او اداره په لاس کې ونیوله. نوموړی له اشکانیانو نوې خپلواک شوی دولت سره د دوستۍ اړیکې ټینګې کړې، ځکه دواړه نوي دولتونه د شام (سوریې) د سلوکیدیانو پر خلاف وو. ایوتیدیموم د یونان باختري دولت یو ډېر ځواکمن ټولواک و، چې د خپلې واکمنۍ په پېر کې یې د شامي سلوکیدیانو یرغل پر شا وتنباوه او بیا یې د سولې له لارې هغوی پر شا کړل. نوموړي د هندوکش سوېلي برخې یې له کومې جګړې د هندي دولت له سلطې خپلواکې کړې او په لوېدیځو برخو کې د توس تر سیمو پورې پر مخ لاړ.

په شمال کې کاشغرستان او په سوېل کې یې بلوچستان له لرغوني افغانستان سره یو ځای کړل. په همدغه

دوره کې باختر د زروښارونو(هزارشهر) نوم تر لاسه کړ. د یونان -باختري دولت بل ټولواک دیمیتروس نومېده. نوموړي تر سند او پنجاب پورې پر مخ لاړ او شمالي هندوستان یې د ګنګا تر څنډو پورې ونیو. د یونان - باختري دولت پولې د مرکزی ایران له دښتوڅخه د ګنګا تر سیند او بیا له سیحون او جیحون څخه د هند تر سمندرګي پورې رسېدلې وې. د یونان - باختري ټولواکانو فتوحاتو له میلاد څخه مخه تر۱۷۵ کا له دوام درلود.

ایوکراتید د یونان، باختر بل ټولواک و. نوموړي داسې والیان په خپله امپراتورۍ کې وګومارل، چې په هند کې یې د خپلواکو دولتونو لپاره لاره اواره کړه. واک ته د ایوکراتید د رسېدو له مها ل څخه د یونان-باختري دولت سقوط پیل شو. له یو لورې د هېواد په لوېدیځ کې د اشکانیانو بریدونو او له بل لورې په هېواد کې د ننه ستي قبایلو د یونان-باختري دولت د ړنګېدو لپاره لاره اواره کړه. یونان-باختري دولت له میلاده ۱۳۵ کا له وړاندې خپل مرکز له بلخ څخه بګرام ته ولېږداوه. تر دې چې له میلاده ۷۰ کاله پخوا لومړي ساکان په سوېلي افغانستان کې واک ته ورسېدل او بیا د (ستي) قبایلو یوې څانګې چې د (یوچي) په نوم یې شهرت درلود او د افغانستان په لرغوني تاریخ کې د کوشانیانو په نامه مشهور دي، بلخ ونیو او د یونان- باختري دولتونو لړۍ یې راوپرزوله.

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د باختري او سغدیانه سیمو د خپلواکۍ د اعلان او دویمه ډله دې د یونان- باختري دورې د نامتو واکمنانو په اړه خپل معلومات په ټولګي کې ووایي.

### پوښتنې

۱- د ایوتیدیوم په اړه څه پوهېږئ؟ خپل معلومات ولیکئ.
۲- دیمتریوس څوک و او د هغه د کړو وړو په اړه څه پوهېږئ؟
۳- د یونان باختري امپراتورۍ پرزېدل څه ډول پیل شول؟ خپل معلومات ولیکئ.

### له ټولګي څخه بهر فعالیت

هر زده کوونکی دې د یونان-باختري دولت نقشه په کور کې رسم کړي او په ټولګي کې دې نورو زده کوونکو ته وښيي.

# د یونان – باختري پېر هنري او فرهنګي ځانګړتیاوې




دیمتروس د مسکوکاتو بېلګه

په دې لوست کې به زده کوونکي د یونان - باختري پېر کلتوري لاسته راوړنې او د هغو د ځانګړتیاوو په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

شک نشته چې د سکندر له پوځي یرغل سره سم له یوناني لښکرو سره یو ځای هنرمندان، پوهان او کسبګر، نیول شویو هېوادونو ته راغلل چې له هغې ډلې هېوادونو څخه یو هم افغانستان و. د دغو هنرمندانو نوښتونه د ختیځو سیمو په تېره بیا د لرغوني افغانستان د خلکو له کلتور سره یوځای او افغاني بڼه یې خپله کړه.

د یونان - باختري واکمنیو پر مهال اقتصادي وضعې مناسب پرمختګ کړی و. مالداري، کرهڼه، د کسبګرو بېلابېل صنعتونه او سوداګریزو اړیکو د پام وړ وده او پراختیا موندلې وه. ایوتیدم له سرو او سپینو زرو څخه سکې پر خپل نوم جوړې کړې چې د ښو او مناسبو اقتصادي شرایطو استازیتوب یې کاوه. د سوداګرۍ ملي او نړیوالې لارې یې پرانستې وې او د کاروانونو د تلو راتلو امنیت هم نیول کېده. د هېواد بېلابېلې سیمې د والیانو په واسطه چې شهزادګان وو، اداره کېدې. کابو ۱۴۰ کاله د یونان - باختري واکمنۍ پایښت د نوي کلتور په رامنځته کېدو او دودولو خپلې پراخې اغېزې وکړې چې د صنایعو دود کېدل، هنري نوښتونه او فلسفي افکار، ژبه او لیک دود او نورې کلتوري خواوې یې یادولای شو. دغه ټولې کلتوري اغېزې د یونان - باختري امپراتورۍ تر ولکې لاندې له سیمه ییزو عناصرو سره یوځای شوې او یو ځانګړی کلتور یې رامنځته کړ چې د یونان باختري مدنیت په نوم په لرغوني تاریخ کې شهرت لري. دیونان - باختري دورې په یو ډېر لیک کې چې په ای خانم کې د لرغون پوهانو لاسته راغلی، داسې لولو:

په ورکتوب کې ښه تربیه واخله.

په ځواني کې پر خپلو غوښتنو حاکم اوسه.
په پاخه عمر کې ريښتني اوسه.
په زړښت کې ښه ناصح اوسه.
د ژوندانه په وروستيو ورځو کې به پوه شې چې څه ډول بې له ارمانه مرې.

د يونانيانو اغېزې په عمراني چارو کې هم ښکاربدلې. پوځي او اداري مرکزونه يې په عمومي ډول د سيندونو د يوځای کېدو په سيمو کې جوړول. د دا ډول ودانيو بېلګې په بګرام او ای خانم کې ليدلی شو. په دغو ودانيو کې دفاعي لارې په پام کې نيول کېدې. د کنټرولي برجونو، دفاعي خندقونو او ډول ډول بندونو جوړولو ته هم پام اړول کېده.

د يو شمېر مورخينو په باور يوناني نفوذ په افغانستان کې تر اوومې ميلادي پېړۍ دوام وکړ. دغه اغېزې په تېره بيا په ليک دود او هنر کې د يادونې وړ دي. هغه ډبرليکونه چې د هېواد په بېلابېلو سيمو کې تر لاسه شوي، دغه ادعا تاييدوي. د مجسمې جوړولو هنر، رسامي، په ښيښه يې لوښو کې نقاشی او په ودانيو کې يوناني شکلونه او څېرې تر ډېرو وختونو پورې په لرغوني افغانستان کې دود وې. لنډه دا چې په ۱۴۰ کلونو کې د يونان - باختري واکمنۍ ۳۶ تنه پاچاهانو او يوې ملکې په لرغوني هند او افغانستان کې واکمني کړې. دغو ټولو د يوناني فرهنګ او کلتور د پراختيا لپاره د هند او باختر په سيمو کې هڅې کړې دي. د لرغون پوهانو د څېړنو په تر ځ کې ډېر هنري او فرهنګي شواهد او لاسته راوړنې په افغانستان او شمالي هند کې تر لاسه شوي دي.

دغه ټول اثار او پاتې شونې د هغې دورې استازيتوب کوي او په دغو سيمو کې د يوناني فرهنګ شتون څرګندوي. د يادونې وړ خبره دا چې يوناني فرهنګ په دغو سيمو کې په سوچه ډول پاتې نه دی. څکه د لرغوني افغانستان له فرهنګ او کلتور سره يو ځای شوی او د فرهنګ يوه نوې بڼه يې رامنځته کړې چې د يونان - باختري مدنيت په نوم ياد شوی دی.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د يونان - باختري دولت د اقتصادي وضعې په اړه خپل معلومات څرګند کړي او دويمه ډله دې د يونان - باختري دورې د دوو فرهنګونو په يوځای کېدلو خبرې وکړي.

## پوښتنې

۱- د يونان - باختري دورې د اقتصادي وضعې په اړه څه پوهېږئ؟ بيان يې کړئ.
۲- د يوناني ودانيو بېلګې او اغېزې په کومو سيمو کې ليدل کېږي؟ نومونه يې واخلئ.
۳- کوم ډول ليک دود په يونان - باختري دوره کې دود و؟ توضيح يې کړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې له ټولګي بهر له خپلو مشرانو څخه د سکندر او يونانيانو د کيسو په اړه پوښتنې وکړي. لاسته راغلي معلومات دې په ټولګي کې نورو ته وړاندې کړئ.

# دکوشانیانو امپراتوري



له ډبرې څخه دکنشکا د مجسمې انځور

په دغه لوست کې دکوشانی امپراتورۍ د رامنځته کېدو د څرنګوالي، مهموکوشاني امپراتورانو او د رباطک د ډبر لیک په اړه معلومات تر لاسه کوئ.

دکوشانیانو نوم د کوشان له کلمې څخه اخیستل شوی. کوشان له (یوچې) قومونو څخه و چې د امو تر سیند را تېر او په بلخ کې یې د یونانیانوباختري واکمنې له منځه یوړه.

د کوشانی امپراتورۍ بنسټ اېښودونکی (کجولا کد فیسیس دی. نوموړی په ۴۰ میلادي کال کې د پاچاهی اعلان وکړ. او تر ۴۰ میلادی کال پورې یې د لرغونې آریانا په ډېرو سیمو واکمنی وکړه. هغه د خپل سلطنت په پای کې د شهنشاه لقب تر لاسه کړ.

دکجولاکد فیسیس له مړینې وروسته د هغه زوی (ویماتکتو) واک ته ورسېد. د هغه په اړه ډېر معلومات نشته .په دې اړه یوازینۍ لاسته راوړنه د رباطک ډبر لیک دی چې د ویماتکتو په واسطه لیکل شوی دی.

له ویماتکتو وروسته د هغه زوی (ویما کدفیسیس) واک ته ورسېد. نوموړی تر ۱۲۷میلادي کاله واکمنی وکړه. ویما کدفیزیس د کوشانیانو لومړنی امپراتور و چې د هېواد پولې یې په سویل کې د هند دګنګاه تر سیند پورې ورسولې.

نوموړي له چین سره ښې اړیکې ټینګې کړې او د روم د امپراتور (تراجان) دربار ته یې یو سفیر هم ولېږه او له هغو سره یې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې ټینګې کړې.

له ویماکدفیسیس وروسته د هغه زوی لوی کنشکا واک ته ورسېد. کنشکاه د افغانستان د لرغوني تاریخ یو ځواکمن امپراتور او له ځانګړې شهرت څخه برخمن و. د هغه د امپراتورۍ بریدونه په ختیځ کې د هندوستان تر بنارس، په لوېدیځ کې د پارتیانو تر امپراتورۍ او په شمال کې تر کاشغر او یارکند پورې

رسېدل. په ختیځ کې یې له چین او په لوېدیځ کې یې له روم سره سوداګریزې اړیکې درلودې.
د کوشانیانو په دوره په تېره د کنشکا په واکمنۍ کې د ورېښمو مشهورې لارې نړیوال شهرت تر لاسه کړ. کنشکا د خپلې امپراتورۍ د اداري لپاره دوې پلازمېنې درلودې. په دوبي کې یې بګرام او په ژمي کې یې پېښور د خپلې پلازمېنې په توګه غوره کړی و.

## د مهال په ترتیب د کوشاني لړۍ مهم امپراتوران

۱- کجولا کد فیسیس له ۴۰ میلادي تر ۸۰ میلادي پورې واکمنۍ وکړه. نوموړی د کوشانی امپراتورۍ بنسټ اېښودونکي و.
۲- ویماتکتو له ۸۰ میلادي څخه تر ۱۰۵ میلادي پورې واکمني وکړه.
۳- ویما کد فیسیس له ۱۰۵ میلادي تر ۱۲۷ میلادي پورې واکمنۍ وکړه.
۴- کنشکا له ۱۲۷ میلادي تر ۱۴۷ میلادي پورې واکمنۍ وکړه. نوموړی د کوشانیانو تر ټولو ستر امپراتور ګڼل کېږي.
۵- هوویشکا له ۱۴۷ میلادي تر ۱۸۲ میلادي پورې واکمني وکړه.
۶- واسودیوا له ۱۸۲ میلادي تر ۲۲۰ میلادي پورې واکمني وکړه. له نوموړي وروسته ځایي واکمنۍ رامنځته شوې او مرکزي واکمني یې له ګواښ سره مخ کړه.

کوم لاملونه چې د کوشاني امپراتورۍ د سقوط باعث وګرځېدل، هندوستان لور ته د کوشاني واکمنانو ډېر پام د کوشاني امپراتورۍ په لوېدیځ کې د ساساني امپراتورۍ پیاوړتیا، د هېواد په شمال کې د چیني قبایلو یرغلونه، د مرکزي واکمني له فرمان څخه د ځایي واکمنیو سر غړونه او په هېواد کې د ننه د رامنځته شویو ځواکونو یرغلونه د هغه لاملونه څخه دي چې د کوشاني د امپراتورۍ د وېشلو او نسکورېدو زمینه برابره کړه.

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په درېیو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د کوشانیانو د بنسټ اېښودونکي په اړه، دویمه ډله دې د رباطک د ډبر لیک په اړه او درېیمه ډله دې د کوشانیانو د مشهورو واکمنانو په اړه معلومات ولیکي او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

### پوښتنې

۱- د کوشاني امپراتورۍ بنسټ اېښودونکی څوک و؟ خپل معلومات ولیکئ.
۲- د رباطک د ډبر لیک په اړه څه پوهېږئ؟ ویې لیکئ.
۳- د کوشانیانو د امپراتورۍ د سقوط لاملونه بیان کړئ.

### له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د امکان په صورت کې د کوشاني دورې کلتوري حالت په اړوند معلومات راټول او په ټولګي کې دې وښیي.

# د يفتليانو امپراتوري




د يفتليانو په دوره کې د افغانستان پولې

په دې لوست کې د يفتلي امپراتورۍ د رامنځته کېدو د ځرنګوالي او د نومورې امپراتورۍ د سقوط په اړه معلومات تر لاسه کوئ.

د انګليسي مورخ سر اولف کاميرو په باور يفتليانو له مرکزي اسيا ځخه د سوېل لور ته حرکت وکړ او خپله لومړنۍ اداره يې په ۳۶۰ ميلادي کال کې په تخار کې رامنځته کړه. يفتليانو تخار او د هندوکش سيمې له کوچنيو کوشانيانو يا کيداريانو ځخه ونيولې او په خپله و لکه کې يې راوستې.

په تاريخي متونو کې يفتليان د هفتاليانو، يفتليانو، خوينتيانو او د اعرابو له لورې هياطله بلل شوي دي. د يفتليانو لومړنی پاچا د يفتاليتو په نامه پېژندل شوی چې په۴۲۵ زېږديز کال کې يې په تخار کې د پاچاهی تاج پر سر کېښود. د نومورې د واکمنۍ سيمه له بدخشان ځخه تر بلخ او سغدياني پورې رسېده. له ايفتاليتو وروسته د هغه زوی اخشنور واک ته ورسېد. نومورې هرات هم په خپل قلمرو کې شامل کړ. اخشنور له ساسانيانو سره ډېرې جګړې وکړې او هغو ته يې ماتې ورکړه. نومورې د خپلې امپراتورۍ د پراختيا په موخه د هندوکش سوېلي سيمې، لکه: کابل، غزني او هلمند هم په خپله ولکه کې راوستې. له اخشنور وروسته د هغه زوی تورمنه واک ته ورسېد. هغه په سکوکې خپل ځان د زابل امپراتور ياد کړی دی. تورمنه خپل قلمرو ته تر مرکزي هند پورې پراختيا ورکړه او په ۵۰۲ زېږديز کال مړ شو. له هغه وروسته يې زوی مهراکولا واک ته ورسېد. هغه پر هند يرغل وکړ او د ګوپتا کورنۍ يې د باج ورکولو ته اړ کړه.

مهراکولا د بنگال له واکمنانو سره هم جګړې وکړې او ګڼ شمېر بودايي مرکزونه يې له منځه يوړل او په پای کې په۵۴۲ زيږديز کال مړ شو. د هغه له مړينې سره د يفتلي امپراتورۍ زوال او سقوط هم پيل شو. هند او بنګال بېرته د خپلو سيمه ييزو واکمنانو لاس ته ورغلل او په افغانستان کې هم د ځايي واکمنانو د پياوړتيا لپاره لار هواره شوه. يفتليان د بودايي دين خلاف وو او د بودايانو ډېر عبادت ځايونه يې ويجاړ کړل. يفتليانو د لمر عبادت کاوه.

د هغو په سکو کې د زور او سور د عبادت ځايونو يادونه شوې چې د لمر د عبادت معنا يې ورکوله. په سکو کې د اتشکدې انځور يې هم ځای پر ځای کړی وه. د خيرخانې له کوتل څخه د لمر د رب النوع د مجسمې پيدا کېدل د دغه مهال يوه ځرګنده بېلګه ده.

په افغانستان کې د يفتلي امپراتورۍ له ټوټه کېدو وروسته د کوشان يفتلی په نامه يوه بله دوره پيل شوه. چې د ځايي حکمرانانو دوره وه. په دې دوره کې د کابل شاهانو، د باميان د شيرانو او تګين شاهانو نومونه يادولی شو چې د هېواد په بېلابېلو سيمو کې يې واکمني کوله.

د وخت له مخې دغه دوره له شپږمې زيږديزې پېړۍ څخه پيل او د اتمې زيږديزې پېړۍ تر وروستيو پورې يې دوام وکړ، تر هغه چې په افغانستان کې خپلواک اسلامي دولتونه رامنځته شول.

### په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې د يفتليانو په اړه د انګليسي مورخ کار او نظر ځرګند کړي او دويمه ډله دې د اخشنور د واکمنۍ په اړه معلومات وليکي او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

### پوښتنې

۱- يفتليان له کومه ځايه راغلل ؟ معلومات ورکړئ.
۲- د يفتليانو وکمن اخشنور په اړه څه پوهېږئ؟ وليکئ.
۳- د تورمنه په اړه څه پوهيږئ.

### له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې خپل کور او کلي کې داسې نومونه پيدا کړي چې د يفتلي واکمنانو له نومونو سره نژدې وي.

# د جغرافيې برخه

## لومړی څپرکی- د جغرافيې مبادي

شلم لوست: **جغرافيايي مفاهيم او اصطلاحات**



دطبيعي چاپيريال يوه منظره

### د جغرافيې د علم تعريف

جغرافيه هغه علم دی چې د انسان او چاپيريال متقابلې اړيکې مطالعه کوي. جغرافيه د نړۍ هنداره ده چې د ځمکې او کايناتو په ټولو برخوکې موږ ته معلومات راکوي.

### د جغرافيې ګټې

موږ او تاسو د خپل کلي، ښار او هېواد په هکله معلومات لرو، خو د نورو ښارونو، هېوادونو، د ځمکې کرې، لمريز نظام، سيارو او نورو موضوعاتو په هکله معلومات نه لرو. وخت او امکانات هم محدود دي، چې هرځای ته لاړ شو او د هغو په اړه معلومات لاس ته راوړو. د جغرافيې علم او د هغه مستند معلومات له موږ سره مرسته کوي، پرته له دې چې چیرته لاړشو، سم او مستند علمي معلومات تر لاسه کړو.

## آیا ځمکه کروي شکل لري؟

ځمکه د لمریز نظام له سیارو څخه ده چې کابو کروي شکل لري. د هغو د قیقو څېړنو پربنسټ چې ترسره شوي دي، ځمکه په قطبونو کې لږه ننوتي او د استوا په برخه کې لږه وتلې ده. پدې اساس ځمکه د یوې بشپړې کرې شکل نلري بلکې هغه د یوې نامنظمې کرې په شکل تعریفوي. ځکه چې استوایي قطر یې د قطبي قطر په پرتله لږ اوږد دی. د ځمکې کره د جوړښت له مخې لوړې او ژورې اوارې دښتې او همدارنګه څپاند سیندونه، جهیلونه، سمندرګي او سمندرونه لري. د ځمکې ډېره لوړه څوکه د ایوریست څوکه ده چې د آسیا د لوېې وچې د همالیا په غرونوکې، چې د هند په شمال کې پروت دی، موقعیت لري او د سمندر له سطحې څخه (۸۸٤۸) متره لوړوالی لري. د ځمکې ډېره ژوره برخه د چین په سوېل ختیځ کې په آرام سمندر کې پرته ده چې(۱۱۰۳٦ ) متره د سمندر له سطحې څخه ټیټه پرته ده او د ماریاناد ګودال په نامه یادېږي.

### د ټولګي دننه فعالیت

د زده کوونکو هره ډله دې مجسمه کره مخې ته کېږدي .استوایي سیمه، قطبي سیمه، د ځمکې ډېره لوړه او ډېره ژوره برخه دې د ښوونکي په مرسته په اټکلي توګه پیدا کړي. وروسته دې د هرې ډلې استازي خپل معلومات د ټولګي په مخ کې وړاندې کړي.

### پوښتنې

۱ــ جغرافیه تعریف کړئ.

۲ــ په هغه ځای کې چې تاسو ژوند کوئ، لوړې او ژورې برخې یې څه نومېږي؟

۳ــ د نړۍ جګه څوکه څومره لوړوالی لري او په کوم ځای کې پرته ده؟

٤ــ د نړۍ ژوره برخه چېرته پرته ده او څومره ژور والی لري؟

# د استوا کرښه او اقلیمي سیمې




داستواکرښه او اقلیمي سیمې

## د استوا کرښه

د استوا کرښه لویه فرضي دایره ده چې د ځمکې کره په دوو برابرو برخو ویشي او د طول البلد پر دایرې او د ځمکې پر محور باندې عموده ده. د استوا د کرښې شمالي برخې ته شمالي نیمه کره او جنو بي برخې ته یې جنوبي نیمه کره ویل کیږي.

## د سرطان کرښه

د وري میاشتې له لومړۍ نېټې وروسته، د لمر وړانګې ورو ورو د شمالي عرض البلدونو پر لور عمودي لګېږي، تر څو چې د سرطان په لومړۍ نېټه د عرض البلد په $23\frac{1}{2}$ درجو باندې عمودي ولګېږي. له دې کبله دا عرض البلد د سرطان د دایرې په نامه یادوي. په دې وخت کې د شمالي نیمې کرې دوبی او د دوبي لمریز انقلاب وي.

## د جدي کرښه

د تلې د میاشتې له لومړۍ نېټې وروسته د لمر وړانګې د استوا د دایرې په سویلي لور عمودی لګېږي ترڅو چې د جدي په لومړۍ نېټه د عرض البلد په $23\frac{1}{2}$ درجو باندې عمود ولګېږي. له دې کبله دا عرض البلد د جدي د دایرې په نامه یادوي او په سویلي نیمې کرې کې دوبی وي. د جدي له لومړۍ نېټې وروسته د لمر وړانګې بېرته د استوا خواته

حرکت کوي، د دربیو میاشتو په اوږدوکې یعنې د وري په لومړۍ نیټه بیا د استوا پر کرښې باندې عمودي لګېږي.

## د مدارینو سیمه

د جدي او سرطان پر کرښو د لمر وړانګې یو یوځل او پر نور و عرض البلدونو چې د سرطان او د جدي د کرښو تر منځ پرتې دي، د لمر وړانګې دوه ځله عمودې لګېږي. نوځکه دا سیمه د استوایي مدارینو په نامه یادوي. چې هوا یې ډېره توده او مرطوبه ده او ډېر اورښت لري.

## معتدلې سیمې

هغه سیمې چې په شمالي او سوېلي نیمو کروکې د عرض البلد د ٢٣ $\frac{1}{2}$ او ٦٦ $\frac{1}{2}$ درجو تر منځ پرتې دي، دمعتدلو سیمو په نامه یادېږي چې هوایې معتدله ده.

## سړې سیمې

دا سیمې په دواړو نیمو کروکې د ٦٦ $\frac{1}{2}$ او ٩٠ درجو په منځ کې پرتې دي چې هوایې نوره هم سړه وي چې یخچالي سیمه جوړوي.

## شمالي او سوېلي نیمې کرې

که د ځمکې کرې ته ځیر شو، نوګورو چې، د استوا کرښه ځمکه پر دوو برابرو برخو وېشي. د استوا کرښه چې د عرض البلدونو مبدا منل شوې ده، د عرض البلد صفر درجه ده . د عرض البلد نوي درجې په شمالي نیمه کره کې او نوي درجې په سوېلي نیمه کره کې دي.د وچې ډېرې سیمې لکه شمالي امریکا، مرکزي امریکا، د اروپا ټوله لویه وچه،د آسیا او افریقا ډېره برخه په شمالي نیمه کره کې پراته دي. خو په سوېلي نیمه کره کې یوازې استرالیا، سوېلي افریقا، د سوېلي امریکا ډېره برخه او انتارکتیکا پراته دي. له بلې خوا د سمندرونو ډېره برخه په سوېلي نیمه کره کې پرته ده. د بېلګې په توګه د هند سمندر،د آرام سمندر ډېره برخه، سوېلي کنګل سمندر اوداطلس سمندر سوېلي برخې په سوېلي نیمه کره کې موقعیت لري. نوځکه سوېلي نیمه کره او بیزه نیمه کره او شمالي نیمې کره د وچې نیم کرې په نامه یادوي. د سوېلي نیمې کرې د هوا حالت سمندري او د شمالي نیمې کرې د هوا حالت کابووچ دی د نرۍ ډېر وګړي په شمالي نیمه کره کې ژوند کوي.

### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې په ټولګي کې نیمه کره د نیمې دایرې د قوس په توګه جوړه کړي. یوه ډله دې شمالي نیمه کره او بله ډله دې سوېلي نیمه کره تمثیل کړي.

### پوښتنې

١ـ د استوا کرښه څه ده؟
٢ـ د جدي کرښه په کومه سیمه کې پرته ده؟
٣ـ د سرطان دایره ولې د سرطان د دایرې په نامه یادوي؟
٤ـ په شمالي نیمه کره کې د وچې کومې ټوټې پرتې دي؟
٥ـ په سوېلي نیمه کره کې کوم سمندرونه موقعیت لري؟

### له ټولګي بهر فعالیت

زده کوونکي دې د شمالي او سوېلي نیمې کرې نقشه د سمندرونو او وچو له ټوټو سره په خپلو کتابچو کې رسم کړي.

دوه ویشتم لوست:

# شمالي او جنوبي قطب- طول البلد او عرض البلد







## سوېلي اوشمالي قطب

شمالي قطب په شمال کې د ځمکې د محور وروستی نقطه ده چې عرض البلد يې شمالي نوي درجې دی. همداراز سو يلي قطب د ځمکې په سوېل کې د محور وروستی ټکی دی. چې عرض البلد يې سوېلي نوي درجې دی.

## د ارکتیک دایره

د شمالي قطب دایره (ارکتیک) د شمالي عرض البلد $\frac{1}{2}$ ۶۶ درجې دي.

## د انتارکتیک دایره:

د جنوبي قطب دایره (انتارکتیک) د سوېلي عر ض البلد $\frac{1}{2}$ ۶۶ درجې دي.

## د ځمَکې محور

که د شمالي قطب وروستی نقطه د سوېلي قطب د وروستی نقطې سره و نښلوو، هغه کرښه چې دا دوه ټکي سره نښلوي، د محور په نامه يادېږي، د محور شمالي پای شمالي قطب او د محور سوېلي پای د سوېلي قطب په نامه يادوي. جغرافيايي شمال قطب د قطب د ستوري په لور دی، چې د ځمکې محور ته يې له عمودي حالت څخه ښي لورته د $\frac{1}{2}$ ۲۳ درجو په زاويه ميلان ورکړيدی.

## عرض البلد

عرض البلد هغو کرښو ته ويل کېږي چې داستوا له کر ښې سره موازي دختيځ او لوېديځ لورى لري او يو له بله سره موازي دي. دطول البلد پر کرښو عمودي دي. څرنګه چې ځمکه کروي ده،د عرض البلد ډېره لويه دايره د استوا کرښه ده او د عرض البلدونو مبداء (پيل) ګڼل کېږي، نو ځکه صفر درجه منل شوې ده. د استوا شمالي عرض البلدونوته شمالي عرض البلدونه وايي چې د (N) په توري ښودل کېږي او د استوا جنوبي عرض البلدونوته، جنوبي عرض

البلدونه وايي او د (S) په توري ښودل کېږي. د عرض البلد هره درجه په ٦٠ دقيقو او هره دقيقه په ٦٠ ثانيو وېشل شوې چې په نقشو کې د درجې، دقيقې او ثانيې په توگه ښودل کېږي . د عرض البلد ډېره کوچنۍ دايره شمالي او جنوبي ۹۰ درجې دي چې اوږدوالی يې صفرته رسېږي.

د استوا پر کرښې د ورې (حمل) او تلې (ميزان) پر لومړۍ نېټه، د سرطان پر کرښې باندې دچنگاښ (سرطان) پر لومړۍ نېټه او د جدي پر دايرې د مرغومې (جدی) پر لومړۍ نېټې د لمر وړانگې عمودې لگېږي. له همدې کبله د لمر د وړانگو د لگېدو زاويه او موقعيت په هر فصل کې توپير لري. په ياد ولرو چې د لمر د وړانگو د لگېدو توپير د فصلونو په بدلون او د بوټو په وده او اقليمي سيمو باندې مهمه اغېزه لري، په ځانگړې توگه په معتدلو او قطبي سيمو کې.

## په طول البلد پوهېدل څه ارزښت لري؟

دجرافيايي نقشو پر مخ داسې کرښې رسم شوې چې د هغو په واسطه پر نقشې باندې د ځمکې دمخ هره نقطه چې وغواړو پيدا کولی شو. دا کرښې د طول البلد او عرض البلد کرښې دي چې د جغرافيايي وضعيه کمياتو په اصطلاح هم يادېږي. ځمکه دوه قطبونه لري، شمالي قطب او جنوبي قطب. هغه فرضي کرښې چې له شمالي قطب څخه پيل او ترجنوبي قطبه رسېږي، د طول البلد (نصف النهار) په نامه يادېږي. څرنگه چې د يوې دايرې محيط (۳٦۰) درجې دی، نو د طول البلد د ټولو درجو شمېرې (۳٦۰) درجې کېږي. د طول البلد هغه کرښه چې د لندن په ښارکې له گرينويچ څخه تېرېږي د طول البلدونو مبداء ده او صفر درجه منل شوې ده چې د طول البلد (۱۸۰) درجې يې د گرنيويچ ختيځ خواته پرتې دي او د ختيځ طول البلدونو په نامه او (۱۸۰) نورې درجې يې د گرينويچ لوېديځ خواته پرتې دي او د لوېديځ طول البلدونو په نامه يادېږي. د طول البلد هره درجه په (٦۰) دقيقو او هره دقيقه يې په (٦۰) ثانيو وېشل کېږي. د طول البلد کرښې په يوازې توگه د نړۍ په بېلو بېلو ځايونوکې د وخت توپير ښيي. ځکه په يوساعت کې د طول البلد پنځلس درجې د لمر له مخې تېرېږي. په نقشو کې د طول البلد او عرض البلد د کرښو تقاطع د ځايونو موقعيت ښيي.

### د ټولگي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي ، لومړۍ ډله دې د عرض البلدونو دايرې او دويمه ډله دې د طول البلد دايرې رسم کړي او خپل شکلونه دې د ټولگي په وړاندې تشريح کړي.

### پوښتنې

١_ شما لي قطب د عرض البلد په کومه درجه کې پروت دی؟
٢_ د استوا کرښه تعريف کړئ.
٣_ د ټولو طول البلدونو شمير څو درجې دی او ولې؟
٤_ د صفر درجې طول البلد له کوم مهم ښار څخه تېرېږي؟

### له ټولگي بهر فعاليت

زده کوونکي دې د عرض البلد کرښې په يوه کره کې رسم کړي او د مهمو دايرو نومونه دې واخلي.

# د ځمکې وضعي او انتقالي حرکتونه




ځمکه دوه ډوله مهم حرکتونه لري: وضعي حرکت او انتقالي حرکت.

ځمکه په ٢٤ ساعتونو کې د خپل محور پر چاپېر چورلېږي او خپله دوره بشپړوي، چې دا حرکت د ځمکې د وضعي حرکت په نامه يادېږي. دځمکې د وضعي حرکت له پايلو څخه د شپې او ورځې منځته راتګ دي. لمر تل په يوه طول البلد کې د ختلو په حالت کې او د هغه په مخالف لوري کې په يوه طول البلد کې د پرېوتو په حالت کې وي. نوځکه په ټولو طول البلدونو کې شپه او ورځ پرله پسې واقع کېږي. د ځمکې کره چې د طول البلد (٣٦٠) درجې لري، د (٢٤) ساعتونو په موده کې د لمر د وړانګو له مخې تېرېږي. په دې اساس په يوه ساعت کې د لمر د وړانګو ترمخې د طول البلد (١٥) درجې تېرېږي.(طول البلد١٥=٢٤÷٣٦٠)

ديوې سيمې دوخت د پيداکولو لپاره له نقشې څخه دهغې سيمې دطول البلد درجه پيداکوو، وروسته دهرې درجې توپير له خپل ښار سره پرتله کوو. څرنګه چې هره درجه په څلورو دقيقوکې دلمر دوړانګو تر مخې تېرېږي، هغه په څلورو کې ضربوو، پدې توګه د دوو سيمو د وخت توپير پيدا کېږي.

## د ځمکې انتقالي حرکت

د ځمکې انتقالي حرکت د لمر پر چاپېره ترسره کېږي او مدار يې بيضوي دی. لمر د بيضوي په يوه محراق کې ځای لري. د ځمکې حرکت پرمدار باندې په يوه ثانيه کې د (٣٠) کيلومترو په چټکوالي ترسره کېږي.

• په پسرلي کې، د لمر وړانګې د استوا پر کرښې عمودې وي او هغه هم د وري په لومړۍ نېټه (د پسرلي اعتدال)

• د چنګاښ پر لومړیو کې د دوبي پیل وي او د لمر وړانګې د سرطان پر دايرې عمودې لګېږي. (د دوبي انقلاب)

• د تلې په لومړیو کې، د منې فصل او د لمر وړانګې د استوا پر کرښې عمودې لګېږيي(د منې اعتدال)

• د مرغومي (جدي) په لومړیو کې ، د ژمي د فصل پیل او د لمر وړانګې د جدې پر دايرې عمود لګېږي (د ژمي انقلاب)

د سرطان او جدي د کرښو ترمنځ د لمر د وړانګو تګ او راتګ په دولسو میاشتو کې پوره کېږي او په منځنیو عرض البلدونو کې څلور فصله( پسرلی، دوبی، منې او ژمی) روښانه لیدل کېږي.

### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې د ځمکې انتقالي حرکت رسم کړي او د هغه په هکله دې په ټولګي کې خپلو ټولګیوالوته معلومات ورکړي.

### پوښتنې

۱_ ځمکه څو ډوله حرکتونه لري؟

۲_ د ځمکې وضعي حرکت څرنګه حرکت دی؟

۳_ د ۲٤ ساعتونو په موده کې د طول البلد څو درجې د لمر له مخې تېرېږي؟

٤_ د سرطان کرښه څه اهمیت لري؟

٥_ د پسرلي اعتدال څه دی؟

٦_ د دوبي لمریز انقلاب څه وخت منځ ته راځي؟

### له ټولګي بهر فعالیت

دځمکې د حرکتونو په هکله یو مطلب ولیکئ او په ټولګي کې یې ولولئ.

# د افغانستان جغرافيه



## د افغانستان موقعيت او څلور خواوې




افغانستان غرنی هېواد دی چې د آسيا د لوېږ وچې په سوېل کې په شمالي نيمه کره کې (د استوا کرښې شمال خواته) او په ختيځه نيمه کره کې ( د لندن د گرينويچ کرښې ختيځ خواته) پروت دی. د افغانستان پراخوالی (۶۵۲۰۰۰) کيلومتره مربع دی. زموږ هېواد افغانستان له څلورو خواوو وچې چاپېر کړی او آزاد سمندرته لار نه لري. د عربو سمندرگي ته يې نږدې واټن ۳۹۰ کيلومتروته رسېږي.

د افغانستان شمال ته د منځنۍ آسيا د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان جمهوريتونه پراته دي. زموږ د هېواد سوېلي او ختيځې پولې (سرحدونه) د پاکستان له اسلامي جمهوريت سره د ډيورند د تحميلي کرښې په واسطه په نښه شوي چې د افغانستان خلکوهغه په رسميت نده پېژندلې. زموږ د هېواد لوېديځ ته د ايران اسلامي جمهوريت پروت دی. زموږ هېواد شمال ختيځ ته په يوه لږه برخه کې د چين له جمهوريت سره گډه پوله لري. د منځنۍ آسيا هېوادونه هم آزاد سمندرته لار نه لري. لدې کبله دهغو سوداگري د آسيا له سوېلي هېوادونوسره د افغانستان له لارې کېږي چې دا موضوع د افغانستان موقعيت ته ښه ارزښت ورکوي.

### طبيعي جغرافيه

زموږ د هېواد $\frac{1}{3}$ برخه غرنۍ او ځيني برخې يې اوارې دي. دهندوکش د غرونو لړۍ، د بابا غر، سفيد کوه او سياه کوه د ترکستان تيربند او سپين غر او تور غر د غرو لړۍ لوړې سيمې جوړوي. دا غرونه د هېواد په منځنيو، شمال ختيځو او ختيځو سيموکې پراته دي. په لوړو غرنيو سيموکې ژمی ډېره سړه هوا لري او ډېر

اوربشت یې د واورې په بڼه وي. واورې په غرونو کې زېرمه کېږي او د پسرلي او دوبي په موسمونو کې د اوارو سیمو لپاره د سیندونو د اوبو اصلي سرچینه جوړوي.

دافغانستان د غرونو له لړیو څخه ډېر سیندونه سرچینه اخلي، دافغانستان پر ځینو سیندونو د برېښنا بندونه جوړ شوي چې له یوی خوا له نوموړو بندونو څخه په ګټې اخیستنې د هغو له برېښنا ګټه اخلو او له بلې خوا د هغو د اوبو له زېرمو څخه د کرنیزو ځمکو په خړوبولو کې کار اخلو.

اوارې ځمکې چې د غرونو په منځ کې پرتې دي او د خپلو شاوخوا سیمو په پرتله لوړې وي ، د لوړې سطحې په نامه یادېږي. زموږ د هېواد مشهورې لوړې سطحې: دپامیر او واخان له لوړې سطحې او مرکزي لوړې سطحې څخه عبارت دي.

د پامیر لوړه سطحه د آسیا د لویې وچې په منځنۍ برخه کې پرته ده چې لوړ والی یې د سمندر له سطحې څخه د ٦۰۰۰ او ۷۰۰۰ مترو تر منځ دی او د نړۍ د بام په نامه شهرت لري. ددې لوړې برخې یوه برخه د افغانستان په خاوره کې پرته ده.

د هېواد سوېل لوېدیځه برخه چې تود او وچ اقلیم لري، اوربشت یې لږ دی. په دغو سیمو کې د مارګو، سیستان او بکوا دښتې پرتې دي.

## د ټولګي دننه فعالیت

د نقشې له مخې پیداکړئ چې افغانستان له کومو هېوادونو سره ډېره ګډه سرحدي پوله لري، په ترتیب سره یې له اوږدې پولې لرونکو څخه پیل کړئ.

## پوښتنې

۱ــ افغانستان د آسیا د لویې وچې په کومه برخه کې پروت دی؟
۲ــ افغانستان د نړۍ په کومه برخه کې پروت دی؟
۳ــ د افغانستان پراخوالی څومره دی؟
٤ــ دافغانستان د ډېرو مشهورو غرونو نومونه واخلئ؟
٥ــ د هېواد د مهمو دښتو نومونه واخلئ. ؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

دافغانستان ګاونډي اسلامي هېوادونه د هغو له لوري سره په خپلو کتابچو کې لست کړئ او د جغرافیې په راتلونکي درسي ساعت کې یې په ټولګي کې وښیئ.

# د افغانستان د اقلیم په اړه څه پوهېږئ؟




افغانستان د جغرافيايي موقعيت او طبيعي جوړښت له امله په شپږو لاندنيو اقليمي سيمو وېشل شوی دی:

## ۱_ صحرايي اقليم

د هېواد سوېل لوېديځې سيمې لکه ګرشک، نيمروز او د فراه سوېلي برخې په برکې نيسي په دې سيمو کې اورښت لږ کېږي. په دغو سيموکې په ژمي کې واوره نه اوري زياته تودوخه او لږ اورښت ددې سيمې له ځانګړنو څخه دي. د شپې او ورځې تر منځ يې د هوا د تودوخې توپير ډېر دی چې شپې يې ډېرې سړې او د ورځې هوا يې ډېره توده وي. د مارګو، بکوا، خاشرود او سيستان دښتې په دغو سيموکې پرتې دي. په دغو برخوکې ډول ډول اغزن بوټي چې د وچې هوا او لنده بل د لږوالي په مقابل کې مقاومت لري، شنه کېږي.

## ۲_ غرنی اقليم

لوړوالی د ځمکې د مخ د اقليم په بدلون کې ډېره اغېزه لري چې د غرني سوړ اقليم د منځ ته راتلو سبب کېږي. څرنګه چې دهوا تودوالی په هرو زرو متروکې د شپږو درجو په شا وخواکې کمېږي او د واورې او باران د اورښت کچه يې ډېرېږي، نو له همدې کبله په لوړو غرنيو برخوکې له سړې هوا سره مخامخ کېږو. په دغو سيموکې ډېر اورښت د واورې په بڼه وي. دغه واورې په غرونوکې زېرمه کېږي او د سيندونو اصلي سرچينه جوړوي. د هندوکش او سالنګونو د منځنۍ برخې آب و هوا ددغه راز اقليم بېلګه ده.

## ۳_ مديترانه يي اقليم

د مديترانه يي اقليم سيمه ډېره توده او وچ دوبی لري. اورښت يې ډېر څله په ژمي کې د باران په توګه وي. وريجې، ګني او د

ستروس (نارنج) دکورنۍ مېوې په کې وده کوي. د ننګرهار او لغمان ولايتونه مديترانه يي اقليم لري.

### ۴_ د مونسون اقليم

د پکتيا، خوست او ننګرهار د ولايتونو ځينې سيمې مونسوني اقليم لري. په دغو سيمو کې په دوبي کې باران اوري. ددغو سيمو لنده هوا د لمنځې، څېړۍ، جنغوزېو او قهوې د ونو د ودې لپاره ډېره برابره او مناسبه ده. زموږ د هېواد ډېر طبيعي ځنګلونه په همدغو سيمو کې پراته دي.

### ۵_ ستپي (واښه لرونکی) اقليم

په دغو سيمو کې ډېر اورښت په ژمي کې کېږي. په دغو سيمو کې بوټي ښه وده کوي. دا سيمې د کرنې ودې او د څارويو روزنې ته ډېرې مناسبې دي. په دغو سيمو کې د بغلان، کندز، فارياب، پروان، غزني، کاپيسا، کابل او هرات ولايتونه شامل دي.

### ۶_ الپي توندرا اقليم

لوړې برخې چې د ځنګلونو او ونو ساحه پکې پای ته رسېږي او نباتات پکې د ورو بوټو او واښو په بڼه شنه کېږي، د توندرا د اقليم سيمه جوړوي. په دغو سيمو کې واوره ډېره اوري. ژمی يې ډېر سوړ او اوږد او دوبی يې معتدل او لنډ وي. د هوا د ډېر سړښت له امله پکې ونې نه شنې کېږي. په بدخشان کې د پامير سيمه د هندوکش لوړې برخې او دغزني ناور په دغه سيمه کې موقعيت لري.

### د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په دريو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د اقليم او صحرايي اقليم، دويمه ډله دې د غرني اقليم او مديترانه يي اقليم او دريمه ډله دې د مونسوني اقليم، ستپي اقليم او الپي توندرا اقليم په اړه بحث وکړي او هره ډله دې خپله موضوع د ټولګي په مخ کې بيان کړي .

### پوښتنې

۱_ اقليم تعريف کړئ.

۲_ د افغانستان دغه لاندې اقليمي جدول په خپلو کتابچو کې بشپړ کړئ.

| د اقليم نوم | ځانګړنې | نباتي پوښښ |
|---|---|---|
| صحرايي اقليم | | |
| | ډېره واوره او باران | |
| | | د ستروس د کورنۍ مېوې |
| مونسوني اقليم | | |
| | اورښت په ژمي کې | |

### له ټولګي څخه بهر فعاليت

ستاسو د استوګنې سيمه کوم ډول اقليم لري. په هکله يې په خپلو کتابچو کې څو کرښې وليکئ او د جغرافيې په راتلونکي ساعت کې يې خپلو ټولګيوالو ته ولولئ.

# د افغانستان مهم غرونه



## د غرونو يوه برخه

افغانستان يو غرنی هېواد دی چې کابو $\frac{1}{3}$ برخه خاوره يې غرونو نيولې ده. دا غرونه د افغانستان په منځنۍ او ختيځه برخه کې پراته دي. د هېواد ځينې غرونه په ځنګلونو پوښل شوي دي. په لوړو غرونو کې، دايمي واورې شته، دا واورې د کال په تودو فصلونو کې اوبه کېږي او د سيندونو سرچينه جوړوي.

### د هندوکش غر

هندوکش د افغانستان د ډېرو لويو غرونو له ډلې څخه دی چې د افغانستان له شمال ختيځ کوچني پامير څخه پيل شوی او د سوېل لوېديځ په لور د باميان تر درې پورې غزېدلی دی. ددغو غرونو لړۍ په مرکزي برخه کې پراخه سيمه نيولې ده. هندوکش د ښې مطالعې لپاره په دوو برخو وېشل شوی: ختيځ هندوکش او لوېديځ هندوکش. ختيځ هندوکش د بدخشان له زيباک درې څخه د خاواک تر کنډو پورې غزېدلی دی. ختيځ هندوکش ډېر لوړوالی لري. ډېره لوړه څوکه يې تراجمير نومېږي چې په چترال کې پرته ده او (۷۷۵۰) متره لوړوالی لري. ډېره لوړه څوکه يې د افغانستان په خاوره کې نوشاخ نومېږي چې د سمندر له سطحې څخه (۷۴۸۵) متره لوړه ده. لوېديځ هندوکش د خاواک له کنډو څخه د باميانو تر درې پورې غزېدلی دی. لوړوالی يې له ختيځ هندوکش څخه لږ دی. له دې کبله يې له کنډوونو څخه تګ راتګ آسانه دی. د سالنګ کنډو د (۳۴۰۰) مترو او د شيبر کنډو د

(۳۲۰۰) مترو په لوړوالی د لوېدیځ هندوکش له مشهوروکندوونو څخه دی چې له شمال څخه سوېل ته او د هغه پرعکس د خلکو د تګ او راتګ لاره ده.

## د بابا غر

د بابا غر د افغانستان په منځنی برخه کې له ختیځ څخه لوېدیځ ته د حاجیګک له کندو څخه پیل شوی او د حصار د غره تر سوېل پورې غزېدلی دی. لوړه څوکه یې شاه فولادي نومېږي چې د سمندر له سطحې څخه (۵۱٤۰) متره لوړه پرته ده. ددې غره لوړې څوکې ډېروخت له واورو ډکې وي. په شمالي او سوېلي لمنوکې یې د څارویو د روزنې لپاره ښه څړ ځایونه شته دي.

## سپین غر

سپین غر د افغانستان په ختیځ کې پروت دی. لوړه څوکه یې سیکارام اود سمندر له سطحې څخه (٤٧۵۵) متره لوړوالی لري. شمالي او سوېلي لمنې یې له طبیعي پراخو ځنګلونو څخه ډکې دي. د خیبر نامتو دره چې له تاریخي او ارتباطي پلوه د اهمیت وړ ده، ددغه غره په لړۍ کې پرته ده.
افغانستان ډېر غرونه لري. نور مهم غرونه یې دادي: فیروز کوه یا لوېدیځ سفیدکوه، لوېدیځ سیاه کوه، ګل کوه، د ترکستان تیربند، د سلیمان غرونه، چاګایي، ختیځ تورغر او نور.

### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي او د لاندې موضوعاتو په اړه دې بحث وکړي او موضوع دی د ټولګي ترمخ شرحه کړي. لومړۍ ډله دې د افغانستان نقشه رسم کړي، د بابا غر دې پکې وښيي او د هغه په اړه دې معلومات ورکړي. دویمه ډله دې د افغانستان نقشه رسم کړي، سپین غر دې پکې وښيي او د هغه په اړه دې معلومات ورکړي. دریيمه ډله دې د افغانستان نقشه رسم کړي او د هندوکش غر دی پکې وښيي او دهغه په اړه دې معلومات ورکړي.

### پوښتنې

۱ـ د افغانستان غرونه ډېر په کومه سیمه کې پراته دي؟
۲ـ د هندوکش غر زموږ د هېواد په کومې برخې کې پروت دی؟
۳ـ د بابا غر د هېواد په کومه برخه کې پروت دی؟
٤ـ سپین غر د هېواد په کومه برخه کې موقعیت لري؟
۵ـ د افغانستان د غرونو اهمیت بیان کړئ؟

### له ټولګي بهر فعالیت

په خپلو کتابچو کې د افغانستان نقشه رسم کړئ، مهم غرونه دکتاب د نقشې له مخې په هغې کې په نښه کړئ.

# د افغانستان سیندونه



د افغانستان د سیندونو نقشه

د غرونو په لوست کې مو ولوستل چې د هېواد په ډېرو لوړو غرونوکې دایمي واورې شته. دا واورې د کال په تودو فصلونو کې اوبه کېږي او د سیندونو د اوبو سرچینه جوړوي. سیندونه په سرچینه کې واړه وي او لږې اوبه لري، د لارې په اوږدوکې د څو ناوونو اوبه سره یوځای کېږي او سیند ورو ورو لوییږي.لوی سیندونه عموما مرستیالان او څانګې لري. د سیندونو څانګې د سیند په ښي او کینو غاړو کې بهیږي او په پای کې یې اوبه له لویو سیندونو سره یوځای کېږي. له لویو سیندونو سره د کوچنیو سیندونو د اوبو یوځای کېدل د سیندونو د سیستم په نامه یادېږي.

د جغرافیې پوهانو د افغانستان روانې اوبه په پنځو اوبه لرونکو حوزو وېشلې چې عبارت دي له:

لومړی ـ د کابل د حوزې سیندونه
دویم ـ د آمو د حوزې سیندونه
دریم ـ د هلمند د حوزې سیندونه
څلورم ـ د هریرود د حوزې سیندونه
پنځم ـ د ترلو حوزو سیندونه

## لومړی- د آمو د حوزې سیندونه

د آمو سیند چې یونانیانو د اکسوس او عربانو د جیجون په نامه یاد کړی دی، ددې سیمې ډېر لوی سیند دی چې له کوچني پامیر څخه سرچینه اخلي او د ارال په جهیل کې توییږي. دا سیند له زرقوله تر خماب پورې د (۱۲۰۰) کیلومترو په اوږدوالي د افغانستان او تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان د جمهوریتونو ترمنځ طبیعي پوله جوړوي. مرستیالان یې د افغانستان له خاورې څخه د کندز او کوکچې سیندونه دي.

## دویم- د کابل د حوزې سیندونه:

ددې حوزې ډېر لوی سیند د کابل سیند دی چې د پغمان دغره د اونی له کنډو څخه سرچینه اخلي او له لوېدیځ نه د ختیځ په لور بهیږي.د کابل ښار، لغمان او ننګرهار ولایتونو څخه تېرېږي او په اټک کې د سند

له سیند سره یوځای کېږي. د کابل د سیند مرستیالان دادي: د لوګر، پنجشیر، لغمان (الیشنګ او الینګار) او د کونړ سیندونه. د کابل د سیند له اوبو څخه د کرنې د ځمکو په خړوبولو کې ګټه اخیستله کېږي. د ماهیپر، نغلو، سروبي او درونټې د برېښنا بندونه د کابل د سیند په اوږدوکې جوړ شوي چې د هغو له برېښنا څخه د کابل، لغمان او جلال آباد د ښارونو په روښانولو کې ګټه اخیستله کېږي.

### درېیم_ د هلمند د حوزې سیندونه:

د افغانستان ډېر لوی او اوږد سیند د هلمند سیند دی چې د پغمان د غره له لوېدیځو لمنو څخه سرچینه اخلي او د لوېدیځ په لور بهېږي. اوږدوالی یې (۱٤۰۰) کیلومتره دی. مرستیالان یې د موسی کلا، ارغنداب، ترنک او ارغستان سیندونه دي.

### څلورم_ د هریرود د حوزې سیندونه:

ددې حوزې ډېر مهم سیند هریرود دی چې د بابا د غره له لوېدیځ څخه سرچینه اخلي او له ختیځ څخه د لوېدیځ لورته بهیږي. دا سیند له اسلام کلا څخه تر ذوالفقار پورې د افغانستان او ایران ترمنځ طبیعي پوله جوړوي. هریرود په خپله تګ لاره کې د هرات ولایت سمسوروي. ددې حوزې بل مهم سیند د مرغاب سیند دی.

### پنځم_ د تړلو حوزو سیندونه:

هغه سیندونه چې له لوړو غرونوڅخه سرچینه اخلي اویه یوې تړلې حوزې کې د افغانستان په د ننه کې بهېږي او له بل سیند سره نه یوځای کېږي، د تړلو حوزو د سیندونو په نامه یادېږي، لکه: د غزني سیند چې د غزنی له ښار څخه تېرېږي او وروسته د غزني په ولاړو اوبو کې توییږي. ددې حوزې نور سیندونه د بلخاب سیند، سمنګان سیند، اندخوی سیند او د قیصار سیندونه دي.

### د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د لاندې یوې موضوع په هکله سره خبرې وکړي او د هرې ډلې استازی دې خپله موضوع د ټولګي ترمخ بیان کړي.

_ د هلمند د حوزې سیندونه
_ د هریرود د حوزې سیندونه
_ د تړلو حوزو سیندونه

### پوښتنې:

۱_ د افغانستان ډېر اوږد سیند څه نومېږي او څومره اوږدوالی لري؟
۲_ د تړلو حوزو د سیندونو نمونه واخلئ؟
۳_ هریرود له کوم غره څخه سرچینه اخلي او کوم ولایت سمسوروي؟

### له ټولګي بهر فعالیت:

د پرانیستو حوزو سیندونه لکه، هلمند او نور د تړلو حوزو له سیندونو سره پرتله کړئ او خپل معلومات ټولګي ته وړاندې کړئ.

# د افغانستان د جهیلونو په اړه څه پوهېږئ؟



دیو جهیل انځور

هغه ولاړې اوبه چې څلورو خواوته یې وچه وي، د جهیل په نامه یادېږي. زموږ هېواد په ځینو برخوکې ترلې حوزې لري، چې د جهیلونو د رامنځته کېدو سبب شوي دي. ځینې له دغو جهیلونو د مساحت له مخې کوچني او ځینې لوی دي. یو شمېر له دغو جهیلونو په لوړو سیمو کې له یخچالي اوبو څخه منځته راغلي او ځینې په اوارو سیمو کې د سیمه ییزو سیندونو د اوبو له توییدوڅخه جوړ شوي دي او په بېلو بېلو نومونو، لکه هامون، کول، ولاړې اوبه او یا جهیل په نامه یادېږي.

## د سیستان هامون

د هلمند هامون، د صابري هامون، د پوزک هامون او د ګود زیرې هامون د هېواد په سوېل لوېدیځه برخه کې د نیمروز په ولایت کې د سیمه ییزو سیندونو اوبه جوړوي. ددغو هامونونو غاړې د سیندونو د اوبو د زیاتېدو له امله توپیر کوي.

د هلمند هامون د افغانستان او ایران ترمنځ دطبیعي پولې یوه برخه جوړوي چې یوه برخه یې په افغانستان او بله برخه یې په ایران پورې اړه لري.

## د شیوا جهیل

د شیوا جهیل د بدخشان په ولایت کې پروت دی. اوبه یې پاکې او رڼې دي، مخ یې په ژمي کې کنګل کېږي. د شیوا جهیل د سمندر له سطحې څخه (۳۰۵۰) متره لوړوالی لري.

## د زرقول جهيل

د زرقول جهيل د پامير په لوړه سطح کې د افغانستان او تاجکستان د پولې تر منځ پروت دی. دا جهيل د آمو او پامير د سيندونو لومړنۍ سرچينه ده. د شمالي غاړې اوږدوالی يې شپږ کيلومتره، د سوېلي غاړې اوږدوالی يې لس کيلومتره او سورېې څلورنيم کيلومتره دی، دا جهيل هم يخچالي دی. د کال په ډېرو وختو کې يې اوبه منجمدې يا کنګل وي.

## د چقمقتين جهيل

دا جهيل هم په پامير کې پروت دی. د واخان سيند له دغه جهيل څخه سرچينه اخلي. ددغه جهيل اوږدوالی ۱۷ کيلومتره او سورېې دوه نيم کيلومتره دی. شاوخوايې شنه او سمسور دي. د قرغز د خلکو د څارويو لپاره يې څر ځايونه جوړ کړي دي.

## د غزني ولاړې اوبه

د غزني ولايت سوېل خواته موقعيت لري. د غزني سيند پکې توييږي. ددغه جهيل اوبه ښه خوند نه لري. د هرات مالګين جهيل د افغانستان او ايران د پولې تر منځ پروت دی. اوبه يې مالګينې دي اوله هغه څخه مالګه لاس ته راوړي. له پورتنيو جهيلونو پرته، يو شمير طبيعي بندونه چې سيمه ييز جهيلونه يې جوړ کړي دي، هم زموږ په هېواد کې شته دي چې ډېرې ښکلې او زړه وړونکې منظرې جوړوي.لکه د باميانو په ولايت کې د(هيبت، پنير، جداسل، پودينه او ذولفقار بندونه) چې ټول د بند امير په نامه يادېږي.

### په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي، لومړۍ ډله دې د جهيلونو او د هغو د منځته راتګ، دويمه ډله دې د سيستان د هامون او د غزني د ولاړو اوبو، درېيمه ډله دې د بدخشان ولايت د جهيلونو، زرقول او چقمقتين او څلورمه ډله دې د بند امير په هکله سره بحث وکړي او د بحث پايله دې د ټولګي په مخ کې بيان کړي.

### پوښتنې

۱ــ جهيل تعريف کړئ.
۲ــ د لوړو او ټيټو برخو جهيلونه سره څه توپير لري؟
۳ــ د هلمند هامون د کومو هېوادونو ترمنځ يوه برخه پوله جوړه کړېده؟
٤ــ د زرقول جهيل د افغانستان په کومه برخه کې پروت دی؟
۵ــ د اميربند د افغانستان په کومه برخه کې پروت دی؟

### له ټولګي بهر فعاليت

هغه جهيلونه چې تاسې ليدلي، نومونه يې واخلئ، د هغو په هکله څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ او د جغرافيې په راتلونکي درسي ساعت کې يې په ټولګي کې خپلو ټولګيوالوته وړاندې کړئ.

نهه ویشتم لوست:

# بشري جغرافيه




د جغرافيې علم په بېلابېلو څانګو وېشل کېږي چې د هغو له اصلي څانګو څخه يوه هم بشري جغرافيه ده چې د نفوسو، قومونو، ژبو، دينونو او نورو موضوعاتو په هکله بحث کوي.

## نفوس

افغانستان يو غرنی هېواد دی چې کابو ۳۲ ميليونه وګړي لري. په ۱۳۹٤ کال کې په افغانستان کې په هر کيلومتر مربع کې د وګړو ګڼوالی په منځني توګه ٤۲ تنه و. د نفوسو وېش د افغانستان په ټولو ځايونو کې يو ډول نه دی. په ختيځو برخوکې د وګړو ګڼوالی ډېر او په سوېل لوېديځو او منځنيو برخوکې د وګړو ګڼوالی لږ دی. د هېواد اوسېدونکي د بېلابېلو سياسي، اقتصادي او اقليمي عواملو په اساس له کليو څخه د ښارونو په لور مهاجرت کوي چې دا کار په ښارونوکې د خلکو د ګڼوالي سبب شوی دی، له دې امله د کابل د ښار نفوس له پنځو ميليونو ډېر دی .

## قومونه

زموږ ګران هېواد ،د افغانستان د اسلامي جمهوري په نامه او هر تبعه يې د (افغان) په نوم يادېږي. د بشري جغرافيې له نظره افغانستان له بېلوبېلو قومونو، لکه: پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، بلوڅ، نورستاني او نورو څخه جوړ شوی دی. پښتانه او تاجکان چې ددې سيمې له آريايي نژاد

شخه دي، د هېواد په کابو ټولو برخوکې ژوند کوي. هزاره گان، ازبکان او ترکمنان هم د افغانستان له نورو توکمونو شخه دي چې ډېری دافغانستان په مرکزي لوړه سطحه او شمالي برخو کې اوسېږي. نورستانیان او پشه یان هم له اصلي قومونو شخه دي چې په ختیځو ولایتونو کې ژوند کوي. بلوڅان هم د هېواد له اصلي اوسېدونکو شخه دي چې په بلوڅي ژبه خبرې کوي او د افغانستان په سوېل لوېدیځ کې ژوند کوي.

## ژبې

په افغانستان کې له ډېرشو شخه ډېرې ژبې او لهجې شته دي چې ځینې یې دادي: پښتو، دري، ازبیکي، ترکمني، بلوڅي، پراچي،منجي، واخي، زیباکي، اشکاشمي، پشه یي، نورستاني، تیرایي، جتي، سندي، پنجابي او نورې چې له دې جملې شخه دوې ژبی (پښتو او دري) چې د هېواد اکثریت وګړي ورباندی خبرې کوي. زموږ د هېواد رسمي ژبې دي. سیمه ییزې ژبې، لکه: ازبکي، ترکمني، بلوڅي، نورستاني او پشه یي په خپلو سیمو کې د دریيمو ژبو په توګه رسمیت لري.

## دین

زموږ د هېواد خلک د اسلام د سپېڅلي دین پیروان دي. زموږ ډېر خلک حنفي مذهبي دي. یوشمېر جعفري او اسماعیلي مذهبي او یو شمېر هندوان هم په دې هېواد کې ژوند کوي.

### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د بشري جغرافیې پر یوې موضوع، لکه: نفوس، قومونه، ژبې او د افغانستان د خلکو ددین په هکله سره خبرې وکړي او له هرې ډلې دې یوتن موضوع د ټولګي په مخ کې تشریح کړي.

### پوښتنې

۱ـ د افغانستان اتباع په څه نامه یادېږي؟
۲ـ په افغانستان کې د ژبو شمېر څومره دی او د څو مهمو ژبو نومونه واخلئ؟
۳ـ د افغانستان د رسمي ژبو نومونه واخلئ؟
٤ـ په افغانستان کې د کومو دینونو پیروان ژوند کوي؟

### له ټولګي بهر فعالیت

ستاسو په ولایت او د استوګنې په سیمه کې مهاجرت له کلي شخه ښار ته ډېر دی او که له ښاره کلي ته؟، په څو کرښو کې یې ولیکئ اوپه ټولګي کې یې شرحه کړئ.

# دافغانستان اقتصادي جغرافيه





دافغانستان کرنیزې نقشې

د نباتاتو د غټیدو او ودې لپاره هوا، اوبو، خاورې، لمر او ښې ډول ډول سرې ته اړتیا ده، د ځمکې خاوره د نباتاتو تکیه ځای دی او پکې بېلابېل غذايي توکي شته. افغانستان يو داسې هېواد دی چې په سلوکې ۸۵ خلک يې د کرنيزو محصولاتو له لارې ژوند کوي. زموږ په هېواد کې د اريايانو له وخته تر اوسه کرنه په دوديزه توګه دخارويو په وسيله د يوې او د کروندګرو د مټو او لاسونو په زور ترسره کېږي. په ځينو ولايتونو کې د ماشين الاتو څخه هم کار اخيستل کيږي.زموږ کرنيز حاصلات غلې دانې، لکه: غنم، وريشې، جوار، وريجې،ږدن، لوبيا، نخود، مې، مشنګ، باقلي او داسې نور دي.

## غنم

دغنمو کرل په کرنيزو ځمکو کې په اوبيزه او للمي توګه د منې او پسرلي په موسمونو کې سرته رسېږي. د منې غنم په تودو سيمو کې تر (۲۵۰۰) مترو لوړوالي او پسرلني غنم په اوبيزه او للمي توګه تر( ۳۳۰۰) مترو لوړوالي پورې کرل کېږي. په سړو سيمو کې د کال يو يا دوه فصله حاصل اخيستل کېږي او د تودو برخو په ځينو سيمو، لکه ننګرهار کې له يوې کرنيزې ځمکې څخه په يو کال کې درې فصله حاصل هم اخيستل کېږي.

للمي غنم د کب او ورې په مياشتو کې د غونډيو په لمنو او اوارو ځمکو کې کرل کېږي چې د پسرلنيو اورښتونو په وسيله خړوبېږي.

افغانستان ٦٦ مليونه هکتاره ځمکې لري، چې تر اوسه يې يوازې ۳،۳۷ مليونه هکتاره ځمکه د غنمو کرنې ته ځانګړې شوې ده.

په ۱۳۸۶ هـ.ل کال کې د غلو ټول تولید ٦،٥ میلیونه ټنه شمېرل شوی، خو د هېواد د وګړو د خوړو لپاره د نورو (٥٢٧) زره ټنو د واردولو اړتیا وه. د کرنې له ماشین آلاتو څخه د ګټې اخیستنې په اساس په هر هکتار ځمکه کې د غنمو حاصلات (٢،٦) ټنه وو او په ۱۳۸٦ هـ.ل کال کې په ټول افغانستان کې د غنمو تولید (٤،٥) میلیونه ټنه زیات شوی دی.

## وریجې

د نریو او غټو وریجو کرل چې له غنمو وروسته زموږ د خلکو له خوراکي توکو څخه شمېرل کېږي، په (٢١٤) زره هکتاره ځمکه کې کرل کېږي. د وریجو کرل په هغو سیمو کې چې تود اقلیم، لنده هوا او ډېرې اوبه لري، ښه حاصل ورکوي. نو ځکه د بغلان نرۍ باړه وریجې، د کونړ د پشد وریجې، د لغمان نرۍ وریجې، د کندز د خان آباد د سیمو وریجې او د مزارشریف وریجې ډېر شهرت لري.

## جوار

جوار زموږ د هېواد د خلکو بل خوراکي توکی دی چې کرنه یې تر ۲٦۰۰ مترو لوړوالي کې ترسره کېږي او د کرنې ساحه یې د ۵۰۰ زره هکتاره ځمکې په شاوخواکې ده. د جوارو کرنه تر ډېره د پکتیا او ننګرهار په ولایتونو کې ترسره کېږي.

### د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې له لاندنیو فعالیتونو څخه د یوه په هکله په خپل منځ کې سره بحث او خبرې وکړي او یو تن دې د خپلې ډلې په استازیتوب د خپلو خبرو پایله د ټولګي تر مخ شرحه کړي.

ـ د غنمود کرنې په هکله معلومات ورکړئ.
ـ په هېواد کې د وریجو د کرنې په هکله معلومات ورکړئ.
ـ د جوارو د کرنې په هکله معلومات راټول کړئ.

### پوښتنې

۱ـ د هېواد د غوره کرنیزو محصولاتو نومونه واخلئ.
۲ـ د اوبیزو غنمو او د هغو د کرنې د وخت په هکله څه پوهېږئ؟
۳ـ د للمي غنمو د کرنې په هکله معلومات ورکړئ؟
٤ـ په هېواد کې د وریجو د کرنې او ډولونو په هکله یې څه پوهېږئ؟
٥ـ اوبیز او للمي غنم سره څه توپیر لري؟

### له ټولګي بهر فعالیت

ستاسو په سیمه کې کوم کرنیز محصولات کرل کېږي، خپل معلومات خپلو ټولګیوالوته بیان کړئ.

# صنعتي او طبي نباتات



دگنیو کرونده



د زعفران کرونده

## الف ـ صنعتي بوټي

د افغانستان طبیعي ځانګړنو او جغرافیایي موقعیت ته په پام سره په دغه هېوادکې ډېر صنعتي او طبي بوټي وده کوي.زموږ صنعتي بوټي له پنبې، چغندرو، ګنیو او داسې نورو څخه عبارت دي.

### ۱ـ پنبه

پنبه له دوو برخو څخه چې یوه یې مالوچ او بله برخه یې پنبه دانه ده او د نساجۍ په فابریکوکې یو له بل څخه جلا کېږي، جوړه شوېده. د مالوچو له برخې څخه یې د نساجۍ په فابریکوکې هر ډول نخي ټوکران، سطرنجۍ، جوال او رسۍ جوړوي او همداراز له پنبه دانې څخه یې نباتي غوړي، د کالیو مینځلو صابون او له پاتې توکو څخه یې د حیواناتو لپاره کنجاره جوړوي. تر کورنیو جګړو دمخه زموږ په هېوادکې د بګرامیو، ګلبهار، پلخمرۍ، کندز، مزارشریف، بلخ، هرات، هلمند، کندهار او ننګرهار د نساجۍ فابریکو فعالیت کاوه چې ډول ډول سپنسین ټوکران یې تولیدول. د پنبې نبات د ثور په میاشت کې کرل کېږي او د منې په وروستیو کې په لومړۍ، دویمې، دریېمې او څلورمې درجې د لاس په وسیله راټولېږي او د دوبي په تودې هواکې ښه حاصل ورکوي. هغه ولایتونه چې پنبه پکې کرل کېږي بغلان، کندز، تخار او بدخشان ولایتونه دي، چې د هېواد په سلوکې نوي پنبه تولیدوي. پنبه د سمنګانو، بلخ، هرات، هلمند، ننګرهار، لغمان، پروان او کاپیسا په ولایتونوکې هم کرل کېږي. د پنبې د مالوچو یوه برخه په کورنیو بازارونوکې پلورل کېږي.

**۲ـ چغندر**: دچغندرود کرنې لپاره هغه ځمکې مناسبې دي چې آهکي توکي لري او ډېرې پکې نه وي چې د کښت دارنګه پراخه سیمه یې زموږ د هېواد د بغلان او کندز په ولایتونوکې ده. د بغلان د بورې په فابریکې

کې له چغندرو څخه بوره او له پاتې برخې څخه يې د حيواناتو لپاره کنجاره جوړوله.

### ۳_ ګنې

د ګنې بوټی په توده او لنده هوا کې چې ډېرې اوبه لري، شنه کېږي. دا بوټي ډېر د ننګرهار، لغمان او کونړ په ولايتونو کې کرل کېږي چې له هغه نه ګوړه جوړ وي. د هغه پاتې برخې نه د څارويو د خوراک لپاره ګټه اخيستله کېږي. پدې وروستيو وختونو کې د ګنيو قلمې له هند څخه واردشوي او د کندهار او هلمند په ولايتونو کې هم کرل کېږي.

| شمېره | د بوټي نوم | د کښت ساحه په جريب |
|---|---|---|
| ۱ | پنبه | ۲۷۲۸۷۰ |
| ۲ | چغندر | ۲۲۵۹۰ |
| ۳ | ګنې | ۱۱۸٤۰ |

## ب_ طبي بوټي

په کرنيزو فصلونو کې د طبي بوټو له جملې څخه زعفران، سپيرکی، باديان او زېړکی کرل کېږي او نور بوټي، لکه خوږه وله، هنګه، کاسني، پنيرک، مستيار، سپېلنی،ختمي، خاکشير، شيرخشت،ګربه خورک، ملنګان، سپېغول،دغره پياز او هوګه ټوله په خپل سر دغرونو او غونډيو په لمنو، دښتو، ويالو او د کروندو په څنګ کې شنه کېږي او د شفا ورکوونکو درملو په توګه په يوناني طبابت کې په کورنيو بازارونو کې پلورل کېږي. زعفران، خوږه وله، هنګه، زېړکی او ځينې نور طبي بوټي د هېواد د صادراتو مهمه برخه جوړوي.

### د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په دريبو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د پنبې، دويمه ډله دې د چغندرو او دريېمه ډله دې د طبي بوټو او له هغو نه د ګټې اخيستلو په هکله بحث وکړي او يو تن دې د خپلې ډلې په استازيتوب د بحث پايلې د ټولګي په مخ کې خپلو ټولګيوالوته بيان کړي.

### پوښتنې

۱_ د هغو ولايتونو نوم واخلئ چې پنبه پکې کرل کېږي.
۲_ له چغندرو څخه څرنګه ګټه اخيستله کېږي؟
۳_ ګنې په څرنګه اوبو او هوا کې ډېره ښه وده کوي؟
٤_ د طبي بوټو نوم واخلئ؟

### له ټولګي بهر فعاليت

ستاسويه سيمه کې څه ډول صنعتي او طبي بوټي وده کوي، په خپلوکتابچو کې د هغونومونه وليکئ او د جغرافيې په راتلونکی درسي ساعت کې يې خپلو ټوليګوالو ته وړاندې کړئ.

# د افغانستان د مالداری، څرڅایونو او ځنګلونو په هکله څه پوهیږۍ؟



اهلي څاروي- پسونه اوغوا

## الف ـ مالداري

مالداري او د ژويو ساتل زموږ د هېواد د کورنۍ شتمنۍ يوه مهمه سرچينه شمېرل کېږي چې په دوو برخو وېشل کېږي:

۱ـ **اهلي ژوي**: لکه پسه، وزه، غوا او غوايه، آس، اوښ او کورني چرګان دي.

**پسه**: د پسو ځينې نور ډولونه، لکه هزاره ګي، ترکي او کندهاري مشهور دي. د پسونو لوښي او وړې رمې د ځمکه لرونکو او کوچيانو په وسيله ساتل کېږي چې له غوښو، پوستکي، وړيو او کولمو څخه يې ګټه اخستل کېږي. د پسونو وړی، پوستکي او کولمې بهرته هم صادرېږي. د ترکي پسه کولمې ډېر پېرودونکي لري.

د قره قل پسونه چې ډېر د هېواد په شمالي ولايتونوکې په سمنګانو، بلخ، جوزجان، فارياب، کندز او هرات کې ساتل کېږي، د هغو له پوستکي څخه پوستين او پوستينچه جوړېږي او په هغو هېوادونوکې چې سړه هوا لري، لکه کاناډا، روسيه او د امريکا متحده ايالتونو باندې ډېر پلورل کېږي. د قره قل د وري پوستکي د سره، کبودچه او تورتقر په نامه د لوېديځې اروپا هېوادونو، د امريکا متحده ايالاتو، هند او کاناډا ته صادرېږي.

**غوا**: له هغې څخه شيدې او لبنيات لاس ته راځي او د هېواد په کليوکې يې کروندګر او د ځمکې خاوندان ساتي.

**آس**: قطغني، مزاري، ترکمني او هراتي آسونه مشهور دي او د سپرلۍ، وزلوبې، نيزې وهلو، بار وړلو، کرنيزو چارو او ګاډۍ کې ورڅخه ګټه اخيستله کېږي.

**اوښ**: کوچيان اوښان ساتي او له شنو سيمو او څرځايونو څخه د کډه کولو پرمهال له هغو نه په بار وړلو کې ګټه اخلي او وايي چې: اوښ وفا دار څاروی دی،چې ځوزخوري اوبار وړي.

**خر**

خر د بار وړلو لپاره پکارېږي. ډېر يې کروندګر او خرکاران ساتي. د شمالي سيمو خره غښتلي او غټ دي.

### ۲ـ وحشي ژوي

زموږ په هېواد کې ۱۲۰ ډوله وحشي او تي لرونکي حيوانات شته چې د هغو له ډلې پړانګ، زمرى، لېوه، ګيدړ، سورلنډی، سوی او نور دي او ۵۰۰ ډوله بېلابېل الوتونکي هم شته چې د هغو له جملې څخه کولای شو د ډېنګ، زاڼې، باز، هيلۍ، زرکې او دښتي چرګ ډولونو ته اشاره وکړو.

### ب ـ څرځايونه

د افغانستان څرځايونو ۳،۲ مليونه هکټاره ځمکه نيولې ده. د هېواد په شمال، جنوب او ختيځ کې د تودو سيمو چمنونه، د ځارويو دايمي څرځايونه دي. د ځنګلونو په ساحه، د هندوکش د غرونو د لړيو په لمنو او ناوونو او د شمال په نورو غرونو، مرکزي، ختيځو او سوېلي ولايتونو او د غزني د ناور په دښته کې د پسرلي په معتدلې او د دوبي په تودې هواکې د مالدارانو او مالداره کوچيانو لپاره ښه څرځايونه شته. دا د خدای(ج) ورکړې شتمني مهم حياتي ارزښت لري.

### ج ـ ځنګلونه

په افغانستان کې د ځنګلونو ساحه د دوو مليونو هکټارو په شا او خواکې ده. ځنګلي سيمې زموږ په هېوادکې د نورستان، ننګرهار، لغمان، کونړ، پکتيا، پکتيکا، بدخشان، بغلان، سمنګانو، سرپل، بادغيس او هرات ولايتونه دي.
د نورستان او کونړ د چارتراشو لرګي د نړۍ په سطحه ډېر پېرودونکي لري او د هېواد مهم صادراتي مواد جوړوي. دولت پدې وروستيو وختونو کې کلکه پاملرنه کړې چې د ونو د وهلو مخه ونيسي، په دغو سيمو کې د ډول ډول نيالګيو کينول لازم دي.

### د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې له لاندنيو موضوعګانو څخه پر يوې باندې خبرې وکړي او له بحث وروسته دې يو تن د خپل بحث پايله د ټولګي تر مخ بيان کړي.

ــ د پسه او غوا په هکله معلومات ورکړئ.
ــ د وحشي حيواناتو په هکله څه پوهېږئ؟
ــ د څر ځايونو په هکله دې معلومات راټول کړي.
ــ د طبيعي ځنګلونو په هکله دې څرګندونې وکړي.

### پوښتنې

ګرانو زده کوونکو لاندني جدول ته ځير شئ. د کلمو او اصطلاحاتو ترڅنګ عدد د الفبا له اړوند توري سره چې توضيحات لري، په خپلو کتابچو کې ونښلوئ. د مثال په توګه د ٤ عدد د الف له توري سره اړيکه لري.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١ | اوښ | الف | پوستکی يې زموږ د هېواد د صادراتو مهم قلم دی. |
| ٢ | غوا | ب | د څر ځايونو لپاره له يوه ځايه بل ځای ته کډه کوي. |
| ٣ | کوچيان | ج | له هغه نه په سپرلۍ، باروړلو، وزلوبې او نېزې وهلو کې ګټه اخلي. |
| ٤ | د قره قل پسه | د | وفا داره حيوان دی چې خوږ خوري او بار وړي. |
| ٥ | آس | هـ | شنې بوټې لرونکې سيمې دې چې د پسونو، وزو، آس، غوايي او خرو رمې پکې څري. |
| ٦ | ځنګلونه | و | له هغې څخه لبنيات لاس ته راځي. |
| ٧ | پسته او بادام | ز | زموږ د هېواد له صادراتي ميوو څخه دی. |
| ٨ | څر ځايونه | ح | زموږ طبيعي او ملي شتمني ده. |

### له ټولګي بهر فعاليت

د وحشي ژويو نومونه واخلئ او په خپلو کتابچو کې د هريوه په هکله يو مطلب وليکئ چې له هغو سره بايد څه وشي؟

# د سون کاني مواد



د ډبرو د سکرو کان

## د ډبرو سکاره

د ډبرو سکاره نباتي منشاء لري او د رسوبي ډبرو له جملې څخه دي چې د سون موادو په توګه ورڅخه کار اخيستل کېږي. د هېواد د ډبرو د سکرو کانونه د هندوکش د غرو له رامنځ ته کېدو سره يوځای منځ ته راغلي دي. په هغه وخت کې ځنګلونه د ډبرو په شاوخواکې واقع شوي وو او د ډېر فشار او تودوخې له امله په يوې اوږدې مودې کې د هوا د نشتوالي له امله په ډبرو سکرو باندې اوښتي دي چې اوس د سمنګانو په دره صوف، د پلخمري په کرکر، د سيغان درې په اشپشتې، د هرات کرخ او په بنګې کې يې لويې زېرمې تثبيت شويدي. د دره صوف د ډبرو د سکرو له کان څخه د امير عبدالرحمن خان له دورې څخه په ابتدايي شکل سره ګټه اخيستنه پيل شوې ده او زېرمه يې د ٧٦ مليونو ټنو په شاوخواکې تثبيت شوې ده.

د پلخمري د کرکر د ډبرو د سکرو کان زېرمه چې د کوک ښه جنس لري، د څلور ميليونو ټنو په ظرفيت اټکل شوی ده. د هرات د کرخ سکاره د سبزک د غاښې په لمنه کې پراته دي. د بنګې د سکرو زېرمې تر اوسه لاس نه دی خوړلی.

## نفت

دا توکی حیواني منشاء لري چې د سمندري ژویو له اجسادو څخه چې په اوږده موده کې د ځمکې د رسوبي طبقاتو په منځ کې تر ډېر فشار لاندې راغلي او خوسا شوي، په لاس راځي. د نفتو له چاڼېدو څخه د الوتکو تېل، ډيزل د ډيزلي ماشينونو د سون لپاره، پټرول د پټرولي ماشينونو د سون لپاره، د خاورو تېل او نور مشتقات يې لکه: مبلايل، گريس، وايکم، قير، واسلين او داسې نور لاس ته راځي.

په افغانستان کې له ١٣١٤ هـ ش کاله تر ١٣٤٣ هـ ش کاله د طبيعي گاز او نفتو پلټل پيل شوي او په پايله کې يې ځرگنده شوه چې د تخار د رستاق له ولسوالۍ څخه د ايران تر سرحده د آمو سيند له ختيځ، لوېديځ او سوېل څخه د ترکستان د تيربند ترشمالي لمنو، لوېديځ هندوکش، او د بابا تر غره پورې د نفتو د پيدا کېدلو لپاره برابرې سيمې دي. د نفتو زېرمې په رستاق، تالقان، آبدان ميرعلم، شبرغان، ميمنې، هرات او هلمند کې تثبيت شوي دي.

## طبيعي گاز

طبيعي گاز په شبرغان کې د خواجه گوگردک (يتيم تاق)، خواجه برهان اوجر قدوق په سيمو کې شته. چې پخوايې را ايستنه د روسانو په وسيله شوې او يوه برخه يې د پايپ لين په وسيله پخواني شوروي اتحاد ته لېږ دول شوې وه.

د طبيعي گاز له سوزولو څخه په ژمي کې د کورونو په تودولو، د غذايي موادو په پخولو او د گازي څراغونو په روښانولو کې کار اخيستل کېږي.

### د ټولگي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په درې ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د يوه کان: د ډبروسکارو، نفتو او طبيعي گازو په هکله سره بحث وکړي او پايله دې په ټولگي کې وړاندې کړي.

### پوښتنې

١ـ د ډبرو سکاره د افغانستان له کومو برخو څخه لاس ته راځي؟
٢ـ د نفتو د پيدايښت په هکله ځرگندونې وکړئ؟
٣ـ د طبيعي گازو له سوزولو څخه څه گټه اخيستله کېږي؟

### له ټولگي بهر فعاليت

هر زده کوونکي دې په افغانستان کې د سون د موادو د اهميت په هکله معلومات راټول او د جغرافيې په راتلونکي درسي ساعت کې دې په ټولگي کې وړاندې کړي.

# د افغانستان کانونه




دافغانستان د کانونونقشه

افغانستان بېلابېل کانونه لکه: نفت، طبیعي ګاز، د ډبرو سکاره، اوسپنه، مس، سره زر، سپین زر، سرپ، جست، مالګه، سلفر، قیمتي ډبرې او د مرمرو ډبرې لري.

## اوسپنه

اوسپنه د ځمکې په پوټکي (قشر) کې ډېره په نصواري، سور، تور او ژېړ لیمویي رنګونو پیداکېږي. افغانستان د اوسپنې ډېر کانونه لري چې ډېر مهم یې د حاجیګګ د اوسپنې کان دی چې د اوسپنې اندازه یې په سلو کې ٦٣ ته رسېږي. همدا رنګه د اوسپنې کانونه په ارزګان، د کندهار په خاکریز، د جوزجان په فیض آباد، پکتیا، هرات او د پروان په جبل السراج کې پیداکېږي. زموږ د هېواد پښتان په لاسي صنایعو کې له اوسپنې څخه د بزګرۍ، ترکاڼۍ او د کورونو د کار وسایل جوړوي.

## مس

په لرغونو زمانو کې د ډبرو او لرګیو د وسایلو ځای د مسو سور رنګه پوست فلز ونیو او انسانانو د پرمختګ په لور یو ګام کېښود. د مسو کانونه زموږ د هېواد د لوګر په عینکو، د میدان په کهنه خمار، د کابل په چکرۍ منار، د کندهار په خاکریز، غوربند، بدخشان او د بلخ په ولایتونو کې شته. مس د برېښنا او تودوخې قوي هادي دي. د هغه له سیمونو څخه د برېښنا په لینونو کې ګټه اخیستله کېږي. زموږ د هېواد مسګران له مسونه واړه او غټ مسي. دیګونه، صافي ګان، غوري، آبګردان، ځمڅۍ، کفګیر، کاشوغې او نور د اړتیا وړ شیان جوړوي.

## سره زر
د سرو زرو قیمتي فلز، ښه رنګ اوپه زړه پورې ځلا لري. سره زر زنګ نه کوي. د پیسو لوی ملاتړی دي. له هغوڅخه ډول ډول ګاڼې او د ښځو پسولونه جوړوي. سره زر په زابل، کندهار او د کوکچې د سیند په غاړوکې موندل کېږي.

## سپین زر
سپین زر لکه سره زر زنګ نه نیسي او د برېښنا او تودوخې قوي هادي دي. د ګاڼو په توګه ډېر کارول کېږي. کانونه يې په پنجشیر، د هرات په سیم کوه او د کندهار په بي بي ګوهر سیمو کې دي.

## قیمتي ډبرې
لاجورد د بدخشان ولایت په غرونو کې له لرغونو زمانو راهیسې پېژندل شوي او له هغه نه ګټه اخیستل کېده .لاجورد نړیوال شهرت لري اوله یو څخه تر پنځو درجو وېشل شوي چې له هېواد څخه بهر ته صادرېږي.
یاقوت، لال، د بدخشان لاجورد او د پنجشیر زمرد نه یوازې د هېواد په قیمتي ډبرو بلکې په سیمه او نړۍ کې شهرت لري او ډېر پېرودونکي لري.

## د سرپو او جستو کانونه
نوموړي کانونه په هزاره جاتو، د هندوکش د غرو په لمنو، بلخ، بدخشان او کندهار کې موندل کېږي.

## د مالګې کانونه
د مالګې کانونه د تخار په تالقانو، د جوزجان په اندخوی، هرات، مزارشریف او د غزني د مقر په سیمو کې شته. د ډبرو شین رنګه، شنه بخنه ډبرینه غرنۍ مالګه، د هزاره جاتو په سیمو کې موندل کېږي. د تالقانو او د هزاره جاتو له ډبرینې مالګې څخه د خوړو په توکو کې زیاته ګټه اخیستله کیږي.

## سلفر
د سلفر یا ګوګړوکان د (٦٠٠) ټنو په ظرفیت په مزارشریف او یوه اندازه يې د بدخشان په اشکاشم کې تثبیت شوی دی.

### د ټولګي دننه فعالیت
زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د افغانستان د کانونو د دوو سرلیکونو په هکله سره بحث وکړي او پایلې دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

### پوښتنې
۱ــ د مسو معدن په کوم ځای کې ډېر موندل کېږي؟
۲ــ د سرو زرو کان د افغانستان په کوم ځای کې دی؟
۳ــ د اوسپنې د کان اهمیت بیان کړئ؟

### له ټولګي بهر فعالیت
هر زده کوونکی دې د خپلې سیمې د یوه کان په هکله معلومات راټول او د جغرافیې په راتلونکي درسي ساعت کې دې تو لګیوالوته وړاندې کړي.

# مواصلاتي جغرافیه



دو چې مواصلاتي لاره

د افغانستان مواصلاتي لارې په درېیو برخو وېشل کېږي:

**۱ـ دوچې لارې**
**۲ـ هوایي لارې**
**۳ـ د اوبو لارې**

په افغانستان کې ډول ډول موټر په سړکونو او ډول ډول الوتکې په هوایي کرښو کې د خلکو او مالونو د لېږدولو لپاره فعالیت کوي. د موټرو د بېلابېلو ډولونو له واردولو مخکې، زموږ په هېواد کې کورنۍ او بهرنۍ سوداګري د حیواناتو لکه: اوښ، آس او کچرو د کاروان په وسیله ترسره کېده. کله چې موټر د امیر حبیب الله خان په دوره کې هېواد ته وارد شول، ډول ډول بارورونکي او ګرندي موټر زموږ په هېواد کې ډېر شول او د موټرو د تګ لپاره د سړکونو جوړول هم پیل شول. له هغه وخته تر اوسه له (۱۵۰۰۰) کیلو مترو څخه زیات د موټرو د تګ راتګ سړکونه جوړشوي چې له نیم څخه ډېر یې پاخه او کانکریټي دي .دا لارې د هېواد بېلابېلې سیمې سره نښلوي.



د مهمو سړکونو جدول چې کابل د هېواد له بندرونو او ولایتونو سره نښلوي

| شمېره | د سړک نوم | واټن په کیلومتر |
|---|---|---|
| ۱_ | کابل _ کندهار | ۴۸۳ کیلومتر |
| ۲_ | کندهار _ هرات تورغونډۍ | ۴۷۹ // |
| ۳_ | هرات _ اسلام کلا | ۱۲۴ // |
| ۴_ | کندهار _ سپین بولدک | ۱۰۴ // |
| ۵_ | کابل _ تورخم | ۲۳۱ // |
| ۶_ | کابل _ شیرخان بندر | ۴۰۵ // |
| ۷_ | پلخمري _ مزارشریف ـ شبرغان | ۳۶۰ // |
| ۸_ | کابل _ گردیز | ۱۳۲ // |
| ۹_ | گردیز _ خوست | ۱۱۷ // |

## هوايي حمل او نقل

د لارو هغه تګلورې چې الوتکې يې په فضا کې له یوه ښاره تر بله ښاره پورې وهي، هوايي لارې او هوايي کرښې ورته ويل کېږي. الوتکه د مسافرت ډېره چټکه او آرامه وسیله ده چې مسافران، قیمتي او نازک سوداګریز توکي په لږ وخت کې نورو لیرې او نږدې سیمو ته وړي. په ۱۲۹۸ هـ لمریز کال کې وروسته له هغه چې د هېواد خپلواکۍ ترلاسه شوه د المان او روسیې له هېوادونو څخه الوتکې و پېرودل شوې او لومړنی هوايي ډګر د کابل د ښار په خواجه رواش کې جوړشو. اوس ډول ډول ملکي او پوځي الوتکې د هېواد په دننه او بهر کې د مسافرانو او سوداګریزو مالونو په لېږدولو، اوکار بوختې دي.

کورنۍ الوتنې له کابل څخه ولایتونو او هغو سیمو ته ترسره کېږي چې هوايي ډګرونه پکې جوړ شوي دي. بهرنۍ الوتنې له کابل څخه اسلام آباد،لاهور، پېښور، نوي ډيلي، تهران، دوبی، شارجې،الماتا، مسکو، انقره، روم، پاریس، لندن، امستردام، ورومچي، فرانکفورت او له نوموړو ښارونو څخه بېرته د کابل او کندهار نړیوالو ډګرونو ته ترسره کېږي. زموږ په هېواد کې افق شهر، آریانا، کام ایر، پامیر، صافي او پوځي الوتکې هوايي شرکتونه دي.

### په ټولګي کې فعالیت:

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. هره ډله دې د وچې او هوايي لارو څخه پر یوې باندې بحث وکړي او پایله دې خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي.

### پوښتنې:

۱_ افغانستان ته د موټرو له واردیدوڅخه مخکې کورني او بهرني سوداګري د ......... په وسیله ترسره کېدې.

۲_ له هوايي کرښو څخه مقصد څه دی؟

۳_ له کابل نه د الوتکو الوتنې کومو کورنیو او بهرنیو ښارونو ته ترسره کېږي؟

### له ټولګي بهر فعالیت:

د دې لوست موخه څه او زموږ د خلکو له ژوند سره څه رابطه لري په دې هکله څو کرښې ولیکئ او ټولګي ته یې راوړئ.

# په افغانستان کې صنایع او سوداګري



غالۍ

## لاسي صنایع

له ډېرو لرغونو زمانو راهیسې چې زموږ نیکونه په کرنې بوخت شول، د خپلو اړتیاوو د لرې کولو لپاره یې په لاسي صنایعو لاس پورې کړ. داکار یوه ښه بوختیا او د خلکو د ستونزو د له منځه وړلو لپاره د پیسو پیداکول و. شپږ زره کاله مخکې، د بلخ کروندګرو رسېدلي غنم او وربشې د هغه لور په وسیله ریبلې چې د چقماق له ډېرو څخه جوړ شوی و. د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې زموږ د هېواد په سلوکې ۹ ۸ په شاوخوا کې خلک په کلیوالي ژوند بوخت وو او له لاسي صنایعو څخه یې ګټه اخیستله، هغوی د پخولو او تارتاوولو او اوبدلو کسب زده کړی وو.
په لاسی صنایعو کې یې له حیواني سرچینو تر لاسه شوې وړۍ، پت، پوستکی او وربښم له نباتي منابعو لکه، پنبې او سڼ او کاني منابعو لکه اوسپنې، مسو، سرو زرو او سپینو زرو کار اخیست.

## غالۍ اوبدل

د غالۍ اوبدل له لرغونو زمانو راهیسې زموږ د هېواد د شمالي برخو د خلکو تر منځ دود دي. د فاریاب د دولت آباد، اندخوی، اقچې او د بلخ د دولت آباد خلک د ښه او عالي جنس او په زړه پورې ډیزاین او رنګ لرونکو غالیو په جوړولو او اوبدلوښه پوهېږي او په قرقین، کندز او هرات کې هم د غالۍ اوبدل دود دي. د مروې، د فاریاب دولت آباد، اندخوی او اقچې په نامه غالۍ ډېر کورني او بهرني پېرودونکي لري.
د غالۍ ښه جنس، زموږ د هېواد د صادراتو لويه او مهمه برخه جوړوي چې هند، پاکستان، اروپا، روسیې او امریکا ته لېږدول کېږي.

### فلزکاري

زموږ د هېواد پښتان له اوسپنې څخه د کرکيلې، ترکاڼۍ او د کورونو د اړتيا وړ وسايل جوړوي. ددغو وسايلو په منځ کې د کابل د ده دانا د پښتانو يوم او د چاريکارو او لغمان د حيدر خانيو چړې شهرت لري. زموږ د هېواد فلزکاران د موټرو په ترميم، د دروازو، کټارو او اوسپنې د زينو په جوړولو او د ودانيو په سيم کارولو کې بوخت دي.

### په افغانستان کې ماشيني صنايع

افغانستان د ماشيني صنايعو له نظره د مخ پر ودې هېوادونو له ډلې څخه دي. چې صنعتي اقتصاد يې د لويو هېوادونو د صنعت تر تاثير لاندې دی. دماشيني صنايعو بنسټ لومړی ځل د امير شيرعلي خان په دوره کې کېښودل شو او د امير عبدالرحمن خان په دوره کې دوې صنعتي فابريکې د ماشين خانې په نوم، او وړې اوبدلو د فابريکې په نامه جوړې شوی چې د هغو توليداتو د عسکري قطعاتو اړتيا پوره کوله. وروسته د ګوګړو د جوړولو، چرم ګری، بوټ ګنډلو، حجاری او نجاری څو کوچنی فابريکې جوړې شوې. د افغانستان د نورو مهمو ماشيني صنايعو په لړ کې کولای شو د کابل جنګلک فابريکې، د بغلان د بورې جوړلو فابريکې، د کندز د سپين زر د غوړ يو فابريکې، د مزارشريف د برېښنا او بخار د پروژې، د سمنتو فابريکې، د اوبو د برېښنا د دستګاوو لکه: نغلو، سروبي، درونټې، ماهيپر، کجکي او ګرشک د برېښنا د بندونو يادونه وکړو.

### د افغانستان سوداګري

له خپلواکۍ وروسته په ۱۲۹۸ هـ ش کې زموږ په هېواد کې د سوداګرۍ ودې ته پاملرنه وشوه. افغاني استازي مسکو، لندن، برلين،انقرې او تهران ته ولېږل شول ترڅو په سوداګرۍ کې آسانتياوې منځ ته راشي. د هېواد صادرات په لومړۍ درجه کې حيواني محصولات لکه: وړۍ، پوستکي، د قره قل پوستکي، غالۍ، تېغرونه او په دويمه درجه کې نباتي محصولات لکه: تازه او وچه مېوه او همدارنګه قيمتي ډبرې او طبي نباتات دي چې بهرنيو هېوادونو ته صادرېږي.

#### د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په بېلابېلو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د لاسي يا ماشيني صنايعو پر يو ډول بحث وکړي او پايله دې خپلو ټولګيوالوته وړاندې کړي.

#### پوښتنې

۱ـ صنعت تعريف کړئ.

۲ـ د غالۍ اوبدلو صنعت د هېواد په کومو سيمو کې ډېر دود دی؟

۳ـ د افغانستان د غوره ماشيني صنايعو نومونه واخلئ.

۵ـ دافغانستان د غوره صادراتي محصولاتو نومونه واخلئ ؟

#### له ټولګي بهر فعاليت

ستاسو په ولايت کې کوم لاسي او ماشيني صنايع شته، خپل معلومات راټول او د جغرافيې په راتلونکي درسي ساعت کې يې په ټولګي کې بيان کړئ.

# دریم څپرکی- د آسیا لویه وچه

## د آسیا دلویې وچې ، موقعیت او څلور خواوې




دآسیا نقشه له څلور خواوو سره ښیي

آسیا لویه وچه ده. چې د ختیځ طول البلد د ۲۵ درجو او د لوېدیځ طول البلد د ۱۷۰ درجو په منځ کې، د جنوبي عرض البلد د ۱۰ درجو او د شمالي عرض البلد په ۸۰ درجو کې پرته ده. پراخوالی یې ۴۴،۲ ملیونه کیلومتره مربع دی. د آسیا دلویې وچې په شمال کې کنګل شوی شمالي سمندر، جنوب خواته یې د هند سمندر او ختیځ خواته یې آرام سمندر پراته دي. لوېدیځ خواته د آسیا او اروپا د لویو وچو په منځ کې د یورال غرونه، دیورال سیند، د کسپین سمندرګی، تور سمندرګی، او د باسفورس آبنا د مارمورا سمندرګی او ددردانیل آبنا پراته دی. د جنوب لوېدیځ خواته سورسمندرګی او د سویز کانال آسیا له افریقا څخه بېلوي. د شمال ختیځ خواته د بېرنګ آبنا ، آسیا د امریکې له لویې وچې جلاکوي

### طبیعي جغرافیه

د آسیا لویه وچه لوړ غرونه، لوړې سطحې او پراخې دښتې لري.د آسیا ډېر جګ غرونه د هند په شمال کې د همالیا غرونه دي چې له ختیځ څخه مخ پر لوېدیځ پراته دي. جګه څوکه یې د ایورست په نامه یادېږي چې د سمندر له سطحې څخه ۸۸۴۸ متره لوړه ده.په افغانستان کې د هندوکش غرونه په ایران کې د البرز او زاګروس غرونه، قفقاز غرونه، په ترکیه کې د پونتیک او اناتولي غرونه پراته دي. همداراز ختیځ خواته د چین په شمال کې د تیانشان او د التایي لوړ غرونه دي. د مغولستان، تبت، ګوبي او پامیر لوړې برخې د آسیا د لویې وچې په منځنی برخه کې پراته دي، د آسیا ډېره لویه جګه سطحه جوړوي. همدا راز د آسیا لویه وچه پراخې دښتې لري چې دا دي:

د مغولستان دښتې، د ایران د کویر او لوت دښتې، د سوریې او عراق دښتې او په عربستان کې در بع الخالي دښتې.

## د آسیا د لویې وچې د سیندونو په اړه څه پوهېږئ؟

د آسیا سیندونه د بهیر له مخې چې د سمندرونو خواته روان دي په څلورو حوزو وېشل کېږي.

۱_ هغه سیندونه چې د سایبریا د جنوب له غرو څخه سرچینه اخلي او له سوېل څخه مخ پر شمال بهیږي او شمالي کنګل سمندرته ور تویږي . له لوېدیځ څخه مخ پر ختیځ دادي: د اوب، ینسي او لینا سیندونه. ددغو سیندونو اوبه کله کله شمالي کنګل شوي سمندر ته نږدې کنګل وهي.

۲_ هغه سیندونه چې د آسیا ختیځ خواته بهېږي او د آرام سمندر سمندرګیو ته تویږي، په ترتیب سره له شمال څخه سوېل خواته دادی: د آمور سیند چې د مغولستان له شمالي غرونو سرچینه اخلي او د ولادي واستوک بندر ته نږدې د اخوتسک سمندرګي ته تویږي. د هوانګهو سیند چې د منځني چین له غرونو سرچینه اخلي او د چهلي په خلیج کې چې د کوریا د خلیج په لوېدیځ کې پروت دی، تویږي.
د میکانګ سیند چې د سوېلي چین له غرونو څخه سرچینه اخلي او د کمبودیا په سوېل کې د سوېلي چین سمندرګي ته تویږي.

۳_ هغه سیندونه چې د هند د سمندر سمندرګیو، د عربو سمندرګي او د فارس خلیج ته تویږي له ختیځ څخه د لوېدیځ په لور دادي:
ایراوادي له میانمار څخه د مارتابان خلیج ته تویږي. د ګنګا سیند چې هندیانو ته سپېڅلی دی، په بنګله دېش کې د بنګال خلیج ته تویږي. د اټک سیند کراچي ته نږدې د عمان په سمندرګي کې تویږي، د کارون سیند او د دجلې او فرات سیندونه چې شط العرب (اروند رود) جوړوي، وروسته د فارس خلیج ته ورتویږي.

٤_ هغه سیندونه چې د آسیا په داخلي جهیلونو کې تویږي دادي:
آمو (جیحون) او سیردریا (سیحون) د ارال په جهیل کې تویږي. د یورال سیند چې د آسیا او اروپا په سرحد کې بهېږي، د کسپین په سمندرګي کې تویږي.

### په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي لومړی ډله دې د اسیا د غرونو او دویمه ډله دې د سیندونو په اړه سره بحث وکړي او د نقشې له مخې دې مطلب په ټولګي کې بیان کړي.

### پوښتنې

۱_ د هندوکش د غرو لړۍ په کوم هېواد کې ده؟
۲_ د همالیا غر د آسیا په کومه برخه کې پروت دی؟
۳_ هغه سیندونه چې د آرام سمندر، په سمندرګیو کې تویږي، نومونه یې واخلئ؟

### له ټولګي بهر فعالیت

زده کوونکی دې د نقشې پرمخ د پامیر لوړه سطحه وښیي او د آسیا د څو غرونو د لړیو نومونه دې واخلي.

# د آسیا د لویې وچې جهیلونه، سمندرګي او خلیجونه




د آسیا مهم جهیلونه د روسیې په سایبریا، چین، قزاقستان، منځنۍ آسیا، سهیل ختیځ او لویدیځه آسیا کې پراته دي چې مهم یې دادي:

په سایبریا کې د بایکال جهیل چې د انګارا د سیند په اوږدوکې منرالي اوبه لري، اعظمي اوږدوالی یې ۷۰۰ کیلومتره او سور یې ۱۳۰ کیلومتره دی.

د خانکا جهیل د چین په ختیځ کې، په قزاقستان کې د بالخاش او ارال جهیلونه نامتو دي.

په قرغزستان کې د بسیک کول جهیل نامتو دی.

په افغانستان کې د چقمقتین او شیوا جهیلونه، د امیر بند، د غزني ولاړې اوبه او د سیستان هامون ډېر نامتو دي.

د ایران په لویدیځ کې د ارومیه جهیل نامتو دی.

د ترکیې په ختیځ د وان جهیل نامتو دی او نور جهیلونه د هغو په لویدیځ کې پراته دي.

## د آسیا د لویې وچې خلیجونه

د آسیا سواحل پرې کړې او تاوراتاو ځایونه ډېر لري، له دې امله د سواحلو په شاوخواکې یې ډېر خلیجونه لیدل کیږي، چې ځینو یې د بېړۍ چلولو لپاره ښه لاره اواره کړې ده.




د آسیا د شمالي سواحلو خلیجونه: ډېر نامتوپې د اوب خلیج دی، خو واړه نور کوچني خلیجونه هم لري.
د ختیځې آسیا د سواحلو خلیجونه: د کوریا خلیج مشهور دی.
د آسیا د سوېلي سواحلو خلیجونه: د سیام خلیج، د بنګال خلیج، د فارس خلیج، د عدن خلیج او نور.
د آسیا لوېدیځ ساحلي خلیجونه: کوچنی خلیج د عقبې د خلیج په نامه.
لوی او واړه سمندرګي هم په آسیا کې شته. د کسپین سمندرګی د آسیا په دننه کې چې په آسیا کې ډېر لوی سمندرګی دی.
د آسیا د ختیځ سمندرګي، د بیرنګ سمندرګی، د اخوتسک سمندرګی، د جاپان سمندرګی، ژېړ سمندرګی او د ختیځ چین سمندرګي دي.
د آسیا د سوېل سمندرګي: د ختیځ چین سمندرګی، د جاوا سمندرګی، د اندامان سمندرګی، د عربو سمندرګی او د عمان سمندرګی چې ډېر سوداګریز اهمیت لري. د آسیا په لوېدیځ کې سور سمندرګی د ډېر اهمیت وړ دی.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په درېیو ډلو ووېشل شي، لومړۍ ډله دې د آسیا جهیلونه، دویمه ډله دې د آسیا خلیجونه او درېیمه ډله دې د آسیا سمندرګي په هغه نقشه کې چې د ټولګي مخې ته ځړېدلې ده، وښیي.

## پوښتنې

۱ـ د آسیا د ختیځ د درېیو سمندرګیو نومونه واخلئ؟
۲ـ د جاپان سمندرګی کوم هیوادونه سره بېلوي؟
الف ـ ترکیه او سوریه　　　　ب ـ جاپان او کوریا
۳ ـ د کسپین سمندرګی د آسیا په کومه برخه کې پروت دی؟
الف ـ ختیځ　　ب ـ لوېدیځ　　ج ـ شمال　　د ـ سوېل　　هـ ـ منځنی
٤ـ ولې د آسیا د سواحلو په ځنګ کې ډېر خلیجونه دي؟

## له ټولګي بهر فعالیت

هر زده کوونکی دې د آسیا نقشه انځور کړي او په هغې کې دې د مهمو سمندرګیو او خلیجونو نومونه ولیکي.

# د آسیا د لویې وچې اقلیم




د آسيا د لويې وچې اقليمي نقشه

د آسيا راز راز اقليمونه په لاندې توگه دي:

## ۱_ د قطبي او يخچالي سيمو اقليم

د آسيا د لويې وچې د شمالي سواحلو په اوږدوکې د شمالي عرض البلد له $66\frac{1}{2}$ درجو څخه تر ۸۵ او ۹۰ درجو پورې قطبي اقليمي برخې پراختيا پيداکړې ده. دا اقليمي سيمه د تندرا سيمې په نامه يادېږي. تيټ بوټي دلته ډېر دي، خاوره يې ښېرازه نه ده. له کنگل او واورې ډک وي. تودوخه يې ډېره لږه ده چې کابو د سانتي گرېډ ۶۰- درجو ته رسېږي.

## ۲_ تر قطب لاندې اقليم

دغه اقليمي سيمې له ختيځ څخه لوېديځ ته د سايبريا زياته برخه نيولې ده. ژمی يې ډېر سوړ او دوبی يې لږ سوړ، يعنې د ۱۸ او ۱۹ درجې د سانتي گرېډ دی. ستنې ته ورته پاڼې لرونکي او هميشنې شنه ځنگلونه په دې سيمې کې ډېر دي.

## ۳_ د ستپ د سيمې اقليم

دا ډول اقليم د منځنۍ آسيا د چين له شمال لوېديځ څخه پيل شوی، لکه د يو کمربند په څېر تر ترکيې پورې غځېدلې دی. د افغانستان او ايران په گډون د منځنۍ آسيا هېوادونه پکې راځي. د ورښت کچه يې ډېره لږه ده، يعنې کابو د ۱۵۰ او ۲۰۰ ملي مترو په منځ کې ده. تودوخه يې په دوبي کې کابو ۴۰ درجې سانتي گريد ته او د ژمي سوړ والی يې منفي لس او پنځلس درجو ته رسېږي . ددې په څېر صحراگانې په ايران ، افغانستان، هند او پاکستان کې هم شته.

## ۴_ د غرنيو او لوړو برخو اقليم

د هماليا، قراقرم، تيان شان، هندوکش، البرز او زاگروس د غرو لړيو د لوړو سيمو اقليم جوړ کړی دی. د ورښت کچه يې تل د واورو په شکل وي. د غرونو دا لړۍ د آسيا د سيندونو سرچينه جوړوي.

### ۵_ صحرايي اقليم

د عربستان ټاپو وزمه چې د افریقا د لویې صحرا په اوږدوکې پرته ده، د دوبي د تودوخې درجه يې له ٤٥ سانتي گرېډ درجو څخه لوړېږي او په ژمي کې شلو او پنځلسو درجو ته راټیټېږي. په ډېرو کلونو کې ورښت پکې نه کېږي. ورښت يې کله کله ٥٠ ملي مترو ته رسېږي چې هغه هم سیلابي او تخریبي وي.

### ۶_ معتدل اقليم

کلنی ورښت يې له ٤٠٠ ملي متروڅخه ډېر وي او د ژمی منځنی تودوخه يې له پنځلس درجو څخه جگه او دوبی يې دسانتي گرید ۳۰ درجو ته رسېږي. د چین ټول هېواد د همالیا سوېل او د هند شمال په دغه اقلیم کې راځي.

### ۷_ مدیترانه يې اقليم

د ترکیې یوه محدوده ساحلي برخه، د عراق شمال ختیځه برخه، دکسپین سمندرگي یوه کوچنی ختیځه ساحلي برخه او د مدیتراني سمندرگي ختیځي غاړې په مدیترانه يي اقليم کې ورځي. ژمی يې باراني او معتدل او دوبی يې وچ نسبتا تود دی. دستروس ونې ( نارنج، مالته، لیمو) او مدیترانه يې بوټي په دغه ځای کې ډېر شنه کېږي.

### ۸_ داستوایي سوانا اقليم

د دوبي ورښت يې له ۸۰۰ ملي متروڅخه ډېر دی. د اوړي او ژمي تودوخه يې ډېر توپیر نه لري. د ۲۰ او ۳۰ درجو په منځ کې توپیر لري. د هند و چین ټاپو وزمه او د هند د نیمې و چې ډېره برخه دا ډول استوایي سوانا اقليم لري. جگ جگ بوټي، مېوه لرونکې او بې مېوې ونې پکې شنې کېږي.

### ۹_ د ا ستوا د باراني ځنگلونو اقليم

د شرق الهند ټاپوگان، د هندوچین لوېدیځ سواحل د بنگله دېش سوېل او د شمال لوېدیځ هند یوه برخه په دې کې راځي. کلنی ورښت يې ډېر دی او په هره میاشت کې له ۵۰۰ ملي مترو څخه ډېر ورښت لري. په دغه ځای کې د کال فصلونه نشته. کلنی منځنی تودوخه يې د ۲۵ او ۳۰ سانتي گرید درجو په منځ کې ده. هوا يې تل توده او لنده وي. د ربړ ونې يې له مهمو پیدا وارو څخه دي.

#### په ټولگي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دريو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د آسیا داقليم دري سیمې تر بحث لاندې ونیسي او پایله دې خپلو ټولگیوالوته بیان کړي.

#### پوښتنې

١_ د تندرا سیمه د آسیا دکوم ډول اقليم په سیمه کې پرته ده؟

الف_ تر قطب لاندې   ب ـ قطبي ساحه   ج ـ صحرايي   د ـ غرنی

٢_ د استوایي ځنگلونو اقليم کومې ځانگړتیاوې لري؟

الف_ ډېر ورښت له زیاتې تودوخې سره   ب ـ کم ورښت او تودوخه يې له صفر نه ټیټه

٣_ بنگله دیش کوم ډول اقليم لري؟

الف_ قطبي اقليم   ب ـ تر قطب لاندې اقليم   ج ـ استوایي اقليم   د ـ صحرايي اقليم

٤_ صحرايي اقليم دآسیا په کومه برخه کې ډېر لري؟

#### له ټولگي بهر فعالیت

زده کوونکي دې د آسیا اقليمي نقشه رسمه کړي او د ډول ډول اقليمونو سیمه دې په رنگونویه نښه کړي.

## د آسيا د لويې وچې د هېوادونو لست

| ګڼه | د هېواد نوم | پلازمېنه | مساحت په کيلومتر مربع | نفوس | د حکومت ډول |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | افغانستان | کابل | ۶۵۲۰۰۰ | ۳۲۰۰۰۰۰۰ | اسلامي جمهوري |
| ۲ | د عربو متحده امارات | ابوظبی | ۸۳۶۰۰ | ۴۲۱۴۰۰۰ | د اوو اميرنشينو فدراسيون |
| ۳ | اندونيزيا | جاکارتا | ۱۹۰۴۲۳۳ | ۲۲۲۷۳۱۰۰۰ | اسلامي جمهوري |
| ۴ | اردن | عمان | ۸۹۳۲۶ | ۵۵۰۵۰۰۰ | مشروطه شاهي |
| ۵ | ازبکستان | تاشکند | ۴۴۷۴۰۰ | ۲۶۳۸۳۰۰۰ | جمهوري |
| ۶ | ايران | تهران | ۱۶۴۸۱۹۵ | ۷۰۴۷۲۸۴۶ | اسلامي جمهوري |
| ۷ | بحرين | منامه | ۶۹۴ | ۷۲۷۰۰۰ | شاهي |
| ۸ | بروني | د سری بګاوان بندر | ۵۷۶۵ | ۴۷۵۰۰۰ | شاهي |
| ۹ | بنګله ديش | ډاکه | ۱۴۷۵۷۰ | ۱۳۸۸۳۵۰۰۰ | جمهوري |
| ۱۰ | بوتان | تيمپو | ۴۷۰۰۰ | ۷۹۰۰۰۰ | مشروطه شاهي |
| ۱۱ | پاکستان | اسلام آباد | ۷۹۶۰۹۵ | ۱۵۶۷۷۰۰۰۰ | اسلامي‌فدرال‌جمهوري |
| ۱۲ | تاجيکستان | دوشنبه | ۱۴۳۱۰۰ | ۷۰۶۳۰۰۰ | جمهوري |
| ۱۳ | تايلند | بنکاک | ۵۱۳۱۱۵ | ۶۴۶۳۲۰۰۰ | مشروطه شاهي |
| ۱۴ | تايوان | تايپی | ۳۶۰۰۰ | ۲۲۸۱۵۰۰۰ | جمهوري |
| ۱۵ | ترکمنستان | عشق آباد | ۴۸۸۱۰۰ | ۴۸۹۹۰۰۰ | جمهوري |
| ۱۶ | ختيځ تيمور | ديلي | ۱۴۸۷۴ | ۱۰۳۲۰۰۰ | جمهوري |
| ۱۷ | ترکيه | انقره | ۷۷۹۴۵۲ | ۷۲۹۳۲۰۰۰ | جمهوري |
| ۱۸ | چين | پيکنګ | ۹۵۷۲۹۰۰ | ۱۳۱۱۳۸۱۰۰۰ | يو حزبي سوسيالستي جمهوري |
| ۱۹ | روسيه | مسکو | ۱۷۰۷۵۴۰۰ | ۱۴۲۳۹۴۰۰۰ | فدرالي جمهوري |
| ۲۰ | جاپان | توکيو | ۳۷۷۸۱۹ | ۱۲۷۷۱۶۰۰۰ | مشروطه شاهي |
| ۲۱ | سريلانکا | کلمبو | ۶۵۶۱۰ | ۱۹۸۷۹۰۰۰ | جمهوري |
| ۲۲ | سنګاپور | سنګاپور | ۶۴۱ | ۴۴۰۸۰۰۰ | جمهوري |
| ۲۳ | سوريه | دمشق | ۱۸۵۱۸۰ | ۱۸۵۴۲۰۰۰ | جمهوري |

| شمیره | د هېواد نوم | پلازمېنه | مساحت په کیلومتر مربع | نفوس | د حکومت ډول |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۲۴ | عراق | بغداد | ۴۳۸۳۱۷ | ۲۸۵۱۳۰۰۰ | جمهوري |
| ۲۵ | سعودی عربستان | ریاض | ۲۲۴۰۰۰۰ | ۲۳۶۸۷۰۰۰ | مشروطه شاهي |
| ۲۶ | عمان | مسقط | ۳۰۹۵۰۰ | ۲۵۱۶۰۰۰ | مطلقه شاهي |
| ۲۷ | فلسطین | قدس | ۶۲۶۳ | ۴۱۴۱۰۰۰ | خود مختاره دولت |
| ۲۸ | فلیپین | مانیلا | ۳۰۰۰۰۰ | ۸۵۵۶۳۰۰۰ | جمهوري |
| ۲۹ | قبرس | نیکوزیا | ۹۲۵۰ | ۱۰۰۴۰۰۰ | جمهوري |
| ۳۰ | قرغزستان | بیشکک | ۱۹۸۵۰۰ | ۵۱۹۲۰۰۰ | جمهوري |
| ۳۱ | قزاقستان | استانه | ۲۷۱۷۰۰ | ۱۵۲۴۲۰۰۰ | جمهوري |
| ۳۲ | قطر | دوحه | ۱۱۴۷۱ | ۸۳۸۰۰۰ | امارتي شیخ نشین |
| ۳۳ | کمبودیا | پنوم پن | ۱۸۱۰۳۵ | ۱۳۶۴۸۰۰۰ | مشروطه شاهي |
| ۳۴ | سویلی کوریا | سیول | ۹۹۶۴۶ | ۲۸۱۳۸۰۰۰ | جمهوري |
| ۳۵ | شمالی کوریا | پیونګ یانګ | ۱۲۲۷۶۲ | ۲۲۵۸۳۰۰۰ | جمهوري |
| ۳۶ | کویت | کویت | ۱۷۸۱۸ | ۳۰۸۴۰۰۰ | مشروطه شاهي |
| ۳۷ | لاووس | وین تیان | ۲۳۶۸۰۰ | ۵۷۵۱۰۰۰ | جمهوري |
| ۳۸ | لبنان | بیروت | ۱۰۴۰۰ | ۳۸۳۴۰۰۰ | جمهوري |
| ۳۹ | مالدیو | ماله | ۲۸۹ | ۳۰۰۰۰۰ | جمهوري |
| ۴۰ | مالیزیا | کوالا لامپور | ۳۲۹۷۵۸ | ۲۶۶۴۰۰۰۰ | مشروط فدرال شاهي |
| ۴۱ | مغولستان | اولان باتور | ۱۵۶۶۵۰۰ | ۲۵۸۰۰۰۰ | جمهوري |
| ۴۲ | میانمار | رنګون | ۶۷۶۵۷۷ | ۴۷۳۸۳۰۰۰ | جمهوري |
| ۴۳ | نیپال | کتمندو | ۱۴۷۱۸۱ | ۲۷۶۷۸۰۰۰ | مشروطه شاهي |
| ۴۴ | ویتنام | هانوی | ۳۳۱۰۴۱ | ۸۳۴۵۸۰۰۰ | جمهوري |
| ۴۵ | هند | نوی دهلی | ۳۱۶۵۵۹۶ | ۱۱۱۹۵۳۸۰۰۰ | جمهوري |
| ۴۶ | یمن | صنعا | ۵۵۵۰۰۰ | ۲۰۶۷۶۰۰۰ | جمهوري |

# د مدني زده کړو برخه

## لومړی څپرکی

په دې څپرکي کې دا لاندې درسونه لولئ.

- اړتیاوې څه ته وايي؟
- معنوي اړتیاوې
- مادي اړتیاوې
- پېژندنې ته اړتیا
- ځان پېژندنه
- د طبیعت پېژندنه
- د خدای (جَلَّ جَلاَلُه) پېژندنه
- ټولنیزو اړیکو او مناسباتو ته اړتیا
- ولې درناوي ته اړتیا لرو؟
- د څپرکي لنډیز

# د څپرکي موخې

له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې په لاندې پوهنیزو، مهارتي او ذهنیتي موخو پوه شي:

- مادي اړتیاوې به وپیژني
- معنوي اړتیاوې به وپیژني
- د پیژندنې په اهمیت به پوه شي
- د طبیعت په مفهوم به پوه شي
- خدای (جَلَّ جَلاَلُه) به وپیژني
- د ټولنیزو اړیکو په اړتیا به پوه شي
- د درناوي کولو په اړتیا به پوه شي
- مادي او معنوي اړتیاوې به پرتله کړای شي
- پېژندنې ته د اړتیا په مفهوم به پوه شي.
- د ټولنیزو مناسباتو او اړیکو اړتیاوې به تفکیک کړای شي.
- له نورو سره د درناوی اړتیا به بیان کړای شي.
- د اړتیاوو په پوره کولو کې مستقیمه برخه واخلي
- له طبیعت ساتنې سره مینه پیدا کړي
- له نورو انسانانو سره د مرستې روحیې پکې پیاوړې شي

# اړتياوې څه ته وايي؟

اسلام دنيا د اخرت کرونده ګڼي، حلاله روزي او مال لاس ته راوړل عبادت بولي. خپل لارويان له طبيعي نعمتونوڅخه دګټې پورته کولو لپاره را بولي، ترڅو له دې لارې خپلې اړتياوې پوره کړي. په دغه لوست کې به د اړتياوو او د هغو له ډولونو سره بلدشئ.




## خبرې پرې وکړئ

زموږ په هېوادکې په زياته کچه ځنګلونه، سيندونه او کانونه شته.

ستاسو په اند: دا طبيعي سرچينې موږ ته څه ګټې را رسوي او زموږه کومې اړتياوې پوره کوي؟

انسانان د ژوند تېرولو لپاره د خپل چاپېريال شيانوته لکه: غرونو، سيندونو، ځنګلونو، څارويو او نباتاتو ته اړتيا لري؛ د خپل اړتياوړ ډول ډول فلزات له کانونو څخه د وسايلو د جوړولو په موخه را باسي.

زموږ موخه له دغو چارو او فعاليتونو څخه څه ده؟

## اړتيا څه شي ته وايي؟

اړتيا د يو شي د کمښت احساسول او له هغه سره په څنګ کې د دې اړتيا د پوره کولو هڅې ته وايي. څرنګه چې انسانان اړ موجودات دي، د ژوند تېرولو لپاره ډېرې او بېلابېلې اړتياوې لري. د دغو اړتياوود پوره کولو لپاره د نورو انسانانو مرستې ته هم اړ وي. د انسانانو دا بېلابېلې اړتياوې په دوه ډوله دي:

۱- مادي اړتياوې

۲- معنوي اړتياوې

يو له بل سره خبرې وکړئ، د لوست اړينې اړتياوې مو لست کړئ.

## له مادي اړتياوو سره بلدشئ

الله (جَلَّ جَلالُه)پر خپلو بنده ګانو بې شمېره نعمتونه پېرزو کړي او نوموړې موضوع د قرآن کريم په مختلفو ځايونو کې ياده شوې ده. د سورة النحل په (۱۰-۱۱) اياتونو کې فرمايي:

﴿هُوَ الَّذِي أَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاء لَّكُم مِّنْهُ شَرَابٌ وَمِنْهُ شَجَرٌ فِيهِ تُسِيمُونَ {۱۰} يُنبِتُ لَكُم بِهِ الزَّرْعَ وَالزَّيْتُونَ وَالنَّخِيلَ وَالأَعْنَابَ وَمِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ.(۱۱)﴾

ژباړه: الله(جَلَّ جَلالُه) داسې ذات دی چې له آسمانهٔ يې اوبه راکښته کړې، چې ستاسې او ستاسو د څارويو د څښاک لپاره دي او د هغو په وسيله د زيتون او د خرما ونې، انګور او هر ډول نور حاصلات ستاسې لپاره راشنه کوي. په دې کې يوازې د هغوکسانو لپاره چې فکر کوي، نښې نښانې شته).

مادي اړتیاوې عبارت دي له خوړو، څښاک، پوښاک، استوګنځي او داسې نورو څخه. خدای(جَلَّ جَلاَلُه) موږ ته د دغو اړتیاوو د پوره کولو لپاره ځانګړې سرچینې په واک کې راکړې، لکه غرونه، سیندونه، ځنګلونه او کانونه.
انسانان د دغو اړتیاوو له پوره کولو پرته خپل ژوند ته دوام نه شي ورکولای، د بېلګې په توګه: که چېرې په پوره اندازه اوبه موږ ته راونه رسېږي، د بدن اوبه مو وچېږي او که څو دقیقې آکسیجن زموږ زړه او مغزو ته ونه رسېږي، ژوندي به پاتې نه شو. له دې سره سره زموږ بدن انرژي ته هم اړتیا لري او دا انرژي د خوړو له لارې لاس ته راځي.
زموږ بدن مختلفو ویټامینونو، پروټینو اومعدني موادوته اړتیا لري.که انسان ته خواړه ونه رسېږي، کمزوری به شي.
همدارنګه انسانان د ساختماني وسایلو پواسطه له ساختماني توکو څخه خپل کورونه جوړوي؛ له معدنونو څخه د مختلفو فلزاتو په راویستلو سره د خپل ځان او ټولنې د اړتیاوو د پوره کولو په موخه ډول ډول وسایل جوړ وي.
د ځارویو له غوښې، پوستکي او نباتاتو څخه ډول ډول پوښاکونه او خواړه تیار وي.
هغه طبیعي مواد چې موږ ورته اړتیا لرو، ځینې یې زموږ په چاپیریال کې پریمانه پیداکېږي، لکه: هوا، لمر... او ځینې مواد یو څه لږ پیداکیږي، لکه: خواړه، جامې او داسې نور.
طبیعت د انسانانو د ژوند کولو ځای دی، له دې کبله موږ ټول دا مسؤولیت لرو ترڅو له هغه څخه د خدای ﷻ د نعمت په توګه په ښه ډول ساتنه وکړو او د خپلو اړتیاوو د لرې کولو لپاره له هغه څخه معقوله ګټه واخلو، ترڅو راتلونکی نسل هم له هغه څخه ګټه واخلي، ځکه هغوی هم طبیعت ته اړتیا لري.

*** ستاسې په اند، سربېره پر هغه څه چې ومولوستل، انسانان نورې کومې اړتیاوې لري؟**

## د لوست تکرار

- انسان یو اړ موجود دی.
- د انسانانوځینې ضروري اړتیاوې: خوراک، پوښاک، سرپناه او داسې نورې دي.
- انسانان خپلې مادي اړتیاوې له طبیعت څخه لاس ته راوړي.
- موږ انسانان دا دنده لرو چې له طبیعي سرچینو څخه په سمه توګه ګټه واخلو او د راتلونکو په
- فکر کې هم واوسو.

## پوښتنې

۱- په مادي اړتیاوو کې کوم شیزونه شامل دي؟ نومونه یې واخلئ.
۲- خپلې کومې اړتیاوې د خپلو کوښښونو له لارې لاس ته راوړې شو؟
۳- په طبیعت کې کوم مواد پریمانه پیدا کیږي؟

## کورنۍ دنده

له طبیعت څخه د سمې ګټې اخیستنې په اړه څوکرښې ولیکئ.

# معنوي اړتیاوې

**«مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ وَ يُلْهِمْهُ رُشْدَهُ»**

هرچاته چې خدای (جَلَّ جَلاَلُه)د خیر اراده وکړي، هغه ته د دین د پوهې ورتیا ور په برخه کوي او د سمې لارې الهام ورته کوي. {حدیث شریف}

په تېر لوست کې موږ مادي اړتیاوو په اړه معلومات ترلاسه کړل، په دې لوست کې به د معنوي اړتیاوو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

## خبرې پرې وکړئ

ستاسو په اند انسان پر مادي اړتیاوو سربېره نورې کومې اړتیاوې لري؟



انسانان پر مادي اړتیاوو سربېره نورې اړتیاوې هم لري؛ لکه: د خدای(جَلَّ جَلاَلُه) پېژندنه او له هغه سره اړیکې، ځان پېژندنه، د طبیعت پېژندنه، ټولنیز ژوند، پوهې، ښکلا، کمال او تفریح ته اړتیا.

دا هغه اړتیاوې دي چې د معنوي اړتیاوو په نوم یادېږي. په اسلامي ټولنو کې دین د انسانانو د پوهې او عمل برخې تر پوښښ لاندې راولي چې د فردي ، ټولنیزې، معنوي، دنیوي او اخروي چارو د حل، تدبیر، تربیت او لارښوونو لپاره راغلی دی. ځکه دین د عقایدو، اخلاقو، قوانینو او مقرراتو هغه ټولګه ده چې د وحې له لارې د شارع له خوا نازله شویده. نو دیانت د یو مسلمان وګړي او د اسلامي ټولنو لپاره ستره اړتیا بلل کېږي. ځکه د دینداری له برکته دی چې موږ کولای شو خدای (جَلَّ جَلاَلُه)، ځان او طبیعت وپېژنو.دینداري؛ عقیده درلودل، پابندي او له دین څخه ساتنه ده یا په بل عبارت؛ دین عقلي اعتقاد، په زړه تصدیق او عملي التزام دی چې د انسان د بدن یوه برخه شي او هغه عاطفې، مینې او سر ښندنې ته چمتو کړي.

همدارنګه دینداري انسان د علمي، عملي، فردي، ټولنیز، معنوي، دنیوي او اخروي ژوند په ټولو برخو کې روزي، له هغه څخه یو دینداره او پوه انسان جوړوي له دې کبله د هغه پرمختګ او نیکمرغی

تضمینوي.

* د ټولګیوالو په مرسته د لسو معنوي اړتیاوو نومونه ولیکئ او زده کوونکو ته یې ولولئ.

## د لوست تکرار

- -------------------------------------------------------------
- -------------------------------------------------------------
- -------------------------------------------------------------
- -------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- معنوي اړتیاوې کومې دي؟ د یوڅو نومونه واخلئ.

۲- دین تعریف کړئ.

۳- دینداري د انسان د علمي، عملي، فردي او د ټولنیزو اړتیاوو په پوره کولو کې کوم رول لوبوي؟

## کورنۍ دنده

خدای (جَلَّ جَلاَلُه) په قرآن کریم کې داسې فرمایلي دي:

﴿یَأَیها النَّاس أَنتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلی اللَّهِ وَ اللَّهُ هُوَ الْغَنِیُّ الْحَمِیدُ﴾

د ښوونکي او یا د جومات د ملا امام په مرسته دا لاندې فعالیتونه ترسره کړئ.

۱- د دغه آیت شریف معنا ولیکئ.

۲- دا آیت د انسانانو له مادي او معنوي اړتیاوو سره څه تړاو لري؟

۳- پایلې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او په ټولګي کې یې ولولئ.

# پېژندنې ته اړتیا

﴿وَمَا یَسْتَوِی الْاعمی وَ الْبَصِیْر﴾ {د فاطر سورة: ۲۲}

ژباړه: (لیدونکی او ړوند سره یو شان نه دي).

په تېر لوست کې مو زده کړل چې انسان پر مادي اړتیاوو سربېره نورې اړتیاوې هم لري چې د معنوي اړتیاوو په نامه یادېږي. دا معنوي اړتیاوې د مادي اړتیاوو په څېر ګڼ شمېرډولونه لري. د بېلګې په توګه: انسان په هر حال کې دینداری، د خدای مینې، عبادت، اطاعت ته اړ او د هغه ذات له نعمتونو خوښي او مننه کوي، په دغه حال کې پېژندنې او پوهېدلو ته هم اړتیا لري، له هغو پرته نه شي کولای پرسمې لارې روان شي. قرآن کریم عالم او پوه انسان له لیدونکي او اورېدونکي سره،جاهل او ناپوه انسان له ړانده او کاڼه سره ورته بولي، چې دا خپله د پېژندنې او پوهې ارزښت څرګندوي. په دغه لوست کې به پېژندنې ته د اړتیا په هکله معلومات ترلاسه کړئ. لکه: دینداری ته اړتیا، د خدای (جَلَّ جَلاَلُه) پېژندنه، د ځان پېژندنه او داسې نور.

## خبرې پرې وکړئ:

د انسان او حیوان له بنسټیزو توپیرونو څخه یو دا دی چې انسان یو پوه موجود دی، نو له دې امله موږ د یو انسان په توګه پوهې او پېژندنې ته اړ یو. خدای(جَلَّ جَلاَلُه) فرمایلي دي:

﴿وَلاَ تَقْفُ مَا لَیْسَ لَکَ بِهِ عِلْمٌ﴾ (د اسراء سورة:۳۶)

ژباړه: په هغه څه پسې مه ځه چې ته پرې نه پوهېږې.

## د پېژندنې اهمیت؟

د نورو مخلوقاتو په پرتله د انسانانو غوره والی دا دی چې انسان پوهه او عقل لري. چې د خدای (جَلَّ جَلاَلُه)ورکړې ځواک په مرسته د خپل چاپېریال او د چاپېریال د شیانو په اړه پېژندنه (پوهه) ترلاسه کوي.

## د پېژندنې وسایل

پنځه ګوني حواس:

د پېژندنې له وسایلو څخه یو هم پنځه ګوني حواس دي،کله چې انسان نړۍ ته راځي په هېڅ شی نه پوهېږي. ورو ورو د پنځه ګونو حواسو، لکه:د لیدلو(باصرې) حس، د بویولو ( شامې) حس، د لامسې حس، د خوند( ذایقې ) حس او د اورېدلو (سامعې )حس په وسیله د خپل چاپېریال له شیانو سره پېژندګلوي پیدا کوي. د بېلګې په توګه: انسان د لیدلو د حس په واسطه، شیانویني، د خوند د حس په وسیله، د خوړو مزه تشخیصوي، د بویولو د حس په وسیله بېلابېل بویونه سره بېلوي. د لامسې حس په ذریعه، شیان لمس کوي، د اورېدلو د حس په ذریعه مختلف غږونه اوري.

- ستاسې په اند که د لیدلو حس مو له منځه لاړشي، کولای شو شیان په سمه توګه وپېژنو؟

**۲- عقل:**

د پېژندنې له وسایلو څخه یو هم عقل دی. د عقل په واسطه کولای شو، له داسې مفاهیمو سره لکه: ریاضي، کیمیا، دیني، منطقي او فلسفي مسایل وپېژنو. په پوره کچه پېژندنه او پوهه د دې لامل گرځي چې انسان دغه نړۍ په خلاصو سترگو ووینې او وې پېژني او له سالمې پوهې څخه برخمن شي. پېژندنه اوپوهه د دې لامل گرځي ترڅو انسان تل له حوادثو او پېښو څخه خبر شي. د پېژندنې گټه دا ده، که موږ له ټولنې سره په ښه توگه پېژند گلوي ولرو، کولای شو حق له باطل څخه توپیر کړو. له هغه پرته به حق ته باطل او باطل ته به حق ووایو. له دې کبله؛ پر موږ ټولو دا لازمه ده چې لومړی د موضوع د معلومولو هڅه وکړو او بیا د پېژندنې د اصل په پام کې نیولو سره د خپلې خوښې د کار په کولو لاس پورې کړو، هغه څه چې نه یې پېژنو، د هغه په اړه باید څه ونه وایو او هغه څه چې موږ پورې اړه نه لري، ترې لرې واوسو.

* د عقل په مرسته له کومو مفهومونو سره پېژندگلوي لاس ته راوړای شو؟ لست یې کړئ.

### د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱-د پېژندنې د اهمیت په هکله لنډ معلومات ورکړئ.

۲- انسانان څنگه کولای شي د شیانو په اړه معلومات او پېژندگلوي ترلاسه کړي.

۳- د عقل په وسیله څنگه کولای شو شیان وپېژنو.

### کورنۍ دنده

د پېژندنې په اړه څلور کرښې ولیکئ.

# ځان پېژندنه

﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾ [التين: ۴]

ما انسان د ( جسم او روح له پلوه) په ډېره ښه شکلې ښه پيدا کړی دی.

په تېر لوست کې مو ولوستل چې خدای (جَلَّ جَلاَلُه) انسانانوته عقل او پوهه ورکړې ده چې د پنځه ګونو حواسواو عقل په وسيله د خپل چاپېريال شيان پېژني، نو لازمه ده چې د لوست په ترڅ کې د ځان پېژندنې په معنا پوه شو، خپل ځان وپېژنو اوخپلې ځانګړتياوې کشف کړو، ترڅو په دې ويوهېږو چې خدای(جَلَّ جَلاَلُه) څرنګه موږ په ﴿أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾ کې پيدا کړي يو؟

## خبرې پرې وکړئ

لاندې پوښتنوته په غور سره ځواب ورکړئ.

## موږ څوک يو؟

## موږ د څه لپاره نړۍ ته راغلي يو؟

موږ بايد خپل ځان وپېژنو چې موږ څوک يو.

خدای(جَلَّ جَلاَلُه) موږ له خپل مور او پلار څخه د يو پياوړي، ځواکمن، ښکلي او نيک سيرته مخلوق په بڼه پيدا کړو. په آيت شريف کې راغلي چې د انسان د خلقت موخه عبادت او د خدای (جَلَّ جَلاَلُه)سره معرفت دی، پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

( **مَن عَرَفَ نَفسَهُ فَقَد عَرَفَ رَبَّهُ** )[1] ژباړه: چاچې خپل ځان وپېژاند، په رښتيا چې خپل خدای يې وپېژاند.

دا معرفت او پېژندنه په نفس او ځان پېژندنې پورې تړاو لري.

ځان پېژندنه انسان له پولرزېوالو حقايقو، شخصي او ټولنيز ژوند د حقونو او ستونزو څخه خبروي.

که څوک خپل ځان ونه پېژني او له خپلو عيبونو، کمزوريو او همدارنګه د خپل نفس له توان او له ځواک څخه بې خبره وي، هيڅکله به د ځان رغونې او د انساني کمالاتو خواته ګام پورته نه کړي. انسان د ځان پېژندنې په وسيله خپل ځان ارزوي، ناروا خصلتونه او بد کارونه پرېږدي او د خپلو مثبتو اړخونو د ودې او تقويت هڅه کوي.

## آيا تر اوسه مو د خپل ځان د کمزوريو په اړه فکر کړی دی؟

ځان پېژندنه د انساني ژوند مادي او معنوي اړخونو بنسټ جوړوي، انسان د ځان پېژندنې له برکته

---

(۱) شرح جامع الصغير۱۰۰۱ مخ

له خپلو باطني او باندنیو اړتیاوو څخه خبرېږي، هغه عوامل چې د پرمختګ او لوړتیا ضد ګرځي، تشخیصوي چې په پایله کې، خپله دنده پېژني، د پاکۍ او ښېګڼو خواته درومي، هغه کمال ته رسېږي چې د یو ښه او نیک انسان د مقام لیاقت لري.

لنډه دا چې ځان پېژندنه له موږ سره مرسته کوي، پوه شو چې څومره کمزوري او څومره غښتلي یو. موږ د خپلې کمزورۍ اوپیا وړ تیا د پوهېدو له لارې کولای شو، خپل ځان وارزوو، خپل کړه وړه او اخلاق سم کړو؛ او د خدای(جَلَّ جَلاَلُه) پرهغو حقونو پوه شو چې موږ ته یې په برخه کړېدي. دا پوهه موږ روحي ودې او معنوي لوړوالي ته رسوي. ترڅو په پایله کې د الله(جَلَّ جَلاَلُه) د نیک بنده او د ټولنې د یو ګټور غړي په توګه د ژوند ټول پړاوونه تر سره کړو، د الله (جَلَّ جَلاَلُه)اوګرا نوهېوادوالو د حقونو په اداکولو سره باید تل خپل زړه او وجدان ښاد وساتو ترڅو د شا اوخوا خلک هم زموږ له کړو وړو، ښه سلوک او خبرو څخه ګټه واخلي.

## د لوست تکرار

- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- هغه حدیث شریف چې د ځان پېژندنې په اړه مولوستلی، له ژباړې سره بیان کړئ.

۲- ځان پېژندنه انسان له کومو پېښو څخه خبروي؟ واضح یې کړئ.

۳- ځان پېژندنه له موږ سره څه مرسته کولای شي؟

## کورنۍ دنده

د کورنۍ د غړو په مرسته له هغه څه پرته چې په دغه لوست کې مو ولوستل، درې کر ښې د ځان پېژندنې په اړه ولیکئ او بیایې په ټولګي کې ولولئ.

# د طبيعت پېژندنه

﴿إِنَّ فِی خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لِّأُوْلِی الألْبَابِ﴾{ ال عمران: ۱۹۰ }

( په ريښتيا د آسمانونو او ځمکې د پيدايښت، د شپې او ورځې تلل او راتلل، د هوښيارانو لپاره ځرګندې نښې دي.)

په تېر لوست کې مو زده کړل چې انسان د ځان پېژندنې په وسيله خپل ځان ارزوې او ناروا خويونه او خصلتونه پرېږدي او خپلو مثبتو او ښو خصلتونو ته وده ورکوي. دا بايد په پام کې ولرو چې ځان پېژندنه د طبيعت له پېژندنې پرته نه بشپړېږي. په دغه درس کې د طبيعت له پېژندنې سره بلدېږئ.

## خبرې پرې وکړئ

مورږ د طبيعت پېژندنې ته ولې اړتيا لرو؟

که د طبيعت له زېرمو او محصولاتو نه په سمه توګه ګټه وانخلو، پايله به يې څه وي؟

طبيعت د ځمکې، آسمانونو، غرونو، ونو، سيندونو، ځنګلونو او نورو شيانو له ټولګې څخه عبارت دی چې زموږ په شا اوخواکې موجود دي. خدای (جَلَّ جَلاَلُه) طبيعت د انسان د ژوند کولو او له هغه نه د ګټې اخيستو لپاره پيدا کړی دی.

ټولې طبيعي پديدې تر يو ټاکلی نظم لاندې عمل کوي او په هغوی کې عجيبه او بې ساري همغږي شته. ټولې طبيعي پديدې او مخلوقات د ستر او قادر خدای (جَلَّ جَلاَلُه) د فرمان تابع دي. طبيعت د الله(جَلَّ جَلاَلُه) د حکم او امر سره سم حرکت کوي. دا قوانين د خدای (جَلَّ جَلاَلُه) د تکويني قوانينو په نامه يادېږي.

د طبيعت د اسرارو موندل او په طبيعي موجوداتو کې د خدای(جَلَّ جَلاَلُه) په تکويني قوانينو او سننو پوهېدل د ساينس د علم موضوع او دنده ده. فزيک، کيميا، بيولوژي، جيولوژي، طب، انجينرۍ ځينې څانګې او داسې نور، هغه علوم دي چې له طبيعت او طبيعي پديدو سره سر او کار لري.

د طبيعت په اسرارو پوهېدل او په طبيعت کې د خدای (جَلَّ جَلاَلُه) په تکويني قوانينو پوهېدل د خدای(جَلَّ جَلاَلُه) د معرفت او پېژندنې ډېره آسانه لار ده.

هغه پرمختګونه چې د علم، پوهې،ساينس، ټکنالوژۍ او ستور پېژندنې په برخه کې د بشر په

برخه شوي دي، دا ټول د طبیعت د اسرارو او قوانینو د کشف  پایله ده چې د پدیدو او موجوداتو په اړه له څېړنې وروسته لاس ته راغلي دي.

مسلمانانو د خدای(جَلَّ جَلالُه) د اوامرو په لارویتوب او د اسلام د ستر پیغمبر ﷺ د ارشاداتو او لارښوونو له مخې د علم زده کړه او د طبیعي پدیدو په اړه د څېړنو سرته رسولو په برخه کې داسې سترې کارنامې ترسره کړي چې د بشریت تاریخ پرې وياړي.

* د ټولګیوالو په مرسته د خدای (جَلَّ جَلالُه) د تکویني قوانینو په اړه څوکرښې ولیکئ او بیا یې په ټولګي کې ولولئ.

## د لوست تکرار

- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- طبیعت څه ته وايي؟

۲- د طبیعت ټول موجودات او پدیدې د چا د امر تابع دي او د کومو قوانینو مطابق خوځښت کوي.

۳- د طبیعت د اسرارو په اړه څېړنه د کومو علوموندنه ده؟ بیان یې کړئ.

## کورنی دنده

دا چې د طبیعت د اسرارو په اړه څېړنه د خدای(جَلَّ جَلالُه) په پېژندنه کې څه مرسته کوي؟ په دې اړه څلور کرښې ولیکئ.

# د خدای (جَلَّ جَلالُه) پیژندنه

﴿سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ﴾ { فصلت: ٥٣ }
ژباړه: خپل قدرت او حکمت د نړۍ ترڅنډو او د بندګانو په منځ کې په ښکاره ډول څرګند او روښانه کوو ترڅو دوی ته دا جوته شي چې دا قرآن حق دی.

برگ درختان سبز در نظر هوشیـــار
هر ورقش دفتریست معرفت کردگار (سعدی)



په تېر لوست کې مو د طبیعت د پېژندلو په اړه بحث وکړ، که طبیعت په ښه او سمه توګه وپېژنو هرومرو به د خدای (جَلَّ جَلالُه) د پېژندلو لاره هم وموو، ځکه خدای (جَلَّ جَلالُه) طبیعت د دې لپاره پیدا کړې چې د خدای (جَلَّ جَلالُه)د پېژندنې په اړه له موږ سره مرسته وکړي. په دې لوست کې به د خدای (جَلَّ جَلالُه) پېژندنې په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

## خبرې پرې وکړئ

۱- ګرانو زده کوونکو آیا کله مو د کایناتو او نړۍ د لویوالي په اړه چې موږ پکې ژوند کوو، فکر کړی دی؟

۲- هغه تر ټولو لوی او ستر شی چې تر اوسه مولیدلی وي او یا مو په ذهن کې ګرځېدلی وي، څه شی دی؟ په دې اړه غور او فکر وکړئ.

ښايي تاسو کوم یو ته د خپلې اوسېدنې ښار تر ټولو لوی ښکاره شي او که چا لیرې سیموته سفر کړی وي، ښايي یو شمېر ځایونه او ښارونه ورته د نړۍ لوی ځایونه او ښارونه ښکاره شي. بې شکه دځمکې دکرې وضعیت د نورو کایناتوپه پرتله له دورو او خاورو څخه له یوې کوچنۍ ذرې بل شی نه دی. ځکه ځمکه د نورو حیرانوونکو کایناتو په لیکه کې له خپل لوی والي او پراخوالي سره سره ډېره کوچنۍ معلوموي. کېدای شي د پورته بیلګې په وړاندې کولو سره د نړۍ او کایناتو حیرانونکی پراخولی او لویوالی تاسې ته جوت شوی وي.

ځمکه، لمر، سپوږمۍ، آسمانونه، انسانان، اوبه، ونې، ګلونه، ژوي، څاروي، الوتونکي، خوځندې (حشرې) او هرڅه چې په طبیعت او خپل شا او خواکې وینو، له کومه ځایه او څنګه پیدا شوي دي؟

د آسمان لوی ستورې او سیارې د ځمکې، لمر او سپوږمۍ په شاوخوا په پراخه فضاکې داسې حرکت کوي چې ګوندې لامبووهي چې د دغو سترو اجرامو شتون او حرکت د یو حیرانوونکي نظم او قانون په وسیله ترسره کېږي چې هېڅ خلل او ګډوډي په کې نه راځي.

دکایناتو دا پراخوالی او عظمت، د نړۍ دا حیرانوونکی نظم، پیداکوونکی او پالونکی لري چې په خپل لوی قدرت او د بې ساري علم په لرلوسره یې دا ټول شیان پیدا کړي دي.

## د خدای(جَلَّ جَلاَلُه) د قدرت او ځواکمنۍ ځينې نښې:

طبیعت او کاینات د خدای(جَلَّ جَلاَلُه) له مطلق قدرت او بېساري علم څخه ډک دی. که موجوداتو ته نظر واچوو او د هغو په هکله فکر وکړو، د پیدایښت او خلقت په اسرارو پوهېدل د خدای (جَلَّ جَلاَلُه) د پېژندنې او د ایمان د ودې ترټولو ښه لاره ده.

له همدې امله په قرآن کریم کې خدای(جَلَّ جَلاَلُه) په وار وار انسانانو ته په طبیعت او کایناتو کې د فکر کولو، څېړنې او نظر اچولو امر کړی دی، دوی د طبیعت او موجوداتو د اسرارو کشف او مطالعې خواته را بولي. څرنگه چې انسان په نړۍ کې خدای(جَلَّ جَلاَلُه) نه شي لیدای؛ ځکه چې د دې کار ورتیا او وس نه لري، خو د خدای (جَلَّ جَلاَلُه) پېژندنه د هغه د قدرت د نښو نښانو او د نومونو له معرفت او پېژندنې او صفاتو له لارې شونې ده.

د خدای(جَلَّ جَلاَلُه) نومونه او صفات په قرآن کریم او د پیغمبر ﷺ په احادیثو کې ذکر شوي چې د هغو تفصیل د عقایدو په کتابونو کې موندلای شو.

د خدای (جَلَّ جَلاَلُه) پېژندنه د هغه کریم او رحمن ذات له اطاعت کولو سره تړاو لري؛ کله چې انسان خدای(جَلَّ جَلاَلُه) وپېژني، باید په ټولو خبرواو کړو وړو کې خپل ځان د هغه د قانون او نظام یعنې د اسلام د دین تابع او منونکی وگرځوي او له گناهونو او سرغړونې څخه ډډه وکړي.

* ولې خدای(جَلَّ جَلاَلُه) انسانانو ته پر کایناتو د نظر، څېړنې او فکرکولو امر کړی دی؟

### د لوست تکرار

- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱- د خدای(جَلَّ جَلاَلُه) د پېژندنې او د پیدایښت او خلقت په اسرارو د پوهېدلو لاره کومه ده؟

۲- د خدای (جَلَّ جَلاَلُه) پېژندنه څه گټه لري؟

۳- آیا کولای شئ دخدای(جَلَّ جَلاَلُه) د قدرت د څو نښو نښانو نومونه واخلئ؟

### کورنۍ دنده

د لویانو په مرسته د حضرت سعدي (رح) د شعر مفهوم په څلورو کرښو کې ولیکئ.

# ټولنيزو اړيکو او مناسباتو ته اړتيا

په تېر لوست کې مو زده کړل چې د خدای(جَلَّ جَلاَلُه) پېژندنه د هغه رحمان او رحيم ذات له امر منلو سره تړاو لري. کله چې انسان خدای(جَلَّ جَلاَلُه) وپېژاند، خپل ځان بايد په ټولو ويناوو، کړو وړو کې د هغه ذات د قانون او نظام يعنې د اسلام د دين تابع او منوونکي وګڼي، له ګناه او سرغړونې څخه ډډه وکړي.په دې لوست کې به ټولنيزو اړيکو ته د اړتيا په اړه معلومات ترلاسه کړئ.



## خبرې پرې وکړئ

آيا د نورو سره د اړيکو نيولو پرته کولای شو، لکه څرنګه چې اړينه ده خپل ژوند پر مخ بوځو؟

## اړيکې څه ته وايي:

اړيکې په لغت کې د پيوند ورکولو او په عامه معنا له يوه وګړي څخه بل وګړي ته، د اطلاعاتو، افکارو او انساني کړو وړو لېږدول دي. اوس چې تاسې د اړيکو په مفهوم او معنا پوه شوئ، نو اړينه ده چې د ټولنې له نورو غړو سره د اړيکو په اړتيا هم پوه شئ.

**له ګاونډيانو سره د اړيکو او ښه سلوک په اړه له ټولګيوالو سره بحث وکړئ.**

څرنګه چې وويل شو، انسان ټولنيز موجود دی چې په يوازې ډول ژوند نه شي کولای، په ژوند کې بې شمېره ټولنيزې، اقتصادي، عاطفي او سياسي اړتياوې لري چې د نورو په مرسته پوره کېږي. موږ له يو لوري د خپلو مادي اړتياوو د پوره کولو لپاره د نورو هم فکرۍ او مرستې ته اړ يو او له بل لوري د عاطفي اړتياوو د پوره کولو لپاره لکه: مينه، صميميت، روحي سوکالۍ ته اړتيا لرو. له نورو سره بايد اړيکې ولرو، د نورو په خوښيو او غمونو کې ګډون وکړو ترڅو هغوی په غم او خپګان پوه نه شي او د يوازې توب احساس ونه کړي.

څکه نو د اسلام ستر پېغمبر ﷺ فرمايلي دي: ( د مؤمنانو حالت د مينې، مهربانۍ، هم فکرۍ او رحمت له نظره د يو بدن په څېر دی، کله چې د بدن يو غړی په درد شي، نو د انسان ټول بدن

د درد او نا ارامۍ احساس کوي، خدای (جَلَّ جَلاَلُه) فرمايي:

﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ (د مايده سوره۲)

ژباړه: يعنې د ښېګڼې او پرهېزګارۍ په چارو کې يو له بل سره مرسته وکړئ او د ګناه ، دښمنۍ، او حق خوړلو په چارو کې مرسته مه کوئ.

انسانان له يو بل سره ډول ډول اړيکې لري او هر څوک په ټولنه کې خپل کارونه سرته رسوي. په دې ډول بايد له يو بل سره مرسته وکړو، ترڅو وکولای شو يو د بل اړتياوې پوره کړو او له نورو انسانانو سره له اړيکو پرته له ستونزو سره مخ کېږو. په ځينو برخو کې کېدای شي ژوند کول را ته ستونزمن شي، نو له دې کبله پر موږ ټولو لازمه ده چې بايدله پلار، مور، وروڼو، خويندو، خپلوانو، دوستانو، ملګرو او هېوادوالو سره نيکې او دوستانه اړيکې ولرو، ترڅو په سوله، آرامۍ او نېکمرغۍ کې ژوند وکړو، ځکه نه شو کولای چې يوازې او له نورو انسانانو لرې ژوند وکړو.

## د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- اړيکې څه معنا لري؟

۲- انسانان ولې يوله بل سره اړيکې ساتي؟

۳-انسانان يو له بل سره کوم ډول اړيکې لري؟ بيان يې کړئ.

## کورنۍ دنده

د ښو اړيکو ګټې په څلورو کرښو کې وليکئ او بيايې په ټولګي کې ولولئ.

# ولې درناوي ته اړتيا لرو؟

په تېر لوست کې مو زده کړل چې انسانان ټولنيز موجودات دي، له يو بل سره اړيکو ته اړتيا لري، له بلې خوا د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره د نورو هم فکرۍ او مرستې ته هم اړدي، همدارنګه د عاطفي اړتياوو د پوره کولو لپاره بايد د ټولنې له نورو غړو سره اړيکې ولري.

## خبرې پرې وکړئ

۱-که چېرې د چا درناوی و نه شي، نو هغه به څه احساس وکړي؟
۲-آيا درناوی کول کوم حد او اندازه لري؟

درناوي (احترام)، مقام، د نفس عزت، د پت ساتنه او قدر پېژندلو ته اړتيا د دې لامل ګرځي چې انسانان په سپکاوي خفه او په ستاينه خوشحاله شي. همدارنګه درناوي ته فطري اړتيا کېدای شي د بېلابېلو فرهنګي او ټولنيزو شرايطو له کبله پيدا شي. دا په دې معنا که په کوچنيوالی کې هر څومره د چا سپکاوی وشي، هومره بيا د درناوی لپاره د هغه ميل او غوښتنه زياتېږي.

له بلې خوا که انسانانو ته له کوچنيوالي ډېر درناوی وشي؛ د بېلګې په توګه اووه کلن او يا پنځه کلن کوچني ته که ووايو چې: ښاغليه احمده ډېره هيله کېږي دلته تشريف راوړئ، نو درناوی او احترام ته به د دوی اړتيا نوره هم زياته شي، لکه څوک چې په ښو خوړو عادت وي او لوږه يې نه وي تېره کړې، نو تل د ښوخوړو غوښتونکی وي، چې دا له حد او اندازې نه زياته اړتيا ده. له دې کبله اړتياوې په لويانو او په کوچنيانو کې بايد يو ټاکلی بريد ولري، يعنې دا چې احترام او درناوی بايد له دواړو لوريو وي.

د وګړو او په ځانګړي ډول د کوچنيانو بې احترامي ونه کړو او نه يې هم له حده زيات درناوی وکړو؛ له هغو سره بايد په منځني ډول چلن وکړو؛ هغه کوچنيان چې په کورنيو کې نازولي لوی شوي وي کله چې ټولنې ته وراندې شي او هلته له ستونزو سره مخ شي، د هغه شخصيت به تيټ او ناکام شي او د هر فعاليت وس او توان به له لاسه ورکړي. همدارنګه دا مثال د مادي اړتياوو په برخه کې هم صدق کوي؛ د بېلګې په توګه کوم وګړی چې ستونزې او لوږې يې نه وي تېرې کړې، په ستونزمنو وختونو کې له پښو لوېږي.

درناوی، د نفس عزت، د پت ساتنه او مقام ته د اړتيا اغېزه له مادي اړتياوو څواکمنه ده، د بېلګې په توګه يو مسلمان وګړي ته له عقيدې، ناموس او عزت نه دفاع له ځان قربانولونه هم ارزښتمنه ده.

درناوي ته اړتيا په ورځني ژوند کې هم ليدل کېږي، د بېلګې په توګه کېدای شي يو وګړی په مړه ګېډه خواړه ونه خوري، خو خپلو بچيانوته ښه کالي برابروي؛ شايد پخپله په بد حالت کې ژوند وکړي؛ خو کله چې کورته يې مېلمه راشي، خوندورې مېوې او خواړه چې هېڅکله يې پخپله او کورنۍ باندې نه وي خوړلي، مېلمه ته يې ږدي.

څرنګه چې ووبل شو، د اړتياوو پوره کول بايد يو ټاکلی بريد او اندازه ولري، يعنې درناوی ته اړتيا بايد په ټولنه کې تعادل ولري. انسان ته بايد سپکاوی و نه شي، هغه ته بايد احترام وشي او يو انسان

ته درناوی تردې اندازې نه وي چې له حده تېرشي او د هغه د تکبر او ځان ښودنې لامل شي.
خدای (جَلَّ جَلاَلُه) په قرآن کریم کې فرمايلي: ﴿وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُواْ شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾ (او همدارنګه مو له تاسې نه منځ لارى امت جوړکړ ترڅو د خلکو په وړاندې يو بېلګيز( نمونه) امت واوسئ او پيغمبر ﷺ هم د ستاسې په وړاندې د يوې بېلګې په توګه دی) {بقره: ۱۴۳}

نو څرنګه چې موږ خلکو ته درناوي کوو، همداسې له هغو څخه هم د درناوي هيله لرو.

* له ټولګيوالو سره مود درناوي د حد او اندازې په اړه خبرې وکړئ.

### د لوست تکرار

- -----------------------------------------------------------
- -----------------------------------------------------------
- -----------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱- په کومو شرايطو کې درناوي ته اړتيا زياتېږي.
۲- ولې په سپکاوي خفه کېږو او په ستاينه خوشحالېږو؟
۳-نازولي کوچنيان په راتلونکي ژوند کې له کومو ستونزو سره مخ کېږي.

### کورنۍ دنده

درناوي ته د اړتيا په اړه څو کرښې وليکئ.

## د څپرکي لنډيز

- اړتياوې د يوشي د کمښت احساسول او له هغه سره په څنګ کې د دغو اړتياوو د پوره کولو هڅو ته ويل کېږي.
- مادي اړتياوې عبارت دي له: خوړو، اوبو، پوښاک، استوګنځي.... او نور.
- معنوي اړتياوې ډېر ډولونه لري د بېلګې په توګه: د خدای(جَلَّ جَلاَلُه) پېژندلوته اړتيا، د ځان پېژندنه، ټولنيزو اړيکو ته اړتيا، د امنيت احساس، درناوی ته اړتيا او داسې نور.
- طبيعت د ځمکې،آسمانانو، غرونو، ونو، سيندونو، ځنګلونو او نورو هغه څه چې په خپل شا او خواکې يې وينو، له مجموعې څخه عبارت دی.
- انسانان په خپلوکې بېلابېلې اړيکې لري او هر يو په ټولنه کې يو کار سرته رسوي. نو بايد يو له بل سره مرسته وکړو، ترڅو يو د بل اړتياوې پوره کړای شو.

# دویم څپرکی

**په دغه څپرکي کې دا لاندې مطالب لولئ**

- د کورنۍ پيدايښت او رول
- کورنۍ ته ولې اړتيا لرو؟
- په کورنۍ کې د مسؤوليت احساس
- په کورنۍ کې مرسته
- سلا او مشوره
- په کورنۍ کې نظم
- په کورنۍ کې يو بل ته درناوی
- په کورنۍ کې له ځانه تېرېدنه

# د څپرکي موخې

له زده کوونکو څخه هیله کېږي په لاندې پوهنيزو، مهارتي او ذهنيتي موخو پوه شي:

- د پيدايښت مفهوم او د کورنۍ رول وپېژني
- په کورنۍ کې د مسؤوليت په احساس او د سلا مشورې پر ارزښت پوه شي
- په کورنۍ کې يو بل ته د درناوي په مفهوم وپوهېږي
- په کورنۍ کې له ځانه تېرېدنې سره آشنايي پيدا کړي
- د کورنۍ پيدايښت او د هغې په رول پوه شي
- د مسؤوليت احساس او مرسته يو له بله توپير کړای شي
- مشورې ته اړتيا او نظم توپير کړای شي
- يو بل ته درناوی او په کورنۍ کې ځان تېرېدنه پرتله کړای شي
- د کورنۍ او د هغې د پيدايښت او رول په اړه په زړه پورې معلومات پيدا کړي
- په کورنۍ کې مسؤوليت، مرستې او مشورې ته ښه نظر پيدا کړي
- په کورنۍ کې د نظم او يو بل ته له درناوی سره مينه پيدا کړي
- په کورنۍ او ټولنه کې د ځان تېرېدنې په اړه مثبت ذهنيت پيدا کړي

# د کورنۍ پیدایښت

په تېر لوست کې پوه شوو چې درناوي ته اړتیا، مقام او د نفس عزت، د پت ساتنه او د یو چا قدر د دې لامل گرځي چې انسانان له سپکاوي څخه خوا بدی او په ستاینه، تشویق اوخوشحالیږي. په دغه لوست کې به د کورنۍ د پیدایښت او رول په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

## خبرې پرې وکړئ

- موږ هر یو د یوې کورنۍ غړي یو، کورنۍ څرنگه جوړېږي؟
- کورنۍ زموږ کومې اړتیاوې پوره کوي؟

که له تاسو څخه پوښتنه وشي، هغه کسان چې تاسې د ژوند په لومړي سر کې وپېژندل، ځوک وو او نومونه یې واخلئ؛ ستاسې ځواب به څه وي؟ بې له ځنډه به ځواب ورکړئ چې پلار، مور، خویندې او وروڼه لومړني کسان دي چې تاسې هغه پېژندلي او له هغو سره مو مینه پیدا کړې، تاسې او یاد شوي کسان یو گروپ یئ او داگروپ د کورنۍ په نوم یادېږي.

کورنۍ د ښځې او نارینه د واده په پایله کې جوړېږي؛ د کوچنیانو د زېږېدنې په پایله کې د کورنۍ شمېر زیاتېږي، خوښي او خوشحالي وربه برخه کېږي؛ کورنۍ د ټولنیز پیوستون وسیله ده او د ټولنې بنسټ جوړوي او له ډېرو اړینو ټولنیزو گروپونو څخه ده، چې په هره ټولنه کې منل شوې، پرمختگ او پراختیایې موندلې ده.

زموږ ډېرى ځوانان په خپلو کورونو کې په ډېره هوساینه او خوښۍ ژوند کوي.

آیا کله مو فکر کړی چې ټول تنکي ځوانان او ستاسې همزولي له خپلو کورنیو سره ژوند کوي؟

## د ژوند په بهیر کې د کورنۍ رول

کورنۍ د خپلو غړو د ټولنیز ژوند د پیل ځای دی. کوچنیان خبرې کول او د ژوند لارې چارې له خپلې کورنۍ او نور کړه وړه له ټولنې څخه زده کوي. په دې توگه، کورنۍ کوچنیان په ټولنه کې د ژوند کولو لپاره روزي او چمتوکوي.

* کوچنیان کوم شیان له کورنۍ څخه زده کوي؟

کورنۍ خورا ښه ښوونځی دی چې هلته کوچنیان دین، ژبه، ښه اخلاق، ایمانداري، مهرباني، لطف، زغم، او موسکا زده کوي.

## ولې د اسلام دین کورنۍ ته ډېر اهمیت ورکوي؟

اسلام کورنۍ یو بنسټیز او خورا مهم ټولنیز واحد ګڼي چې د مینې، مهرباني او مرستې پر بنسټ ولاړه ده او دا بنسټ خدای (جَلَّ جَلالُه) ته ډېر ګران دی. اسلام کورنۍ ژوند د حقونو او مسؤولیتونو پر بنسټ پیژني او په هغې کې د هر یوه غړي دنده معلومه ده. اسلام غواړي چې سمون له کورنیو څخه پیل شي او مسلمانه ښځه او مېړه باید د خپل ټولنیز ژوند دوام او پایښت په کورنۍ کې ولټوي.

هغه کوچنیان چې په کورنۍ کې له ښې روزنې، مینې او اخلاقو څخه برخمن شي، په راتلونکي کې به ګټور او دنده پېژندونکي وګړي شي. له همدې کبله اسلام کورنۍ ته ډېر ارزښت ورکړی دی.

کورنۍ په اقتصادي برخه کې د خپلو غړو ملاتړ کوي. خو اړه، پوښاک، د زده کړې لګښت او ټولې مادي اړتیاوې یې پوره کوي. همدارنګه د مینې او صمیمیت له لارې د هغوی عاطفي اړتیاوې پوره کوي.

له همدې امله په اسلام کې د کورنۍ بنسټ د ټینګښت لپاره، خدای (جَلَّ جَلالُه) خپل بنده ګان د عبادت کولو او له شرک څخه له لرې کېدو وروسته له مور او پلار سره د ښېګڼې کولو امر کړی. همدارنګه اولادونو ته د نیکۍ او سالمې روزنې ورکول یې هم پر مور او پلار لازم ګڼلي دي.

* کورنۍ د خپلو غړو د اړتیاوو کومې برخې پوره کوي؟

### د لوست تکرار

- ---------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱-کورنۍ تعریف کړئ؟

۲ - دولت هغه ماشومان چې مور، پلار او کورنۍ یې له لاسه ورکړي دي، چېرې ساتي؟

۳ - کورنۍ کوم شیان ماشومانو ته ورزده کوي؟

### کورنۍ دنده

کوچنیان د کورنۍ پر وړاندې کومې دندې لري؟ د کورنۍ د غړو په مرسته په دې اړه درې کرښې ولیکئ.

# ولې کورنۍ ته اړتيا لرو؟

په تېر لوست کې مو زده کړل چې کورنۍ د ټولنيزو اړيکو وسيله ده چې د ټولنې بنسټ جوړوي. کورنۍ مسؤوليت لري چې له خپلو غړو سره له اقتصادي او عاطفي اړخه مرسته وکړي. په دغه لوست کې به کورنۍ ته د اړتيا په هکله معلومات ترلاسه کړئ.



## خبرې پرې وکړئ

که چېرته کورنۍ نه واى، موږ به څرنګه ژوند کاوه؟

د انسان له اړتياوو يوه دا ده چې هغه نه شي کولاى له نورو وګړوسره له اړيکو او مرستې پرته څرنګه چې اړينه ده ، ژوند وکړي.

کله چې انسان وزېږي، کورنۍ ته اړتيا لري او نه شي کولاې پرته له کورنۍ او ټولنې ژوند ته دوام ورکړي. کله چې کوچنى لوى شي، بيا مور او پلار د هغه خواړه، سرپناه، پوښاک او امنيت ته پاملرنه کوي، څو ښوونځي او مدرسې ته لاړشي او زده کړه وکړي. خويندې، وروڼه او د کورنۍ لويان په خپل وار له هغه سره په درسونو او شخصي کارونو کې مرسته کوي.

کورنۍ داسې بنسټ دى چې اړتيا يې په شرعي اوعقلي توګه د پوهېدلو وړده. کورنۍ د نارينه او ښځې د واده په پايله کې رامنځته کېږي چې د ټولنې لپاره لوى خدمت دى. ځکه د کورنۍ شتون ټولنه له فساد څخه لرې ساتي او د دې لپاره چې کوچنى د کورنۍ او ټولنې پر وړاندې د مسوولیت احساس وکړي، د مور او پلار په څېر صالح ښوونکي او خواخوږي ته اړتيا لري.

## بحث پرې وکړئ:

مخکې مو وويل چې کورنۍ د کوچنيانو د ژوند له پيل څخه دهغوى ساتنه او پالنه کوي او د کورنۍ د غړو لپاره خواړه، جامې او سرپناه چمتوکوي

- ستاسې په اند، آيا دا پالنې او روزنې يوازې په کوچنيوالى پورې اړه لري؟
- کورنۍ نورې کومې چارې د خپلو غړو لپاره سرته رسوي؟

کله چې کوچنی وزېږي، خبرې کول، گرځېدل، کره وړه او له خلکو سره د ژوند کولو لاروچارو باندې نه پوهېږي، کله چې لوی شي، دا ټول له پلار، مور او د کورنۍ له نورو غړو څخه زده کوي.

کورنۍ کولای شي د انسان د ډاډ، امن او هوساینې چاپېریال د ربړونو، ستونزو او ناکامیو پر مهال ښه سرپناه واوسي. کورنۍ انسانان له سرغړونو، جنایتونو او گمراهیو څخه په امن کې ساتي؛ په دې شرط چې په خدای (جَلَّ جَلالُه) باور او عقیده ولري، یو بل ته درناوی وکړي او یو په بل اعتماد ولري. په ښوونې او روزنې او اخلاقي پوهې سمبال واوسي.

که کورنۍ نه وي، هېڅکله به د کوچنیانو سمه او نورماله روزنه ونشي، تجربو او څېړنو ښودلې هغه کوچنیان چې د خپلې کورنۍ په غېږکې روزل شوي، د هغو کوچنیانو په پرتله چې د دایې په غېږ او یا په پالنځي کې روزل شوي وي، د خوشحالۍ له روحیې، پرځان ویسا اوله ښه او پرمخ تللي شخصیت څخه برخمن وي. له همدې کبله د کورنۍ د رول ارزښت او هغې ته د اړتیا احساس څرگندېږي.

* ستاسې په اند، مور په کورنۍ کې ستاسې کومې اړتیاوې پوره کوي؟

## د لوست تکرار

- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- انسان ولې کورنۍ ته اړتیا لري؟

۲- کورنۍ د کوچنیانو کومې اړتیاوې پوره کوي؟

۳- کورنۍ کوم شیان کوچنیانو ته ور زده کوي؟

## کورنۍ دنده

ستاسې په اند کوچنیان د کورنۍ په وړاندې کومې دندې لري؟ د دې موضوع په هکله له خپلو ټولگیوالو سره خبرې وکړئ او پایله یې په دریو کرښو کې ولیکئ او بیا یې په ټولگي کې ولولئ.

# په کورنۍ کې د مسؤولیت احساس

«كُلُّكُمْ رَاعٍ وَ كُلُّكُمْ مَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ» {بخاري}

پیغمبر ﷺ فرمايي: (ستاسې هر یو مشر دی او هر یو له تاسو څخه د لاس لاندې کسانو په وړاندې مسؤول دی)

په تېر لوست کې مو زده کړل، کله چې کوچنی وزېږي، نو کورنۍ ته اړتیا لري او له کورنۍ پرته یې پالنه نشي کیدای؛ ځکه کورنۍ د هغه مادي او معنوي اړتیاوې پوره کوی. په دې لوست کې به په کورنۍ کې د مسؤولیت د احساس په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

## خبرې پرې وکړئ

که مور او پلار مو تاسې ته د یوې چارې د سرته رسولو دنده درکړي؛ آیا تاسې هغه دنده سرته رسوئ او که نه؟ که ځواب مو مثبت وي، نو دلیل یې څرګند کړئ.

تاسې په کورنۍ کې بېلابېلې دندې پر غاړه لرئ او هغه سرته رسوئ. څوک چې د یو کار سرته رسول پر غاړه واخلي، نو هغه کار باید په خپل وخت او سمه توګه سرته ورسوي چې دا کړنه یې د مسؤولیت د احساس معنا لري.

هغه مسؤولیت چې پر غاړه اخلئ، هېر یې نه کړئ. باید هغه په مینه او په خپل وخت سرته ورسوئ. آ ن که ستاسې دوستان، د اړوندو چارو د سرته رسولو پر مهال تاسوته د فټبال یا والیبال د لوبې لپاره بلنه درکړي، ددغه مسؤولیت د منلو په مقابل کې د درسپارل شوي کار د سرته رسولو تر پایه له هغوی نه ببښنه وغواړئ. که یو کار د کورنۍ یو غړی در وسپاري او هغه په خپل وخت سرته ونه رسوئ، د کورنۍ د خوابدۍ او خپګان لامل ګرځي او هغه مینه او صمیمیت چې په کورنۍ کې شته، له منځه به لاړشي.

## د مسؤول کس ځانګړنې کومې دي؟

د چارو په سرته رسولو کې غور کول؛ ځیرتیا، د وخت پېژندنه، نظم او سمون، څارنه او د چارو تر پایه سرته رسول او داسې نور د مسوول وګړي له ځانګړتیاوو څخه دي.

* پر پورتنیو موضوعاتو سربېره نور کوم مطالب د مسؤول وګړي ځانګړتیاوو سره تړاو لري؟ ویې لیکئ.

## د کورنۍ د غړو مسؤولیت

د کورنۍ هر غړی د کورنۍ د چارو د سرته رسولو، پرمختګ، هوساینې، نېکمرغۍ او د کورنۍ د

غړو د استعدادونو د ودې په برخه کې ديني او اسلامي وجايب او مسؤوليتونه لري؛ د دغو چارو له سرته رسولو ډېره کول، د کورنۍ په چارو کې خنډ را منځته کوي چې اختلافات او بې باوري د خپګان او خوابدۍ لامل او په کورنۍ کې د صميميت او مهربانۍ د له منځه تللو سبب ګرځي، په داسې حال کې چې صميميت او مهرباني د کورنۍ له ځانګړنو څخه ګڼل کېږي، چې د هغو پر بنسټ د کورنۍ غړي يو د بل پر وړاندې د مسؤوليت احساس کوي.

د کورنۍ هر غړی بايد په اړوندو چاروکې پوره ونډه واخلي، ترڅو د دغو چارو په سرته رسولو سره خپل مور او پلار ته دا څرګنده کړي چې هغوی پر مور ګران دي او مور خپل ځانونه د راتلونکي ژوند د مسؤوليتونو سرته رسولو لپاره چمتو کوو.

* کله چې کورنۍ مور ته يوه دنده راوسپاري او مور يې په ترسره کولو کې د مسؤوليت احساس ونکړو، څه به پېښ شي؟

## د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱-د مسؤوليت احساس څه معنا لري؟

۲- د کارونو سرته رسولو پر مهال د مسووليت احساس څه ګټې لري؟

۳- د مسؤوليت نه احساس په کارونو کې کومې پايلې لري؟

## کورنۍ دنده

هغه وګړي چه د چارو په سرته رسولو کې د مسؤوليت احساس کوي، له هغه چاسره چې د مسؤوليت احساس نه کوي،پرتله کړئ.

# په کورنۍ کې مرسته

﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُواْ عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ د مائده سورت:۲ آیت

ژباړه: په ښو او د خیر په کارونو کې یو له بل سره مرسته وکړئ او په ګناه اوبدو کارونو کې له یوبل سره مرسته مه کوئ.

په تېر لوست کې مو زده کړل چې د مسؤولیت احساس، د یوې دندې سرته رسولو پر غاړه اخېستل او په مینه او سمه توګه د هغې سرته رسول دي. په دغه لوست کې به په کورنۍ کې د مرستې په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

## خبرې پرې وکړئ

تاسو ولې د کارونو په سرته رسولو کې یو له بله سره مرسته کوئ؟

موږ هر یو د کورنۍ غړي یو او په کورنۍ کې ټاکلې دندې لرو او د کورنۍ د غړي په توګه چارې سرته رسوو او له نورو کورنیو سره هم مرسته کوو. نو دې مطلب ته په پام:

- که د یوې کورنۍ غړي یو تر بله مرسته ونه کړي، څه به پېښ شي؟
- آیا د ټولنې د غړو له مرستې پرته کولای شو خپل ژوندته خرنګه چې ښایي دوام ورکړو؟

## مرسته څه ته وايي؟

مرسته یا تعاون هغه ټولنیزعمل دی چې په هغې کې دوه یا څوکسان په ګډه هڅو، ګډې موخې ترلاسه کوي. دا نه یوازې د ټولنیزو اړیکو عامه بڼه ده، بلکې د کورنیو، ګروپونو او ټولنو د ساتنې، دوام بنسټیز او اړین شرط هم ګڼل کېږي. مرسته یوه دوه اړخیزه اړیکه ده؛ په کور کې هره ورځ ډېر کارونه سرته رسېږي؛ د کورنۍ ټول غړي کولای شي د کور په اړوندو کارونو کې یو تربله مرسته وکړي؛ د بېلګې په توګه: پلار د کورنۍ میاشتنۍ لګښت تیاروي، مور خواړه تیاروي، وروړمو له نانبايي څخه ډوډۍ راوړي، خورمو دسترخوان هواروي، د کورنۍ نور غړي خواړه پر د سترخوان ږدي او د بسم الله الرحمن الرحیم په ویلو سره د ډوډۍ په خوړلو پیل کوو او په پای کې پلار د دعا په ویلو سره د ډوډۍ خوړل پای ته رسوي. لنډه دا چې د کورنۍ ټول غړي یو له بل سره مرسته کوي،

ترڅو په دې ډول ټول کارونه په سمه توګه سرته و رسېږي.

## آیا تاسې د کور په چارو کې مرسته کوئ؟

**که د کورنۍ غړي یر تربله مرسته ونه کړي، کورنۍ به له کومو ستونزو سره مخ شي؟**

د ځینو کورنیو د غړو ترمنځه مرسته کمزورې وي. له دې امله د کورنۍ ټولې چارې او یا ډېره برخه یې یوازې مور سرته رسوي او د کورنۍ نور غړي په خپلو ځانګړو چارو بوخت وي، نو که مور یې د کورنۍ چارو سربېره په بهر کې هم کار وکړي، نوموړې به ستومانه او ناروغه شي؛ نو ویلای شو چې کورنۍ د نورو ټولنیزو ګروپونو په پرتله د کورنۍ د غړو د مرستو پر بنسټ ولاړه ده. وګړي د عمر تر پایه له خپلو کورنیو سره مرستې ته دوام ورکوي. له ټولنې او خپلې کورنۍ سره باید د زړه له کومې مرسته وکړو او هغه دندې چې مور ته یې راسپاري، په ښه توګه یې سرته ورسوو.

### د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱-مرسته څه ته وایي؟

۲- هغه آیت شریف چې د مرستې او یا تعاون په اړه مو ولوست، له ژباړې سره یې ولیکئ.

۳- که په کورنۍ کې مرسته نه وي، له کومو ستونزو سره مخ کېږي؟

### کورنۍ دنده

د دې لپاره چې د کورنۍ د غړو تر منځ د مرستې کچه لا ډېره شي، باید څه وکړو؟ په دې برخه کې پنځه کرښې مقاله ولیکئ

# سلا( مشوره)

﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ﴾ { سورة العمران ۱۵۹}

(ژباړه: په چارو کې مشوره وکړئ.)

په تېر لوست کې مو معلومات ترلاسه کړل چې مرسته او تعاون یو تولنیزعمل دی، چې په هغه کې دوه یا څوکسان په ګډه څخو سره د یوې ګډې موخې د لاس ته راوړلو لپاره هڅه کوي.

په دې لوست کې به په چارو کې د مشورې په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

## خبرې پرې وکړئ

د انسان د بریالیتوبونو له لارو یوه یې هم له نورو سره مشوره کول دي. آیا له هر چا سره مشوره کولای شو؟ له چا سره چې مشوره کوو، باید کومې ځانګړتیاوې ولري؟

## سلا څه ته وايي؟

سلا په لغت کې رایې، تدبیر او مشورې ورکولوته وايي. د یوې موضوع د اوارولو او د هغې په هکله د هوډ نیولو په اړه د دوو یا څو کسانو د اندونو تبادله ده. انسانان د یوې چارې له سرته رسولو مخکې د هغې په اړه سلا کوي او د ښېلا ښېلو چارو په اړه فکر کوي.

له لاندې ذکر شویو وګړو سره په کومو چارو کې سلا او مشوره کوئ؟

پلار، مور، خور، ورور، ټولګیوال، دوستان، ښوونکي، د جومات ملا صاحب او داسې نورو سره؛ خو داسې ونه پتییل شي چې یوازې کم تجربه وګړي له نورو سره سلا کوي؛ تجربه لرونکي خلك هم د نورو له سلااو مشورو څخه ګټه اخلي. کېدای شي تاسو څو څو واره د کالیو او خوړو، په مناسبو ځایونو کې د کور د وسایلو د ځای پر ځای کولو په اړه له خپلې مور سره سلا کړې وي او د هغې نظر مو پوښتلی وي . همدارنګه پلار تل د ځینو اړینو چارو په اړه لکه: د کور یا اپارتمان د پلورلو یا په اجاره اخیستلو، د کور د وسایلو د پلورلو په اړه له ماندینې او اولادونو سره مشوره کوي.

❋ **ستاسې په اند: په پورتنیو یا دو شویو او همدارنګه نورو چارو او موضوعاتو کې ولې مشورې او سلا ته اړتیا لرو؟**

څرګنده ده انسانان د ښه ژوند تېرولو لپاره تل له خپلو خوا خوږو دوستانو سره مشوره کوي او په دې ترتیب چې پر خپل فکر سربېره د نورو له اندونو څخه هم ګټه اخلي.

## آیا پوهېږئ چې له کومو وګړو څخه مشوره واخېستل شي؟

له پرهېزګارو، تجربه لرونکو، پوه او راز ساتونکو وګړو څخه باید سلا او مشوره واخېستل شي.

**- په پورتنیو یادوشویو وګړو سربېره نور له چا سره مشوره کولای شو؟**

**-د اسلام سپېڅلي دین د سلا او مشورې په اړه کومې لارښوونې کړې دي؟**

د اسلام سپېڅلی دین مشورې ته ځانګړې ارزښت ورکوي،که اسلامي هېوادونه د مشورې له سپېڅلواصولو ښخه پیروي وکړي، هرو مرو به د خدای(جَلَّ جَلاَلُه) له لطف او مهرباني ښخه برخمن شي. په دیني او دنیوي چارو کې له یو بل سره مشوره کول د خدای(جَلَّ جَلاَلُه) او د هغه د رسول محمد ﷺ په نزد منونکی او ښه کار دی. پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: (**څوک چې استخاره وکړي بې برخې نه پاتې کېږي او څوک چې مشوره وکړي نه پښیمانه کېږي او څوک چې خپل اقتصاد په سمه توګه تنظیم کړي، لاس یې نه تنګېږي**). حضرت محمد ﷺ به تل له اصحابو سره سلا کوله او د ده مبارک له رحلت وروسته اصحابو هم تل د مشورې په رڼا کې چارې مخته بېولي او د رایو له خاوندانو، پوهو او عالمو وګړو نه به یې مشوره اخېستله او د دغو مشورو په رڼا کې به یې د چارو په سرته سولو لاس پورې کاوه. سلا او مشوره له حقیقت ښخه پرده لرې کوي او روښانه کېږي. همدارنګه مشوره کوونکي او مشوره ورکوونکي د مستقیم مسؤولیت احساس کوي او د خپل مسؤولیت د لرې کولو لپاره هڅه او مرسته کوي. له همدې امله شوراګانې منځ ته راغلی چې په مختلفو ټولنو کې له پخوا زمانو را هیسې د منلو وړ ګرځېدلي او هر هېواد په یو ډول له هغو ښخه ګټه اخلي. پردې بنسټ مونږ باید له هغو وګړو سره مشوره او سلا وکړو چې راز ساتونکي، رښـتیني، پرهېزګار، تجربه لرونکي او په اړونده موضوع کې ډېر معلومات ولري.

**❋ د سلا او مشورې ارزښت بیان کړئ.**

## د لوست تکرار

- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱-د مشورې ښېګڼې ووایاست؟

۲- له کومو وګړو ښخه باید مشوره واخېستل شي؟

۳- د اسلام سپېڅلی دین د مشورې په اړه څه ویلي دي؟

## کورنۍ دنده

هغه څوک چې په کارونو کې مشوره نه کوي، له کومو ستونزو سره مخ کېږي؟ په دې اړه څو کرښې ولیکئ.

# په کورنۍ کې نظم

﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاء بِمَا فَضَّلَ اللّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُواْ﴾ {النساء: ٤٣}

ژباړه: نارينه پر ښځو حاکمان دي، ځکه چې خدای (جَلَّ جَلاَلُه) ځينو ته پر ځينو باندې لوړتيا ښبلې ده، له دې امله چې نارينه لګښت پرغاړه لري.

په تېر لوست کې مو ولوستل چې سلا او مشوره د دوو او يا څوکسانو يو تر بله د نظر تبادله ده چې د يوې موضوع د جوړجاړي او د هغه په اړه د هوډ نيولو په موخه سرته رسېږي. په دغه لوست کې به په کورنۍ کې د نظم په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

## خبرې پرې وکړئ

- نظم څه شی دی؟
- څرنګه کولای شو په کورنۍ کې نظم او سمون راولو؟

نظم په لغت کې سمون، ترتيبول او په اصطلاح کې سوکالی، تنظيمولو او اطاعت ته ويل کېږي.



ټولنيز نظم له قواعدو، ارزښتونو او قوانينو څخه د ټولنې د ټولو غړو خبرتيا ده چې د ټولنې بنسټ جوړوي. يو له هغو مسئلو څخه چې انسان په ورځني ژوند کې ورته اړتيا لري، په ټولنيزو چارو کې د نظم



راوستل او د مقرراتو پلي کول دي. د ورځنيو چارو په اړه د يو منظم پلان جوړول او پر هغه په پرله پسې توګه عمل کول، له هغو مسايلو څخه دي چې د نظم په راوستلو کې له موږ سره مرسته کوي. د بېلګې په توګه: کله چې ښوونځي ته ځئ، لومړی خپل کالي له الماری څخه را اخلئ او هغه اغوندئ؛ خپلې جرابې له ټاکلي ځای څخه را اخلي او پرېښنو کوئ يې؛ خپل بوټان له پاکولو وروسته په پښو کوئ او د

ښوونځي په لورروانېږئ؛ کله چې له ښوونځي نه د کور په لوري راګرځئ، کتابونه، کالي، بوټونه په خپلو ځایونو کې ږدئ؛ د دغو شیانو په خپلو ټاکلو ځایونو کې ایښودل د نظم په نامه یادېږي. ستاسو په ګاونډ کې کېدای شي داسې کورنۍ وي چې د کور وسایل په خپلو ځانګړو ځایونو کې نه ځای پر ځای کوي. که د هغوی کورته ورننوځئ، نو هېڅ شی به په خپلو ځایونو کې ونه وینئ، د بېلګې په توګه: بوټونه به د الماری په خواکې، کالی به د کور په غولي، او نور ټول شیان به هم په همدې ډول ګډوډ ووینئ.

**په خپلو ډلو کې سره خبرې وکړئ، منظمه کورنۍ له بې نظمې کورنۍ سره پرتله کړئ.**

## کورنی پلان:

هره کورنۍ د دې لپاره چې په کورنۍ کې یې سمون او نظم را منځته شي، خپل ځان ته میاشتنی، او کلنی پلان جوړوي او له خپلوانو، ملګرو، ګاونډیو سره کتنه او د ناروغانو پوښتنه د یو پلان پربنسټ سرته رسوي.لنډه دا چې په هره ټولنه کې سمون او نظم یوه منل شوې او اساسي مسئله ده. د هغې ټولنې غړي چې نظم ولري د دې څواک پیدا کوي چې خپل استعداد وپېژني، خپلې موخې څرګندې او هغو ته د رسېدو لپاره کړنلارې جوړې کړي. د ژوند په ټولو چارو کې پلان لرل موږ خپلو موخوته په آسانۍ رسوي.

### د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱- نظم څه ته وایي؟

۲- نظم څه ګټه لري؟

۳- په ټولنه کې د نظم د ټینګښت اهمیت څه شی دی؟

### کورنۍ دنده

د کورنۍ د پلان په اړه څو کرښې ولیکئ.

# په کورنۍ کې یو بل ته درناوی

په تېر لوست کې مو زده کړل چې نظم ترتیبولو او تنظیمولو، سمون او اطاعت ته وایي. هېرمو نه شي چې په کورنۍ کې د خلکو درناوی کول او متقابل احترام په ټولنه کې د نظم او سمون له عواملو څخه یو عامل ګڼل کېږي. په دې لوست کې به په کورنۍ کې یو بل ته د درناوي په اړه معلومات ترلاسه کړئ

## خبرې پرې وکړئ

* **تاسې په کورنۍ کې څرنګه چلن کوئ؟**
* **أیا پلار، مور او د کورنۍ نورو غړو ته درناوی کوئ؟ تاسې له هغوي څخه څه طمعه لرئ چې له تاسې سره څه ډول چلن وکړي؟**

احترام له هغو کړو وړو او خبرو څخه عبارت دی چې د شي یا شخص د ارزښت او یا شخصیت څرګندوونکی وي.

د اسلام مبارك دین په اخلاقي ښوونو کې د ادب، درناوي ساتنه او د انساني ادابو پلي کول د مسلمان وګړي له مهمو دندو څخه ګڼل کېږي. د درناوي او احترام ساتنه، د یووالي، بشردوستۍ او مینې لامل ګرځي او د ټولنې د وګړو په منځ کې د بغض، کینې او دښمنۍ مخنیوی کوي. نورو ته درناوی د هغوی له لوري موږ ته د درناوي لامل ګرځي. په کورنۍ کې مور، پلار او اولادونه یو بل ته درناوی ولري.

هغه کورنۍ چې غړي یې یو د بل درناوی کوي، ټول په خپلو کې د مینې او درناوي احساس کوي. د داسې کورنۍ غړي چې مؤدب او مهربانه وي، د ټولنې له وګړو سره دوستانه چلن لري. په ټولنه کې د داسې وګړو شتون د دې څرګندونه کوي چې هغوی ښې او بریالۍ کورنۍ لري. پیغمبر ﷺ په دې اړه فرمایلي دي: (**څوک چې لویانو ته درناوی و نکړي او پر کوچنیانو شفقت او مهرباني ونکړي، زموږ له ډلې څخه نه دی**).

* په کورنۍ کې احترام اودرناوی څه ارزښت لري؟

د عقل او پوهې ښښتن تل له خلکو سره په مهربانۍ چلن کوي. حضرت محمد ﷺ له خلکو سره په درناوي او احترام سلوك کاوه، په سلام اچولو کې مخکښ وو، په ورو او مؤدب ډول به یې خبرې

کولې او هر څوک به چې د دوی لېدلوته راتلل، نو د درناوی لپاره به یې درېدلو، او مقام ته به یې درناوی کاوه، هغه به یې په خپل ځای کېښناوه او که د ناستي لپاره به څه شی نه وو، نو خپل څادر به یې ورته غوړاوه ا و خپل بالښت به یې ورته کېښوده. نو موږ ته لازمه ده چې هرچاته د هغه د تقوا، پرهیزگاری او پوهې په نظر کې نیولو سره احترام وکړو او له بی احترامی نه یې ډډه وکړو.

خدای (جَلَّ جَلاَلُه) په قرآن کریم کې فرمایي:( د نورو احترام او درناوی وکړئ، د هېڅ چا سپکاوی مه کوئ، له ملنډې وهلو او استهزا څخه یې ډډه وکړئ. په اشاره، وینا، بدو خبرو څوک مه څوروئ او د چا زړه مه بدوئ. د نورو له عیبونو څخه سترګې پټې کړئ او چاته په هغه نوم چې نه یې خوښېږي، غږ مه کوئ.)

نو له دې امله موږ ته اړینه ده چې هر چاته د هغه د تقوا، پوهې او مقام په پام کې نیولو سره درناوی او له بې احترامی څخه یې ډډه وکړو.

## د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- په اسلامي زده کړو کې د متقابل احترام په اړه څه ویل شوي دي؟

۲- که په کورنۍ کې یو بل ته درناوی نه وي، څه به پېښ شي؟

۳- حضرت محمد ﷺ د خلکو څرنګه درناوی او احترام کاوه؟ بیان یې کړئ.

## کورنۍ دنده

یو بل ته د درناوي په هکله څو کرښې ولیکئ.

# په کورنۍ کې له ځانه تېرېدنه

په تېر لوست کې مو ولوستل چې د اسلام په اخلاقي ښوونو کې د ادب او درناوي ساتنه او د انساني ادابو پلي کول د مسلمان وګړي له اړينو دندو څخه ګڼل کېږي. په هغې کورنۍ کې چې غړي يې يو بل ته درناوی لري، د کورنۍ ټول غړي د شخصيت او هوساينې احساس کوي. د داسې کورنۍ غړي با ادب او مهربان وي.په دغه لوست کې به په کورنۍ کې د سرښندنې او له ځان تېرېدنې په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

## دليل راوړئ

- آيا د کورنۍ غړي يو له بل سره له مرستې او له ځان تېريدنې پرته کولای شي په خپلو ستونزو بريالي شي؟

له خپل حقه تېرېدنه په دې موخه چې نور خپل حق لاس ته راوړي، ځان تېرېدنه يا سرښندنه بلل کېږي. که د کورنۍ د هر يو غړي کړو وړو ته پام وکړئ، نو و به وينئ چې هغوی يوازې د خپلو غوښتنو د پوره کولو په هڅه کې نه دي، بلکې د کورنۍ د ټولو غړو د اړتياوو د پوره کولو لپاره هم هڅه کوي. که د خپل مور او پلار کړو وړو ته پام وکړئ، څرګنده به شي چې هغوی تل د خپلو اولادونو لپاره له ځانه تېرېدنه کوي. د بېلګې په توګه: مور له شپې تر سهاره او ټوله ورځ د خپل ماشوم څارنه او ساتنه کوي ترڅو هغه ته زيان و نه رسېږي، هغه ته شيدې ورکوي او کله چې کوچنی لوی شي، پلارېې هغه په ښوونځي او مدرسې کې شاملوي، کتاب، بکس، کتابچه، درسي او د هوساينې نور وسايل ورته چمتو کوي؛ په لوستونو کې يې ور سره مرسته کوي؛ له خپل کوچني سره د مرستې او څارنې له امله له ډېرو اړيکو څخه تېر شي. که کوچني ته کومه ستونزه پيدا شي، د دغې ستونزې د مخنيوي لپاره ورسره مرسته کوي. که کوچنی په خپلو چارو کې پاتې شي، نو مور او پلارېې د ماتې احساس کوي. که کوچنی په خپلو درسي فعاليتونو کې بريالی شي، نو مور او پلار پرې وياړي او د خوښۍ احساس کوي.

❋ د خپلو ټولګيوالو په مرسته د مور او پلار د ځان تېرېدنې يوه بېلګه خپلو ټولګيوالو ته ولولئ.

سرښندنه د انسان له ښو او لوړو صفتونو څخه بلل کېږي. خلک د هغو انسانانو درناوی کوي چې په بېلابېلو ډولونويې د نورو لپاره سرښندنه کړې وي، هر څومره چې د ځان تېرېدنې او سرښندنې روحيه په يوه کورنۍ او ټولنه کې پياوړې وي، د هغې کورنۍ او ټولنې غړي له هوساينې، آرامۍ يووالي او مينې څخه برخمن وي. له دې امله همدا نن بايد دا پرېکړه وکړو چې په ژوند کې د نورو لپاره له ځان تېرېدنې څخه ډډه ونکړو ترڅو له مينې او محبت نه ډکه ښه کورنۍ او ټولنه ولرو.

### د لوست تکرار

- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱- له ځانه تېرېدنه څه معنا لري؟

۲- د خپل مور او پلار د ځان تېرېدنې څو بېلګې بيان کړئ؟

۳- هر څومره چې په يوه کورنۍ يا ټولنه کې ځان تېرېدنه زياته شي، څه ګټې به ولري؟

### کورنۍ دنده

په کورنۍ کې د ځان تېرېدنې څلور بېلګې لست کړئ او په ټولګي کې يې ولولئ.

## د څېرکي لنډيز

- کله چې انسان نورو ته سترګې پرانيزي، کورنۍ ته اړتيا لري او نشي کولای پرته له کورنۍ او ټولنې څخه لکه چې ښايي، ژوند وکړي.
- د مسؤوليت احساس دې ته وايي، کله چې يو وګړی يو کار پر غاړه واخلي، هغه کار په مينه، او سمه توګه او په خپل وخت سرته ورسوي.
- مور اوتاسې د ښه ژوند تېرولو په موخه بايد خپلو دوستانو او د چاپېريال له پوهو وګړو سره سلا مشوره وکړو او په دې ډول د نورو له فکرونو او اندونو څخه ګټه واخلو.
- احترام او درناوی هغه کړه وړه او ويناوې دي چې د يو چا شخصيت او ارزښت مور ته څرګندوي.
- له خپل حق څخه تېرېدنه په دې موخه چې نور وګړي خپل حق ته ورسېږي، د ځان تېرېدنې په معنا ده.